شهامت

اتم کال پنځمه ګڼه، پرلپسې۴۹ ، ربیع الثاني ۱۴۳۶هق، جنوري ۲۰۱۵ م

- داشغال دتمدید عوامل! افغان او امریکا دریيمې جګړې بریالی لوری...
- دیرغلګرو ځواکونو تر وتلو وروسته جهادي فعالیتونه باید څه ډول تنظی
- له افغانستانه د ناټو وتل، نړیوال یې څنګه ارزوي؟
- دچین منځګړیتوب !
- پرچارلي ایبدو برید او د غرب ناکاره ارادې
- اشرف غنی به دنبال فریب افکار جهانی
- یمن کې دحوثي یاغیانو بری! او دیمن راتلونکی!
- دپاچا عبد الله مړینه! او سعودي.واکمن....

پارلمان!افغانستان! او دوه تابعیته وزیران...!

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

اتم کال پنځمه ګڼه، پرلپسې۲۹ ، ربیع الثاني ۱٤۳٦هق، جنوري ۲۰۱۵ م

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت

دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

شاهد "حقاني " لطیف عزم

حسن " علوي" بلال "وحید"

نعیم " صافی " عابد مجاهد

قاري حبیب

بیه :

یوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰

کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانګه

لړلیك

ګڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه........................	۱
۲	لهافغانستانه د ناټو وتل........................	۲
۳	د یرغلو ځواکونو تر وتلو وروسته جهادی فعالیتونه.....	٦
٤	د چین منځګړتوب........................	۹
۵	د هند او امریکا ددوستی او دښمنۍ قدر مشترک........	۱۲
٦	پرچارلي ایبدو برید او د غرب ناکاره ارادې..............	۱۵
۷	ښاغلي احمد مختار سره ځانګړې مرکه..............	۲۱
۸	د امام مسلم رحمه الله د ژوند مختصر حالات..............	۲۷
۹	دعظیم الشان قرآن حقوق........................	۲۹
۱۰	ګلورینې پاڼې	۳٦
۱۱	د ماشومانو روزنه........................	۳۸
۱۲	د اسلامي تشریع اساسات........................	٤۰
۱۳	د شهید ملا راز محمد خنجر ژوند ته کتنه..............	٤۵
۱٤	د اسلام نړیوال قانون........................	۵۰
۱۵	پارلمان ! افغانستان! او دوه تابعیته وزیران..............	۵۵
۱٦	په اسلامي هیوادو کې د اسلامیت او مغربیت ترمینځ.....	۵۷
۱۷	د فرانسوي مجلې لخوا د اسلام دښمنی بل مردود.........	٦۲
۱۸	په کیلم جم! د هیواد چورولو هوډ په وړاندې د افغان.......	٦٤
۱۹	شاخص های اندازه ګیری انفلاسیون..............	٦٦
۲۰	د پاچا عبدالله مړینه! او سعودي واکمن..............	۷۱
۲۱	اشرف غني به دنبال فریب افکار جهاني..............	۷۳
۲۲	یمن کې د حوثي یاغیانو بری! او د یمن راتلونکې!	۷۵

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

داشغال دتمديد عوامل!

افغان او امريکا دريیمې جګړې بريالى لورى...

دا تمه چې امريکا به په نژدې يا لنډه موده کې خپل عسکرو باسي او روانه صليبي جګړه به پای ته ورسوي ؟ ډېره رښتيا او باوري نه ښکاري ! ځکه دامريکا يانو دوامدارو جنګي مصروفيتونو، راتلونکو سياسي ارادو او تبليغاتي هلو ځلو ته په کتو په دې اړه د کومې سترې خوشبينۍ څرک نه ليدل کېږي.

بلکې برعکس! امريکا د ځينو فرضي او نامرئي عواملو په بهانه او پلمه د صليبي وحشي- اشغال دلا تمديدولو او غځولو انديښنې او ازانګې خوروي!

په لنډه ماضي کې هند ته داوباما د سفر سره هم مهال دامريکا پاليسي جوړونکيو اومحوري چارواکو دغه څرګند ونې : « چې ګواکې د امريکا- افغان په لومړۍ جګړه کې امريکا بريالۍ وه! خو په دويمه جګړه کې له شک پرته امريکا ماتې وخوړه! که مونږ په دريیمه افغان ـ امريکايې جګړه کې ځانونه ښکېلول غوارو، بايد پکې دتېرو جګړو تيروتنې تکرار نکړو!!» يا دا «ممکن امريکا د وضعيت په ځيرلو له افغانستانه د عسکرو ويستلو په پريکړه بيا غور وکړي!» څېر شو جوتوي چې دجګړې دپای ته رسولو په اړه ټولې هېله مندۍ هسې- بې ځايه او تش خوب ليدل دي او څرګندوي چې دافغانستان او سيمې په اړه دامريکايانو راتلونکي عزايم انديښمنوونکي اوهيښوونکي دي!!

هو! امريکا يو لورته له افغانستانه دعسکرو د ويستلو او په جګړه کې دونډې نه لرلو خبرې کوي! خو ددې سره هم مهال په عمل کې په بې وزلو او بې دفاع افغانانو وحشيانه بمباردونه اوډرون بريدونه هم کوي! هره ورځ لسګونه خلک چې زياتره يې ميرمنې او ماشومان دي په شهادت رسوي ! او په جګړه کې د شدت رامنځته کولو په موخه مختلفې پوځي او سياسي حربې کاروي او په افغانستان کې دپوځي اوسياسي شراکت لپاره نوي سيمه ايز پاټنران اوشريکان چمتو کوي!!

دسيمه ايزو چارو کارپوهانو په اند : امريکا ديته په اسانه زړه نه ښه کوي چې دافغانستان په څېر مهم ستراتيژک جهت يې له لاسو نه ووځي!ددې لپاره هغه دنورو جهتونو مندلو ترڅنګ ، د فرضي عواملو او بهانو په رامنځته کولو دخپلو اوږدمهالوګټو پخاطر په منطقه کې دخپل اوږدمهالي نظامي حضورستراتيژې تقويه کوي! او دنويو خطرونو او عواملو په عنوان دسيمې پر هېوادونو فشار وار دوي، څو هغوی يې دستراتيژۍ

وړاندې د مخالف عکس العمل ښودو نه ډډه وکړي اود سرغړونې په صورت کې هغوی ته دخطرناکو عواقبو ګواښونه ور کوي، په دې علاوه دمیډیا په ذریعه نالیدلي عوامل او وهمي خطرونه تشهیروي څو عامه اذهان پرې مرعوب وساتي.

بل ددې ذهنیت په رامنځته کولو سره «چې دافغانستان اسلامي امارت ځینې اشخاص اومجاهدین نویو ډلو ټپلو ته اوښتي چې له امله یې افغانستان او سیمه دبل خطر او یا ګواښه سره مخ کېدونکي ده» غواړي په تبلغاتي ډګر کې د افغانستان اسلامي امارت سره دبل موازي ځواک په یادولو دهېواددننه یې په سیاسي او جهادي کردار سیوری راولي! چې افغانستان کې مجاهدین یوصف ندي،که اسلامي امارت سیمې ته ګواښ یاخطر نه دی، خو هلته نور عوامل هم شته چې هغوی نه تنها دمنطقې لپاره درد سر دي بلکې دټولې نړۍ لپاره جدي خطر دی!!

حال دا چې په دې هر څوک پوهیږي چې په نړۍ او سیمه کې سوله اوامن دچا له لاسه غارت شوي ؟ او چا دخپلو اغراضو لپاره ټوله نړۍ داورونو او مرګونو په خوله کې ترلې ؟

چا چې د تروزیزم په پلمه په افغان مظلوم ولس ناروا صلیبي جنګ تپلی، تروزیزم دهم هغه زېږنده دی! دهم هغه له لاسه نن ورځ نړۍ د دولتي اوریاستي تروریزم ښکارده! په خاصه تو ګه زمونږ ګران هېواد چې د تیرو دیارلس کلو نو راهیسي دامریکا په مستقیم یرغل په وجه دوامدا ر ددولتي تروریزم ښکاردی! چې له امله یې نه یواځې افغانان بلکې دسیمې ګاونډي ولسونه یې هم له بوږنوونکو ګواښونو سره مواجه کړیدي.

پاتې شوه دا خبره چې افغانان دامریکا په وړاندې مقاومت او په جنګ لګیا دي، دامریکا یې ښکېلاک استعماري پالیسي ننګوي؟ښکاره ده چې امریکا دافغانانو وطن په زوره اشغال کړی دی، دافغانانو په شتمنیو او وسائلو یې خیټه اچولې،دروانو ټولو بدمرغیو عامله په حقیقت کې امریکا ده، نن یوزلمی افغان چې په ځان پوري بم تړي او ځي دامریکا یانو اونورو ګوډاګیانو په منځ کې ځان الوزوي ؟ هغه څه شي اړکړی دی ؟ هغه ولې داکار کوي ؟ ځکه چې افغانان پخپل هېواد کې د غلامانو نه هم دبد حالت سره مخ دي او ورسره دانصاف په ځای ظلم کیږي او له ازادي نه محروم دي.

امریکا په دې بهانه روانه کړې لوبه پای ته نه رسوي ، بلکې دنور و جنګي لوبغاړو په لټون بوخته ده، غواړي دهغو په ملتیا نور وحشتونه او دهشتونه خواره کړي ،چې دې لړ کې نوی قوي لوبغاړی هندوستان هېواد دی، چاته چې امریکا په ا فغانستان کې دلوبیدلو نوي هوکړه او ژمنه کړیده!

ځرګنده خبره ده چې دغسي ناوړه ارادې به جګړه ځپلی افغانستان ته نه جبرانېدونکي زیانونه پیښ کړي او خلک به یې دناو رینونو او بدمرغیو په یو بل ګرداب کیوزي او ورسره به دافغانستان دازادۍ هغه نیمه هیلې او ارزوګانې چې په دا وروستیو کې دامریکا او ناټو دوتلو تر اعلان وروسته پیدا شوي ټکان وخوري!.

لیکن امریکا یان دې په دې پوښي، که هغه دخپل ظالمانه اشغال د تمدید او غځولو لپاره هر څومره فرضي عوامل او نوي مسایل وړاندې کړې، هغه دافغان مجاهد ولس لپاره قناعت ببښونکي نه دي، اوبل دامریکا په وړاندې دافغان ولس دجهادي قربانیو ممثل (اسلامي امارت) دافغان ولس له منځه پیاوړی پاڅون دی، چې په ولس کې ژورې علمي، سیاسي، جهادي او کلتوري ریښې لري،څه له بیرونه تحمیل شوی غورنګ ندی ،په هر صورت دنویو فرضي عواملو په پلمه دجګړې غځول به دامریکا له تندي نه دشکست داغ محوه نکړي او که خدای کول د دویمې افغان ـــ او امریکا جګړې پشان به ددرییمې افغان ـــ امریکا جګړې بریالی لوری دافغانستان ولس او اسلامي امارت وي او دوئ به همداسې شرمنده اوناکام وي څنګه چې نن دي...

له افغانستانه د ناټو وتل

نړیوال یې څنګه ارزوي؟

قاري حبیب

د ۲۰۱۴م کال د وروستۍ میاشتې دسمبر په ۲۸ نیټه په کابل کې د ناټو اتحاد قواوو آیساف خپل بیرغ د پوځي ماموریت او جګړې د پای ته رسولو د نښې په حیث راکوز کړ، ویل کیږي چې دغه مراسم چې تر وروستۍ نیټې پټ ساتل شوي و، د کابل ښار په یوه مخفي او په شدت څارل کیدونکي ساحه کې په یوه ورزشي صالون کې جوړ شوي و، دمراسمو په اړه ویل کیږي چې ددود خلاف لنډ او مختصر و او د مجاهدینو د بریدونو له ډاره یې محل له وړاندې نه و افشا شوی چې له همدې امله په کې د رسنیو استازو هم ګډون نه و کړی.

د آیساف د قواوو امریکایي مشر جنرال کمپ بل چې ددې مراسمو مشري یې په غاړه وه وویل چې د ناټو قواوو په افغانستان کې خپل مسؤلیتونه په سمه توګه سرته رسولي ده وویل د ناټو پوځي ماموریت بریالی و، افغانان له تیارې نه رڼا ته راوتلي ، په همدې ورځ د امریکا ولسمشر بارک اوباما د امریکا له هاوایي ایالت څخه په خپله کلنۍ وینا کې اعلان وکړ چې امریکا د خپل تاریخ تر ټولو اوږد جنګ پای ته رسولی .

په افغانستان د غربیانو په یرغل کې کلیدي رول د امریکایي پوځ وخو ورسره د ایساف تر نامه لاندې د ناټو د ټولو غړو هیوادونو زرګونه پوځیان هم ملګري و،همدا اوس د ناټو تر سرپرستۍ لاندې د ایساف په نامه ځواکونو خپل پوځي ماموریت پای ته رسیدلی اعلان کړی،له امریکا پرته په ایساف کې د ګډونوالو نږدې ټولو هیوادونو جنګي عسکر له افغانستانه وتلي دي او کم شمیر پاتې یې شاید په نږدې راتلونکي کې ووځي، امریکایي عسکر چې لا یې هم تر لسو زرو ډیر عسکر په افغانستان کې پاتې دي پخوا ویل کیدل چې شاید امریکایان د دایمي اډو تر نامه لاندې مراکز تر کلون کلونو وساتي، خو د سپیني ماڼۍ چارواکو په دې وروستیو کې ویلي چې دوی به د خپل پلان له مخې د ۲۰۱۶م کال تر پایه د امریکایي سفارت له ساتونکو پوځیانو پرته نور ټول پوځیان له افغانستانه وباسي.

وروستیو جریاناتو په کتلو سره کولای شو ووایو چې د ناټو ترمشرۍ لاندې ځواکونه او امریکایان نور دې نتیجې ته رسیدلي چې په افغانستان کې پوځي شتون ته دوام نه شي ورکولای،ناټو په بالفعله توګه د خپلو ځواکونو په یومخیز ایستلو لګیاده اوامریکایان چې ډیری عسکر یې ایستلي وایي چې تر راتلونکو دوو کلونو پورې به خپل ټول عسکر له افغانستانه وباسي .

دلته پوښتنه داده چې له افغانستانه د غربي ځواکونو ستیندلو ته له دریمګړي انده کوم نوم ورکولای شو، د

آیساف د بیرغ د راکوزیدو په ورځ امریکایي ولسمشر د افغانستانه جګړه بریالۍ وبلله او په دې ډول یې اشارتا وویل چې ددوی ځواکونه په شکست نه بلکې د بریا له ویاړ سره خپلو هیوادونو ته ستنیږي .

خو په همدې ورځ د مجاهدینو ویاند په خپل غبرګون کې وویل : په اوسنۍ بې موازنې جنګ کې د امریکایانو ترڅنګ د اشغالګرو شریکانو او د آیساف اوناټو په ګډون نړیوالو متکبرو سازمانونو خورا ښکاره ماتې وخوړه، په لسهاوو زره عسکر یې مړه او ژوبل شول، په میلیاردونو ډالر یې مصرف شوې، ملتونه یې وزبیښل شول، په خپلو هیوادونو کې له اقتصادي ناورین حتی رکود سره مخ شول، جنګي جنرالان یې پرلپسې ناکام شول، او په نړیواله سطحه یې ځواک او دبدبه له منځه لاړه.

په دې لیکنه کې به د ناټو د تیښتې په اړه د یوشمیر نړیوالو رسنیو او صاحب نظرانو نظریات او غبرګونونه درسره شریک کړو، ترڅو دې نتیجې ته ورسیږو چې په نړیوال قضاوت کې د ناټو ددغه ماموریت اختتام ته په کوم نظر کتل کیږي .

په کابل کې د ستراتیژیکو او منطقوي مطالعاتو مرکز یا CSRS له افغانستانه د ناټو تیښتې ته د کوچنی نړیوال جنګ د پای ته رسیدو نوم ورکړی دی ، دې مرکز په خپل اونیز تحلیل کې لیکلي دي: ناټو رسما دهغه جنګ پای اعلان کړ چې شاوخوا د پنځوس هیوادونو پوځیان په کې ښکیل وو، د ناټو ددې ماموریت د پای په اړه ددې سازمان مشر ینس اشتولتنبرګ وویل چې ناټو په افغانستان کې خپل اهداف ترلاسه کړي نور دده په خبره ترهګر نه شي کولای په دې هیواد کې د پټې ځای یا د اوسیدو مجال ولري. خو د کتونکو به باور دناټو د سرمنشي خبره ځکه بې اساسه ده چې په افغانستان کې طالبان ضعیف شوي نه بلکې تر هرکله ډیر قوي شوي دي که چیرې د ناټو د سرمنشي خبره سمه وي او طالبان له منځه تللي وي نو بیا ولې دا سازمان اړ شو چې خپل وروستني مراسم په پټه او د ډار او ویرې په فضاء کې ترسره کړي .

د ستراتیژیکو مطالعاتو د مرکز تحلیل وایي چې ناټو هم په افغانستان کې د شوروي غوندې شکست خوړلی ، ددې مرکز د تحلیل له مخې د کابل له رژیم سره د امریکا وروستي توافقات او امنیتي قرارداد د روسانو د ژنیو د پروسې غوندې یوه غولوونکې هڅه ده چې غواړي تر دې پوښ لاندې خپل دشکست شرم پټ کړي .

د برتانیې چاپ فایننشل تایمز ورځپاڼې د ناټو او امریکایي عسکرو دتیښتې په اړه د نیویارک پوهنتون د یوه محقق رایان ادواردز نظر رااخیستی چې وایي : زیاتره

امریکـایي نظامیـان او د پـوځي چـارو پوهـان د امریکـا حکومـت د افغانسـتان د جګـړې بـایلونکی ګڼـی چـې دا د امریکا دتاریخ یوه حساسه مسئله ده.

نوموړي ویلي چې په نظامي شکست سربیره امریکا د افغانستان په جګړه کې تر یو ټریلیون ډالره ډیرې پیسې لګولې دي چې زیاتره بیځایه تللې او امریکا ترې کومه ګټه نـه ده ترلاسـه کـړې ،نومـوړی وایـي دافغانسـتان دجګـړې لپـاره امریکـایي حکومـت پـه ملیـاردونو پیسـې قـرض اخیسـتي چـې پـه دې لـړ کـې تـر ۲۶۰ ملیـون ډالـرو ډیـرې پیسې د قرضو په سود تللي دي .

د ایران چاپ مشـهورې ورځپـاڼې اطلاعـات د ناټو د تیښتې په اړه خپل ځانګړې تحلیل تـه عنوان ټـاکلی (پـه افغانستان بې فایدې برید) د ورځپـاڼې تحلیـل وایـي دناټو لښکرې په داسې حال کې له افغانستان ښې سپکوي چې دفتحې او بریا د خوښۍ په ځای یې پـه ځیـرو د پښـیماني او ستړیا ښې تر سترګو کیږي ، د ورځپـاڼې پـه بـاور امریکا له داسې جنګ څخه په شا کیږي چې لـه امریکـایي مالیـه ورکوونکو یې یو ټریلیون او سل ملیارده ډالر خوړلي خو په مقابـل کـې یـې دې هیـواد تـه هـیڅ لاسـته راوړنـه نـه ده درلـودلې، ورځپـاڼې پـه خپـل اوږد تحلیـل کـې ویلـي چـې طالبان په خورا ساده او خودساخته بمونو واتوانیـدل چـې دامریکا مجهز پوځ ته په جګړه کې شکست ورکړي .

د کابل چاپ ورځپاڼې چې تردې ښخوایـي د امریکـا د بریالیتوب نغارې وهلې اوس چې امریکا تښتي دې اعتراف ته مجبورې شوي دي چې دامریکایانو غوندې دوی هم تـر یوه حده حقائق ومني .

د هشت صبح په نامه ورځپاڼې لیکلي دي چې د ناټو ماموریت کوم د پام وړ لاسته راوړنه نلري، ځکـه دوی تـر یوه ټریلیون ډیرې پیسې مصرف کړې خـو طالبـانو تـه یـې شکست ورنکړای شو، طالبان اوس هم د واکمن رژیم پـه وړاندې ستراتیژیک خطر حسابیږي .

د اطلاعـات روز پـه نامـه ورځپـاڼې پـه دې اړه خپلـې اوږدې مقالې تـه عنـوان ټـاکلی (د نـاټو لخـوا د یـوه سـتړي کوونکي او پُرمصرفه جنګ نیمګړې پرېښودل) ورځپاڼه وایي چې کـه د نـاټو ماموریـت پـه سیاسـي او پـوځي دواړو برخو کې شکست خوړلی .

د عبدالشهید ثاقب پـه نـوم د چارو یـوه تحلیـل ګـر د امریکایي پوځ د شاګرځ په اړه پـه خپـل تحلیـل کـې لیکلـي دي، چې دافغانستان دجګړې په پیل کې هیچا دا تصور نه کاوو چې امریکایي پوځ به پـه افغانسـتان کـې داسـې ښکاره شکسـت خـوري، نومـوړي لیکلـي : د خلـیج پـه لـومړني جنګ کې د عراقي پوځ د ټولـو برحالـه او احتیـاط سـرتیرو شـمیر یـو میلیـون او دوه سـوه زرو تنـو تـه رسـیده ۳۸۵۰ توپونه ۵۸۰۰ ټانګونه ۵۱۰۰ زرهي موټر دغـه راز پـه زهـري ګـاز او نـورو مـدرنو وسلو سـربیره یـې نفتـي ډالـر او پـراخ تدارکاتي منابع هم پـه ولکـه کـې وو خـو کلـه چـې ورباندې امریکایي پوځ حمله وکړه پـه څلورو ورځو کـې یـې د صـدام ټول قوت له پښو غورځاوو او سخت شکست یـې ورکـړ ، دا چـې امریکایـان ځانونـه د غـرب د دوه نـیم زره کلـن تمـدن وارثان او د شرق د ټولو جګړو ګټونکي بـولي هیچـا فکـر نـه کاوو چې په افغانستان کې بـه دوی لـه ناکـامي سـره مخـامخ شي، مګر نن دادی موږ وینو چې دامریکایي پوځ پـه وړاندې طالبان شکست ناپذیر ثابت شول او امریکـایي لښـکرې لـه بریا پرته د جګړې میدان پرېږدي .

د ناټو دتیښتې پـه اړه چـې تراوسـه پـه مطبوعـاتو کـې کومې څیړنې راغلې نږدې ټول په دې اتفاق لـري چـې نـاټو په افغانستان کې شکسـت خـوړلی نوځکـه یـې لښـکرو تـه د ښاګرځ امر ورکړی.

دیرغلګرو ځواکونو تر وتلو وروسته جهادي فعالیتونه باید څه ډول تنظیم شي؟

شاهد(غزنیوال)

اوس چې مو د لوي الله جل جلاله په نصرت او د خپل مقدس ۱۳ کلن جهاد د سربښندنو په برکت له ویاړلي هیواد څخه د خارجي یرغلګرو د پرشاتګ لړۍ پیل او د هیواد ډیرۍ سیمې د هغوي له ملوث شتون څخه تصفیه شوې مجاهدین باید د هیواد د تصفیه شویو سیمو د امنیت د تأمین او په هغو کې د خپل توان په کچه د اداري ارګانونو او تشکیلاتو فعالولو لپاره او همداراز د تخلیه شویو سیمو د بیارغولو لپاره کار وکړي؛ ځکه د هیواد اوسنی وضعیت له هغه سره ډیر توپیر لري کوم چې د اشغالګرو ځواکونو د موجودیت پرمهال وه.

له همدې امله اړینه ده چې مجاهدین خپل راتلونکي پروګرامونه د ورځنیو شرائطو او د ټولنې د غوښتنو مطابق عیار کړي . په جهادي فعالیتونو کې دغه بدلون او تغیر له دې امله ضروري دی ترڅو ولس و پوهیږي چې مجاهدین یواځې د جګړې اتلان نه، بلکې د سولې او ثبات په مهال د امنیت ټینګولو او په مختلفو برخوکې د بیارغولو وړتیا هم لري.

مجاهدین باید په خپلو راتلونکو پراګرامونو کې لاندې ابتکارات په پام کې ولري :

په تخلیه شویو سیمو کې باید مجاهدین د جهادي فعالیتونو ترڅنګ د ټولنیزو فعالیتونو او بیارغونې پروګرامونو ته ډیره توجه وکړي تر څو ولس پر دې وپوهیږي چې د بهرنیانو تر وتلو وروسته مو هیواد نور د جګړې پر ځای په تدریجي توګه د امنیت او بیارغونې پرلوري روان دی. مجاهدین باید نور د دغه ډول ابتکاري فعالیتونو په پرمخ بیولو کې سیمه ییز

مخور ، علماء او قومي مشران سهيم او ډير مسؤليتونه د هغوی پرغاړه ور واچوي.

ځکه د اشغال د وخت بيړني پوځي وضعيت اوس بلکل تغير کړی ، د خارجي ځواکونو لخوا د مقاومت د جهادي او اداري چارواکو د بنديانولو ، بمبارولو او له منځه وړلو خطر کم شوی ، نوبايد د هرې سيمې په اداره او کنترول کې د هغې سيمې محلي مشران برخه واخلي او هغه مشکلات چې د امنيت د ګډوډولو باعث ګرځي د همدې منطقوي مشرانو د نفوذ او قومي وجاهت په وسيله له منځه يوړل شي.

د بيلګې په ډول د اربکيو ستونزه چې د خارجي ځواکونو يوه تر ټولو خطر ناکه توطيه او د هغوی پاتې شونې ده په هيڅ صورت د هغې حل له پوځي لارې ممکن نه دی ، بايد د دا خطرناکه دسيسه او مشکل د سيمه ييزو مشرانو او د هغوي د قومي ترونونو په وسيله حل کړای شي.

که اوس هم مجاهدين غواړي اربکيان د تير په څيرله پوځي لارې نابود کړي دا په حقيقت کې د هغوی ستره اشتباه او په لوی لاس د دښمن د تخريبي پلان کامیابول دي.

همدا راز له اربکيانو پرته چې اوس د امريکايانو په لمسون د مرګ تيمونه او يا نورې غير مسؤلې وسله والې ډلې راپورته کيږي ، بايد مجاهدين دغه ټول خارجي دسائس د يوه منظم پلان له مخې د سيمه ييزو منورينو ، علماوو او د سيمو د کليوالي ترونونو په وسيله شنډ او نابود کړي، نه دا چې له هغوي سره پوځي برخورد وکړي او له دې لارې د کورنۍ جګړې سلسله پيل شي او پراخه شي.

په هغو سيمو کې چې د هلمند ، فراه په څير پراخې دښتې لري او مجاهدينو ته هغه دښتې د خارجي يرغلګرو د ګرځيدو راګرځيدو په خاطر ماين کاري کړې وي نور بايد په دغه ډول سيمو کې د ماين کاري تکتيک ته تغير ورکړل شي ؛ ځکه داخلي ګوډاګيان نه دومره وسائل او نه هم دومره توان لري چې د بهرنيو يرغلګرو په څير په همدغو پراخو دښتو کې روز مره تګ راتګ وکړي .

همداراز مځکې چې به په هرولايت کې د خارجي ځواکونو د پوځي نقليه وسائطو او د هغوي د پلي ځواکونو د عبور او مرور امکانات زيات وه نو مجاهدينو به د هغوي د ښکار کولو په غرض د لويو لارو او سرکونو په غاړو د نقليه وسائطو ضد ماينونه خښول ، اوس چې خارجي ځواکونه هيڅ شتون نه لري نو بايد حتی الامکان په لويو لارو کې د ماينونو خښول بند کړل شي ؛ ځکه د داخلي ګوډاګيانو پوځي ځواک په هماغه اندازه نه دی چې مجاهدين يې د چريکي بريدونو په وسيله مقابله ونکړای شي.

که له همدغو ځواکونو سره د مقابلې او يا پرهغوی د بريد کولو ضرورت پيدا کيږي نو هغه د سپکو وسلو په زريعه هم کيدلای شي پرته له دې چې د هغوي د له منځه وړلو لپاره اوس هم له ماينونو کار واخيستل شي.

همدا راز مجاهدين بايد داستشهادي عملياتو په تکتيک کې ژور بدلون راولي او هغه په دې توګه چې دغه ډول عمليات يواځې په هغو پوځي مراکزو متمرکز

کړي چيرته چې بهرني اشغالګر د پوځي مشاورينو او پوځي روزونکو په نوم شتون ولري .

د دې تاکتيک غوره کول به دا ګټه وکړي چې له يوې خوابه خارجي اشغالګر دا حس کړي چې دوی په همدغو خوندي مراکزو کې هم خوندي نه دي او له بلې خوا به د دغو عملياتو په تر سره کيدو کې د احتمالي ولسي وګړو د تلفاتو مخنيوی وشي. داخلي ګوډاګيان که هرڅومره مهم او ډير وي د دې ارزښت نه لري چې د استشهادي اتلانو د سر په قيمت له منځه ولاړشي .

همدا راز بايد مجاهدين په مجموع کې د ګوډاګي اداري له ځواکونوسره د پوځي فعاليتونو په کيفيت کې مثبت بدلون راولي ، حتی الامکان بايد کوښښ وشي چې د هغوی د وژلو پرځای د هغوی د تسليمولو او پخلا کولو کوښښ وشي .

له افغانستان څخه د شوري ځواکونو د وتلو پرمهال هغوی ويل چې مونږ ترشا داسې ځواک پری ايښی چې تر څوکلونو پوري به له افغانانو سره جنګيږي ، دروسانو دغه ځواک د هغوي پرسونل ضد ماينونه ول چې د افغانستان په مسکوني او زراعتي ساحوکې يې خښ کړي ول.

اوس چې امريکايان او نور يرغلګر له افغانستانه پرشاکيږي هغوی هم د شوريانو په څير همداسې ماينونه تر شاپري ايښې چې تر ډيرو به افغاني ساحه وربانديې نا ارامه وي ، دغه امريکايي ماينونه اربکيان ، او داخلي ځواکونه دي چې د امريکايانو په نيابت به د هغوي د اهدافو لپاره په افغانستان کې جنګيږي .

دا د امريکايانو او ټولو خارجيانو هغه خطر ناکه پروژه ده چې غواړي د خپلو ۴۰۰۰ وژل شويو عسکرو دوژل کيدو غچ د همدې پروژې په وسيله له افغانانو واخلي .

د امريکايانو د دغې فتنه ګرې پروژې ناکامي او شنډول يواځې دلته د جګړې په سقوط کې ممکن دی او جګړه په داسې ډول ختميږي چې مجاهدين د خپلو جهادي فعاليتونو په ترڅ کې د بيا رغونې ، تعليم اوتربيې او ولس ته په ادري فعاليتونو کې مشارکت او مساهمت ورکړي.

د تخليه شويو مناطقو د اداري لپاره بايد د خپلو امکاناتو مطابق منظم اداري ، عمراني تعليمي او تربيتي پروګرامونه پيل او د دولتي قواوو او اربکيانو د له منځه وړلو پرځای د هغوي د تسليمي او قانع کولو هڅه وشي.

د تيرو تجربو او تاريخي واقعيتونو له مخې افغانان د خارجي اشغال په وړاندې د فوق العاده حساسيت په لرلوسره له خارجي يرغلګروسره د مقابلې او مبارزې ښه روحيه لري ، خو کله چې خارجي اشغال له منځه ځي او د ټوپک خوله يي د خپل افغان په لوري را اوړي بيا يې هماغه د هيواد د دفاع مقدسه جګړه د داخلي جګړې رنګ خپلوي او ټول هغه افتخارت او وياړونه چې له اشغالګروسره يې د جهاد پرمهال ترلاسه کړي وي په همدې داخلي جګړې کې بيرته له لاسه ورکوي ، چې د شوري ځواکونو تر وتلو په افغانستان کې د تنظمي جګړو ناخوالې د دغه حقيقت ژوندی بيلګې دي.

د چـــين منګـــګړيتوب

عبيد ـ تنوير

د افغانستان په موضوع کې دچين ورستی دلچسپي ، چې نوموړی هيواد غواړي ان دکابل او طالبانو ترمنځ ثالثي او منځګړيتوب وکړي ، درسنيو اوسياسي حلقو ترمنځ يوه توده اودبحث وړ موضوع ګرځيدلې ده .

چين ته داشرف غني له سفر ورسته چې دتيرکال دنوامبر په مياشت کې ترسره شو ، دچين دبهرنيو چارو وزارت اعلان وکړ چې هيواد ته يې له قطر څخه دطالبانو يوپلاوي هم سفر کړی او له هغوسره يې دافغانستان په موضوع اودسولې په لارو چارو خبرې کړي.

طالبانوهم څه موده ورسته ديوې اعلاميې په ترڅ ومنله چې چين ته يې پلاوي سفر کړی ، خوداچې په سفرکې دې دکابل اوطالبانو ترمنځ دخبرو دزمينه سازی اوپه دې برخه کې دچين دمنځګړيتوب ترحده رسيدلې وي ، داعلاميې په خبره دغسې کوم توافق نه ترسره شوی او نه يې هم په اوسنيو شرايطو کې امکانات شونې برېښي.

داچې طالبان دچين دمنځګړيتوب په باب ولې ناباوره او عملي يې نه بولي ، په هغه به ورسته بحث وکړو، ولې مهمه پوښتنه دلته داده چې هغه کوم عوامل او وجوهات دي ، چې نوموړی هيواد دافغانستان په روانو حساسو شرايطو کې ديوه داسې مهم رول لوبولو ته متې بډ وهلي چې لدې وړاندې ترې ددغه ډول ګام اخيستلو توقع نه کيده ، ځکه دافغانستان په باب دچين سياست تل مبهم ، مغلق او بې پرې پاتې شوی.

په هرصورت ، چين دافغانستان يوداسې ګاونډی هيواد دی ، چې څه دپاسه ، ۷۶ کلومتره مربع ګډ سرحدسره لري ، داسې سرحد چې ټول په غرونو اوتل په واورو اويخ پوښلی وي ، دافغانستان اوچين ترمنځ دتاريخ په اوږدو کې حسنه روابط پاتې شوي ، تردې چې کله په افغانستان سره ښکيلاک يرغل راوړ، چين دافغانانو لورته ودريد او د افغان مجاهدينو مرسته يې وکړه .

دغه ډول ویل کیږي چې چین له امریکایي یرغل سره هم په ټوله معنا نه وو موافق ، امریکایانو زیاتې هلې ځلې وکړي چې چین په پوځي میدان کې له ځان سره مصروف کړي او دافغانستان په جګړې کې چینایي عسکر هم برخه واخلي ، خو چین په افغانستان کې په خپل بې پرې سیاست ټینګار وکړاوهرډول پوځي بوختیایې رد کړه .

ددې ترڅنګ چین په افغانستان کې دامریکاله اوږد مهالي شتون اوپه خاص ډول د پوځي اډو په جوړیدوهم لکه دنورو ګاونډیو هیوادونو په څیراعتراض لري اودسیمي لپاره یې بې ګټي اوحتی مضري بولي.

خو چین داسې هم نده چې دتیرو ۱۴ کلونو په اوږدو کې یې صرف تنداره کړي او په افغانستان کې یې کوم رول ندی درلودلی ، چین دامریکا، غرب او ناټو برخلاف چې هغوئ مهلکه جګړه پرمخ بووله او خپلې لښکرې یې پکې خاورې کولې او هم یې دپرمختللي اقتصاد ډانچه ویلي کوله ، چین په ډیرمهارت په دغه میدان کې دخپل تجارت ، صنعت اوفني خواک اسونه خغلول اودچاخبره زیرمي یې کولې .

چین دافغانستان ترټولو دقیمتي پروژې (دلوګر مس عینک معدن) داستخراج اوهم دافغانستان په شمال کې دامو دبرخي دګازو او تیلو دپلټنې قراردادونه چې ټاکل شوي ، نوموړی هیواد پرې لسګونه میلونه ډالر ولګوي لاسلیک کړي دي .

په هغو سربیره ، چین هرکال په افغانستان کې د۲ ملیارده ډالروپه لګښت چې دکابل رژیم دټول کال نیمایي بودیجه ترې جوړیږي ، په بیلابیلو برخو کې یې سرمایه ګزاري کړي اوکوي یی اوورځ تربلې ورته وده ورکوي .

لدې علاوه ، چین غواړي اسیااو اروپاته دوریښمو تاریخي لار چې تجارت یې چین ته د۲۱ قرن داقتصاد ډانچه ښکاري اوپه دغه لار کې افغانستان حیاتي اهمیت لري، بیا احیا او ژوندي وګرځوي.

دا اودیته ورته نورې ګڼي اقتصادي پروژې دي چې چین یې په افغانستان اویاد افغانستان له لارې پرمخ بیول او پلي کول غواړي اوداپه هغه صورت کې شونتیالري، چې په افغانستان کې امنیت اوثبات حاکم وي او یوه مستحکمه اداره په کابل کې موجوده وي .

چین پوهیږي او دافغانستان په اړه کافي مطالعه اوتجربه لري ، چې دافغانستان په ثبات او استحکام کې طالبان خومره اهمیت او ارزښت لري ، چین تنها دلوګر دمیس عینک په پروژه چې نیږدې لس کاله یې په قرارداد تیرشوي اوپه میلونو ډالر ترینه دکابل غلو او دارمارو چارواکوو په دې پلمه ووهل چې دوی به دنوموړي پروژې امنیت خوندي کوي ، خو داچې دنوموړي معدن ګردچاپیرې سیمي ټولې دطالبانو په ولکه او دهغو دنفوذ په ساحه کې راځي کار یې همداسې په ټپه اوخای پرخای ولاړ دی اودامنیتي ملحوظاتو له وجې چینایی کمپنی بنیادي فعالیت نشي کولای .

له همدې امله ویلای شو چې که چین په افغانستان کې دامن اوثبات لپاره عملي هلې ځلې ونکړي ، نودچین ټولې اقتصادي پروژې له نیمګړتیاواو سقوط سره مخ کیدای شي.

داچې طالبان ولې په اوسنیو شرایطو کې دچین منځګړیتوب مفید اوعملي نه بولي اودچین په خیر په یو داسې قوت چې اوس په اقتصادي میدان

کې دنړۍ سپرپاور دی ، ثالثي ته یې زړه نه ښه کوي اویاپړې قانع ندي ، ښایي هغوی ورته خپل دلایل او توجیهات ولري.

ولې زما په اند کوم شی چې اوس ډیرواضح او ښکاره دی ، هغه دادي چې که امریکا اوناټو په افغانستان کې دخپل جنګي ماموریت ختمیدا ته هرنوم اوبرغولی ړدی ، هغه دوئ پوري اړه لري ، خو طالبان اوقاطع عام ذهنیت تپول دامني اوپرې باوري دي ، چې امریکا اوناټو نور دطالبانو په مقابل کې تاریخي شکست خوړلی او بیا شوني نده چې امریکایي عسکر دطالبانو په وړاندې مخامخ جګړې ته راشي ، په عین حال په کابل کې موجود رژیم هم چې تردو غوړونو پورې له فساد ځخه ډک او په سرکې یې معلوم الحاله مفسد باندونه قرار لري ، طالبان ځان پرې غښتلي او په ولس کې دمحبوبیت کچه ترې لوړه بولي.

طالبانو په کراتو داخبره هم کړي چې دکابل رژیم هیڅ ډول صلاحیت نلري چې ورسره تفاهم وشي او کړي ژمنې عملي کړای شي ، ځکه اوس هم دنوموړي اداري ورې اولوي تاکني امریکایان کوي او دسیاست بنستونه یې هغوئ طرحه اوډیزاینوي ، نوکه فرضاً چین دطالبانو اوکابل ترمنځ ثالثي کوي ایا ددې خبرې تضمین ورکولای شي ، چې امریکایان به هغه ومني او درناوی به یې وکړي؟

ددې ترڅنګ دطالبانو یو مهم شرط اوټینګار همیشه داراغلی چې دامریکایانو له هیڅ ورې او لویې پوځي اډې سره موافقه نلري ، نه پوهیږو چې چین په دې برخه کې څومره ډاډ لري او که په ډانګ پیلې توګه ووایو څومره تضمین وړاندې کولای شي ؟

که چین په دغسې یوقوي اوډاډمن حالت اوموقف کې وي او له امریکایانو ځخه اطمنان ولري ، نوبیا که دمنځګړیتوب میدان ته راووځي ، ښایي هڅې به یې مفیدې او کیدای شي دطالبانو توجه هم ځانته جلب کړي.

پاتې شوه داشرف غني دولت ، هغه خو افغانانو ته دکرزي له اداري هم کمزوري بریښي ، چې لند مثال یې دهغه کابینه ده ، چې دڅلورو میاشتو چنواولالهاندیو باوجودهم یې هم دومره صلاحیت اواهلیت پیدانکړ چې خپلې اداري ته کابینه جوړه کړي ، یوځوک چې دکابیني په جوړښت کې له دومره تزلزل او بې کفایتی سره مخ وي ، نو هغه به چین غوندي یو هیواد ته څه ډول ډاډ اوباور ورکړي؟

دهند او امریکا د دوستۍ

او دښمنۍ قدر مشترک...؟

بشیر

دا توقع لــه ورانــدې وه چــې دامریکــا ولسمشــر (اوبامــا) بــه خامخــا دهنــد د جمهوریــت ورځــې لمــانځنې پــه مراســمو کــې ګــډون کــوي! هــم داســې وشــول هغــه او میرمنې یې د یو لوړرتبه وفد په ملتیا کې هند ته سفر وکړ او هلتــه یې په نوي ډیلي کې دهندي حکومــت پــه ځانګړو مراسمو کې برخه واخسته!

دراپورســم تــورمخي اوبامــا دخپــل ســفر پرمهــال پرهنــدوانو دلورینو او پیروزینــو قــوي بــاران وکــړ! او ور ســره د ځو مهمو هو کړو په کولو سلاشو او دا جوته شوه چې رښــتیا "الکفــر ملــةٌ واحــده"!! هند تــه د معاصرې پرمتللې اتومي تیکنالوجۍ په برخه کې دمرستو لــه هــو کړې ســربیره دملګــرو ملتونــو پــه امنیت شوری کې یې هم هند تــه د دایمي غړیتوب ورکولو نــه پــه جار خپل ملاتړ اعلان کړ! او ددینه علاوه یې ورســره د ډرون الوتکو او سلو جوړولو هوکړه هم امضاء کړه!

پــه نوي ډیلــي کــې اوبامــا لــه نرینــدرا مــودي ســره یو ځــای خبــري غونــډې تــه ویــل: هندوســتان دامریکــا ښــه ملګــری دی! او دواړه هېوادونه لــه یوبل سره همکارۍ او کــا ر کولــو تــه لیــوال دي، اعــلان یې وکړ چې پــه راتلونکي کې به هند د نړیوال امنیت په چارو کې د مخکښ رول لرلــو ځښــتن وي! هغــه دســوداګرۍ پــه برخــه کــې دهنــد د وروســتیو پرمختګونــو تــه پــه اشــاره ویــل چــې دا د هنــد دترقــۍ او پیاوړتیا په لوري مهم ګام دی.

اوباما دا یادونه هم وکړه چې امریکــا او هندوســتان دوه لــوی دیمکراتیک هېوادونه او دیو بل مهم اتحادیان دي، او پــه ښکاره یې دهند داتــومي تیکنــالوجۍ ظرفیــت د لوړولو نه خپل ملاتړ په ډاګه کړ او پــه اړه یې له هند سره ددایمي مرستو ژمنه وکړه!!

دکتونکو پــه نظر داسې بریښي چې دهنــد صــدراعظم پــه امریکــا دخپــل هېواد دغوښتنو پــه منلو کــې بری مندلی وي! ځکه دامریکا لخوا دهنــد داتــومي پــلان څــارنې پــه اړه دامریکــا لخــوا دخپلــې پخــوانۍ غوښتنې لاس پــه سر کېدل هم دا پیغام لیږدوي چې امریکا دهند پــه وړاندې شاه تګ کړی دی!

سیاســــــي تحلیلګـــــــران دهندوستان او امریکا اوسنی قرب دآسیا یې هېوادونو په وړاندې دامریکـا د تـذویري سیاسـت او د تذویري ډیپلوماسۍ د یو بل پړاو پیــل بــولي!د هغــوئ پـه وینــا ؛ دامریکا لخوا په امنیت شورى کې د هند له غړیتوب نه ملاتړ اعلانول د هم دامعنی ورکوي ! او ښکاري چې امریکـا دا هـوډ کـړی وي چې پـه سیمه کې هند پوره برلاسی او تقویه شي ،په سیاسي ، اقتصادي او پوځي ډګرو کـې پیـاوړی لیـدل غـواړي دهمدې موخې لپاره دملګرو ملتونو په امنیت شورى کې هڅه به وکړي څو هند د ویټو ځواک لرلو څخه برخمن شي.

حتمي ده چې ددې ګام په پورته کېدو سره به ګڼ سیمیز رقابتونه او جنجالونه هم را منځته او پیدا شي! د سیمې د هېوادونو ترمنځ به پـه یو بل دبري مندلو سیالي زور واخلي!

امریکــا چــې هنــد دکومــو هېوادونـو پـه وړانـدې تقویـه کـول غواړي، ، هغوی به دهغه په وړاندې قـرار لاس ترزنـې ناسـت نـه وي، خامخا به هغوی را پارېږي چې په دي سره به بیا یو ځل ټوله سیمه دسرې جګړې په خطرناک ګرداب کې کیوزي.

لنډه دا چې د هند او امریکـا نژدیکـت بـه هنـد تـه ددي چـانس برابرولو سره مرسته وکړي ،چې هغه پــه منطقــه دخپلــې بــاداري ژاړه خوبونه رښتیا کړي!حو څرګنده ده چې دا بـه دهنـدي سیالانو (چین او پاکستان) لپاره هیڅکله قناعت بښونکې شیبې نه وي.

څنګه چې هند په کشمیر کې د مسلمانو بیلتون غوښتونکو سره په جګړه کې ښکېل دی او دزور او جبر دلارې یې هلته په مسلمانانو ژمکه سوتنور کړي چې تـردې مهالـه یې زرګونـه کشـمیریان یـې شـهیدان، ټپیان او له خپلو کورونو نه شړلي دي ،نو هر کله چې هغه دامنیت شورى غـړی جوړ شي او دویټـو لـه ځـواک لرلو نه هم برخمن شي نو بیا خو به هر څــه پــه خــلاص مــټ کــوي او د کشمیر دننه به جګړه نوره هم تشدید کړي.

بــل پلــو تــه پاکســتان ځــان دکشمیر مسلې نه صرف ملاتـړی بولي، بلکې په کشمیر دوکالت دعوه هم لري،هغه به دهند په مقابل کې کله غلی پاتې وي؟

په ورته توګه چین هغه هېواد دی، چې اوس مهال د نړۍ یـو لـه لویــو اقتصــادو شــمارل کېــږي ، امریکا ته یې دغه پرمختګ دزغملو

وړ ندی او چین هم پوهیږي چې ددې هڅو نه دامریکا هدف هغه دی، په داسې وخت کې طبعي ده چې چین به هم مخالف عکس العملونه ضرور ښیي او دا هم څرګنده ده چې دچین او هند ترمنځ د تبت لانجې په سر اړیکي له وړاندې خراب دي په دې سره به یې ترمنځ په یو بل بې باورې او بد ګوماني نوره هم زیاته شي او ممکن په لوی تاوتریخوالي بدل شي ، کوم چې دامریکا عمده هدف دی!

دامریکا یا نو بل مهم غرض د روسیې نړیوال کردار پای ته رسول دي، دیوکراین په سر دروسیې او امریکــا تـرمنځ د شخړې راتلـو نـه پس، امریکا تکل لري څو د روسیې نړیوال موقف کمزوری کړي ، کوم چې به په هیڅ صورت دروسیې لپاره دزغـم وړ نـه وي، نـو هـر کلـه چې امریکا اراده لري چې دروسیې په ځـای پـه سیمه او نړیوالـه سطحه هند را مخې ته کړي، په مقابل کې به یې روسیه غبرګون ښکاره کوي او دهغو هېوادونو او ډلو په خوا کـې بــه دریــږي، کــوم چــې دامریکا اوهند دپراختیا عزایمو ته دشک په نظر ګوري او هم د به دچین او پاکستان سره دهند دنفو ذ په مخنیوي کې خپل اړیکي نور هم خــواږه کــړي ، ځکــه امریکــا غواړي دچین اقتصادي مسابقت

په تېه ودروي او دروسيې نړيوال حيثيت كمزروى ثابتولو سره دهغې ځاى هند ته وسپاري.

هم دا وجه ده چې دا تاثر او انګېرنه هر ځاى شته ده چې امريكا پريكړه كړيده چې په سويلي اسيا كې هند دخپلو ګټو او سياست لپاره څوكيدار وګوماري او دهغه په راپورته كولو د سيمې اقتصادي توازن ته زيان ورسوي.

په دې ټولو علاوه امريكا په پام كې دا هم لري چې دځان وروسته په افغانستان كې د هند كردارته زمينه سازې وكړي، كه څه هم د افغانستان خلك دهند لپاره كومه خوشبيني نلري، ځكه هند له افغانستانه لري پروت دى او بل په ټولېزه توګه دافغانانو اكثريت نه غواړي چې له هند سره علايق ولري اونه ورته دافغانستان د قوي دوست په نظر ګوري هم دا راز هند له افغانانو سره د تاريخي خواخوږۍ يا همكارۍ هم سابقه نلري، بلكې هند هميش افغانستان كې ديرغل په پلوۍ دريځ نيسي، وړاندې چې كله شوروي په افغانستان يرغل كړى و ، هغه مهال دشوروي په پلوۍ ولاړو او ديرغل نه يې كلك ملاتړ كاو او نن هم د دامريكا سره ولاړدى، دا كار ددې سبب شوى چې په مجموع كې افغانان له هند سره دخپل هېواد قرب نه غواړي

دهند او امريكا ترمنځ دملګرتيا يو لامل دا هم دى چې هند په افغانستان كې دامريكا ديرغل څخه ښه كلك ملاتړ كوي ، په همدې وجه امريكا په افغانستان كې يې كردار ته ليوالده ده، بله دا چې دامريكا او هند ګډ رقيب هېواد(چين) په افغانستان كې تر بل هر هېواد زياته پانګونه كړيده هند ته په افغانستان كې دكردار فرصت په برابرولو امريكا هدف لري چې هند چين د پښې ونيسي!

خو روښانه ده چې د هند لپاره دكردار فرصت وركول موزون انتخاب ندى، ځكه هند داسې هېواد دى چې هغه د منطقوي حساسيتونو سره لاس او ګريوان دى ، په خاصه توګه اسلامي نړۍ، هند كې له مسلمانانو سره دهندي حكومت رويه وحشيانه بولي، دكشميري مسلمانانو په وړاندې د هند جارحانه او ظالمانه تګلاره د مسلمانانو له زغم څخه وتلې ده، په ګجرات ايالت كې دهندي حكومت له ظلمونو څخه دنړۍ هر مسلمان خبردى او دبابري مسجد دړنګولو دردونكې حادثه تر اوسه تازه ده، په دې وجه دا اميد لرل بې ځايه دى چې هند به امريكا ته په افغانستان كې كوم دپام وړ برى ورپه برخه كړي.

د كارپوهانو په اند: دهند او امريكا داړيكو دپراختيا يو قوى لامل دا دى چې دواړه دمسلمانانو په دښمنۍ كې ديو بل سره حليفان دي، دنړيندرا مودي حكومت په راتلو دغه دوستې نوره هم ټينګه شوه، دا ټينګښت ددې ښكارندوي كوي چې امريكا هر هغه چاته ددوست په نظر ګوري چې دهغه لاسونه دمسلمانانو په وينو سره وي، دنړيندرا مودي اسلام دښمني پټه نه ښكاره ده چې هغه د زړه نه داسلام او مسلمانانو سخت سرى دښمن دى!!

هغه امريكا چې وخت يې مودي ته امريكا ته د ورتګ ويزه نه وركوله، نن اوباما هغه ته داسلام دښمنۍ په بدل كې د خپل دوست لقب وركړ! دمسلمانانو چارواكې دې دا نكته په ياد ولري چې دامريكا او هند په اړيكو كې اسلام دښمني او مسلمان وژنه د قدر مشترك ښه لري او دا د دواړو ترمنځ دباور او اعتماد قوي تضمين هم دى او له دينه علاوه نور مسايل ثانوي ارزښت لري....

پر چارلي ايبدو بريد

او د غرب ناكاره ارادي

شهيد زوی

د رواني جنوري په ۷ مې نېټې د فرانسې په پلازمېنې پاريس کې د چارلي هيبدو په نوم د هغې مجلې په مرکزي دفتر حمله وشوه کومې چې پدې وروستيو کې يو ځل بيا د اسلام د ستر او محبوب پيغمبر لوړشان ته د سپکاوي په موخه کارټونونه خپاره کړل؛ دا حمله په تېرو ۴ لسيزو کې د فرانسې په تاريخ کې بې ساري او تر ټولو خونړۍ حمله ګڼل شويده چې پکې د ۲ پوليسو په شمول ۱۲ تنان ووژل شول.

د نومـــوړې مجلـــې وژل شويو تنانو ناسته درلوده او ددې لپاره سره راټول شوي وو چې په مستقبل قريب کې يو ځل بيا د کاريکاتورونو خپرولو لپاره پلان جوړ کړي چې دوه ورونه شريف او سعيد کواچي دفتر ته په ورننوتلو بريالي شول؛ د ننوتلو سره سم يې د الله اکبر ناره پورته کړه؛ تر ټولو ړومبی يې دلته په امنيت ګومارل شوي دوه پوليس ووژل ؛ بيا يې د هر يو نوم واخستلو ؛ په مشورې کې ناستو د مجلې د مدير ستيفن کاربونيرو؛ د کارټونونو جوړونکو هريو کابو، ټکنوس، وولنسکي او د برنارد مارس نومي ژورنالست پروژلو وتوانېدل؛ د ټولو د وژلو نه پس يې بيا د الله اکبر ناره پورته کړه او ويې ويل موږ د خپل پيغمبر په شان کې د سپکاوي انتقام واخستلو؛ بيا له دفتره راووتل؛ دوئ او بيرون په پيره ولاړ د ريم ملګرۍ يې په موټر کې کېناستل او له سيمې نه په روغ رمټ وتلو کامياب شول؛ دا عمليات په پنځو دقيقو کې ترسره شول؛ د پوليسو موټرچې د دوئ پسې شوی و وربانده يې ډزې وکړې چې د مخې شيشه يې ورماته او په موټر کې ناست پوليس يې له دې وويستل چې نور د دوئ تعقيب کړي.

سعيد او شريف چې دواړه سره ورونه دي په خټه عربان خو په فرانسې کې زېږېدلي او راستر شويدي او هم دلته يې زد کړې ترسره کړيدي.

د فرانسې دولت وايي چې د امنيتي ځواکونو د پرلپسې لټون په نتيجه کې د حملې نه ۲ ورځې پس سعيد او شريف وموندل شول او دواړه د امنيتي ځواکونو سره په وسلوالې نښتې کې ووژل شول.

چارلي هيبدو نومي مجله چې مرکزي دفتر يې په پاريس کې دی له ۱۹۷۰ کال نه پدې هېواد کې خپرېږي، د خپل وجود نه تر ننه دې مجلې د ګڼو نامتو او تاريخي اشخاصو سپکاوی کړيدی چې د اکار نه يوا ځې دا چې د بيان ازادي او سم کاريې بولي بلکې د ځان لپاره يې افتخار هم ګڼي؛ دا مجله په همدې کارونو ځوځلې بنده شوي او په خپرېدا يې بنديز هم لګېدلی دی؛ مجله کم لوستونکي لري؛ په اروپا کې يې خاصه طبقه لولي

اوتیراج یې ایله ۶۰ زروته رسېږي ؛دې مجلې له دې وراندې په ۲۰۰۶ ،په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۳ کې هم دسترپیغمبر په شان کې دسپکاوي نه ډک کارتونونه خپاره اوډېولې نړۍ دمسلمانانو زړونه یې سخت دردولي چې هرځل یې پرضد دنړۍ په ګوډ ګوډ کې مسلمانانو خپله کرکه ښکاره کړې اودنوموړې مجلې په دفتريې ډزې اوبمي بریدونه هم کړيدي خو دمجلې اداره دخپلو شیطاني کړنونه ، نه وه لاس په سر شوې .

دیادې مجلې پردفتر داوسنۍ حملې نه پس دمسلمانانو پرضد دخپل یووالي دښکاره کولو ، دمجلې دشیطاني کړنو دتائید اوپرې دشوې حملې دغندنې په موخه ټوله لویدیځه نړۍ په خوځښت راغلی ده ؛ دامریکا دولسمشر بارک اوبامانه ترالمانۍ مشرې انګېلا مرکل اودبرتانې دلومړي وزیر ډیویډ کامرون نه تر داروپایي اتحادې مشرکلو دیونکرپورې ټول دخفګان په ښکاره کولو اودفرانسې اودهیډو مجلې سره دغم په شریکولو کې اخته دي اوټول په یواوازدادیبان پرآزادۍ حمله بولي ؛ پدې اړه دپاریس په تاریخ کې ترټولو سترلاریون رامنځته شو چې دغربي میډیا په وینا پکې له ۳ ملیونونه زیاتو وګړو شرکت کړی و(په حقیقت کې که هرڅومره وخودوئ نه څوک پوښتنه کوي چې ۳ملیونه دي اوکه ۳ لکه ؟) اودبرتانې ولسمشرډیویډ کامرون ؛ دالمان مشرې انګیلا مرکل ، داسرائیلو لومړي وزیرنتن یاهو ، دفلسطینې اداري مشر محمود عباس اوداردن مشر شاه عبدالله اودلویدیځ دنوروهېوادونوپه شمول یې د ۴۰ هېوادونو مشرانو قیادت کولو .

دیادولو وړده چې دې لاریون ته دسپکاوي په موخه دجوړوشویو کاریکاتورونو عکسونه هم راوړل شوي وونو ځکه خو احتجاجاً دمراکش دباندنیو چارو وزیرپدې لاریون کې دګډون کولو نه انکار وکړ .

اسلام دفرانسې دوهم سترمذهب دی ؛ دلته ۷ ملیونه مسلمانان ژوند کوي پدوئ کې دزیاترو تړاو دمراکش، الجیریا ،تیونس اونوروهغوهېوادونوسره دی کوم چې یو وخت دفرانسې تر استعمارلاندې وو خوپدې هېواد کې دنویو مسلمانو شویو مسلمانانو شمېره هم ښه زیاته ده ؛ځکه چې فرانسه داروپاهغه هېواد دی چې اسلام پکې په ډېرې تېزۍ خپرېږي اونورلویدیځ په پرلپسې ډول دا اندېښنه ښکاره کوي چې شاید څولسیزې پس دا هېواد په اسلامي هېواد بدل شي چې په پرله پسې ډول دکارتونونو دخپرېدا یواساسي لامل هم همدا داسلام دتېزخپرېدا دمخنیوي هڅې دي ؛ لویدیځوال دتېرې یوې لسیزې راهیسې داسلام وېرې پسې اخستي دي اوداکثریت یې دا یقین دی چې اسلام ددوئ دکلتور لپاره ورو ورو په لوی خطربدلېږي ؛ لویدیځ دا وېره ښکاره کوي چې که داسلام دسونامي مخه ونه نیول شي نوټول لویدیځ به له ځان سره لاهو کړي نوځکه نوي نوي قوانین جوړوي اوهرهغه اقدام کوي چې وربانديې داسلام اومسلمانانودپرمختګ مخنیوی کېدای شي ؛ د فرانسې نامتوناول لیکونکي ،، مشل هولي بیک ،، په خپل ،، سمشن،،نومي نوي کتاب کې فرانسه دیو اسلامي هېواد په شکل کې وراندې کړیده ؛داسې اسلامي هېواد چې پکې د پوهنتونونو محصلین د قرآنکریم زدکړوته اړکړای شوي وي ؛ مېرمنې پکې حجاب کوي اوسړوته دیوې نه دزیاتو ښځو سره دنکاح کولو اجازه ورکول کېږي ؛ مېرمنو ته ترغیب ورکول کېږي ترڅو په خپلې خونې وظیفې پرېږي چې ورسره سم بد امنې پای ته رسېږي اوځوانانو کې بې کاري هم له منځه ځي .

حقایقو له اعتراف کولو پرته په بل څه نشي تعبیرېدای.

د ناول له خپرېدا نه وړاندې مشل هولي بیک د پاریس ریو نومي جریدې سره په مرکې ویلي وچې د مذهب نه لرې الحادي ژوند د خوشالۍ، اطمینان او راحت نه خالي ژوند وي نو نه یوازې داچې لویدیځوال مذهبیتوب ته بېرته په تېزۍ سره راستنېږي بلکې دې کار زمایه اند د خاموش نړیوال تحریک بڼه غوره کړېده او ورسره یو ځای هغه تحریک مخ په زوال دی کوم چې په منځنیو پیړیو کې په لویدیځ کې پیل شوی و؛ څه پدې اعتراف کوم چې څه اوس ملحد نه یم؛ مسلمان هم نه یم خو پدې پوهېږم چې د آزاد الحادي ژوند په پرتله اسلامي ژوند ډېر غوره دی،،

په ټولې نړۍ او په ځانګړې ډول په لویدیځ کې د اسلام دې تېزخپراوي لویدیځ په حقیقي معنو ورخطا کړېدی چې مقابل کې یې د لودیځوالو له خپل لورې تریو حده عکس العمل ښکاره کول یوه طبیعي خبره ده خو په کوم شکل چې عکس العمل ښکاره شو که د نړۍ درسنیو شرارت نه وای لویدیځوالو به هیڅکله په دغه شکل عکس العمل نه وای ښکاره کړی په شکل یې چې ښکاره کړ؛ پر نړیوالو رسنیو چې د یهودو قبضه ده نو د نړۍ په ګوټ ګوټ کې پر مسلمانانو شویو اوروانو ظلمونو او وحشتونو باندې پردې رااچوي خو برعکس د اسلام او مسلمانانو پر ضد پکې ډېر زهرجن او منفي تبلیغات خپرېږي؛ اسلام نړۍ ته د وروسته پاتي؛ د پرمختګ ضد د تشدد نه ډک، ظالم او جابر داسې دین په صفت معرفي کوي چې یوازې قتل وقتال او د انسانانو وژلو ته خپل منونکي هڅوي؛ نه په چا رحم لري؛ نه پکې د انسانانو د حقوقو لحاظ شته او نه هم بشریت ته احترام لري.

د لویدیځ پلیته میډیا چې پدې پوهېږي چې مسلمانان د خپل پیغمبر، خپل کتاب قرآن عظیم الشان او خپل دین سره د ومره مینه کوي چې ورنه د خپلو ځانونو جارول د خپلو ځانونو لپاره سعادت ګڼي نو په منفي او زهرجنو تبلیغاتو یې بسیا ونکړه بلکې د دې لپاره چې د نړۍ د مسلمانانو زړونه پرهرپرهر او په پرهرونو یې مالګې ودوروي د اسلام، قرآن او د اسلام ستر پیغمبر ته یې د سپکاوي داسې ناوړه او ناولې لړۍ پیل کړه چې په ښکاره یې د تم کېدلو هیڅ نښې نه ښکاري او وروستۍ کړۍ یې د چارلي هیبډو نومي فرانسوي مجلې له لوري د اسلام د ستر پیغمبر د سپکاوي په موخه د کاریکاتورونو د خپرولو خورا مذموم عمل دی چې په مقابل کې یې عکس العمل هم ټولې نړۍ ولیدلو.

مشل هولي بیک په خپل دې کتاب کې کاږي چې فرانسوي ټولنه ورو ورو د مسلمانانو په مقابل کې په ګوندو کېږي تر دې چې تر ۲۰۲۲ پورې مسلمانان د یو لوی ګوند په جوړولو بریالي کېږي او همدا ګوند بیا د رایو په اکثریت خپل مشر د هېواد ولسمشر جوړوي.

مشل هولي بیک چې د اسلام په هکله منفي فکر لري او له دې وړاندې یې د اسلام ضد زهرجنې لیکنې خپرې شوېدي، څرګنده ده چې د دې ناول د خپرولو نه به یې هدف اسلام پر ضد ولس او دولت راپارول او اسلام فرانسې ته دیو ستر خطر په توګه معرفي کول وي چې د دې لپاره به هغه تر ډېره حده له مبالغې نه هم کار اخستی وي خو په لویدیځ کې چې اوس د افراطي آزادۍ او الحادي ژوند کې لویدیځوال له حد نه زیات تنګ شویدي نو د نومړي چې هدف هر څه وي وي به خوله دې انکار نشي کېدای چې هغه له واقعیت نه غږېدلی دی او څه یې چې ویلي دي دا د لویدیځ په اوسني حالت کې پر

په ۲۰۰۵ کې چې د ډنمارک جیلاډن پوستن نومي اخبار په رومبي ځل د اسلام د ستر پیغمبر په شان کې د سپکاوي په موخه کارتونونه خپاره کړل او پرضد یې د نړۍ ټولو مسلمانانو سخت قهر او غصه ښکاره کړه نو تمه دا کېده چې غربي نړۍ به له عقل نه کار واخلي او د ټولې نړۍ مسلمانانو ته به د دومره ستر خفګان رسولو جسارت ونکړي؛ خو له بده مرغه چې په ګڼو غربي هېوادونو کې دا عمل بیا بیا تکرار شو چې د فرانسې چارلي هیبدو مجله یې په سر کې وه؛ دې مجلې په کال ۲۰۰۶ کې د ستر پیغمبر په شان کې د سپکاوي په موخه هماغه کارتونونه خپاره کړل کوم چې له دې وړاندې د ډنمارکي اخبار خپاره کړي وو چې ورسره سم د نړۍ مسلمانانو د دې عمل په مقابل کې د خپل سخت غم او غصې اظهار وکړ خو په مقابل کې یې هیڅ اطمینان تر لاسه نه شو نو هماغه و چې په ۲۰۱۱م کې یې دا عمل یو ځل بیا تکرار کړ نو اسلامي نړۍ د خپل غم او غصې د اظهار تر څنګ د مجلې مسئول مدیر ته د سزا ورکولو او د مجلې د بندولو غوښتنه وکړه خو د فرانسې په شمول ټول لویدیځ د سخت تکبر نه کار واخست او د مسلمانانو دې غوښتنې ته یې هیڅ توجو ونکړه چې دې کار مجلې ته د ټول لویدیځ له لورې د داډ معنی لرله نو ځکه مجلې نه یوازې دا چې په خپلو کړو یې پښېمانتیا ښکاره نکړه او نه یې د مسلمانانو نه بښنه وغوښتله بلکې د مجلې مسئول مدیر او کاریکاتورجوړونکو خپل دې کار ته دوام ورکول اعلان کړل نو هماغه و چې په ۲۰۱۲م کې یې بیا دا عمل تکرار کړ د نړۍ مسلمانانو بیا خپل عکس العمل او غوښتنه د نړۍ مخې ته کېښوده خو لویدیځې نړۍ پرې بیا هم غوږ ونه ګړولو؛ نه یې په مجلې بندیز ولګولو او نه یې د مجلې مدیر د سزا وړ وبللو؛ بلکې بیا یې ترې هم خپل حمایت جاري وساتلو نو ځکه همدې مجلې اوس یو ځل بیا د کارتونونو خپرولو او د ستر پیغمبر په شان کې د سپکاوي کولو جرأت وکړ چې دې د نړۍ ټول مسلمانان سخت ناهیلي کړل او هغه مسلمانان چې روڼ اندي ګڼل کېږي هغوئ ته هم د لویدیځ بې انصافي او اسلام دښمني ښه روښانه شوه.

د غربي نړۍ نه د ناهیلۍ په همدې ستر عالم کې چې ایماني غیرت مجبور کړي ۳ ځوانانو د خپل ستر پیغمبر د ناموس نه د دفاع په موخه د یادې مجلې په دفتر حمله وکړه او هغه ناولي یې پکې په مجازات ورسول کوم چې د ټولې نړۍ د مسلمانانو زړونه زخمي کړیدي نو اوس د دې وخت و چې لویدیځ د ټولو مسلمانو لپاره له حده زیاتې دې مهمې مسئلې په باره کې نوره بې باکي پرېښې وای؛ د نړۍ د مسلمانانو نه یې بښنه غوښتې وای؛ په راتلونکې کې یې د داسې کړنو د مخنیوي لپاره معقول اقدامات کړي او مسلمانانو ته یې د بیا نه تکرارېدو اطمینان ورکړی وای او دا احمقانه استدلال نه یې پرېښې وای چې د انسانیت د ترټولو ستر شخصیت سپکاوی او دیونیم ملیارد نه زیاتو مسلمانانو زړونه زخمي کول د بیان ازادي ده.

خو متأسفانه چې لویدیځ چې په خپل زور نن ډېر مغرور دی او اسلام او مسلمانانو سره یې تعصب او دښمني اوج ته رسېدلی ده په سره سینه یې د دې مسئلې په اړه فکر کول او معقول اقدام کول اړین ونه بلل بلکې ټوله غربي نړۍ په ډېر احساساتي انداز په یو آواز د دې مجلې او فرانسې ترشا ودرېدله په پاریس کې یې داسې لاریون وویست چې د ۴۰ هېوادونو مشرانو پکې ګډون وکړ نو ځکه نوموړې مجله هم په خپل جهل کلکه ودرېده او د دې حملې نه پس د نوی چاپ شوی مجلې تیراج یې د ۶۰ زرونه ۳ ملیونو ته لوړ کړ او په بل اړ یې داسې تېل وپاشل چې هم یې د مجلې په رومبي مخ

کاریکاتور چاپ کړاوهم یې دتنه مجله له کاریکاتورونو ډکه کړه ؛ په دې تازه شمارې کې دمسلمانانو دراپارولو اوپه احساساتو کې دراوستلو لپاره ډېر مواد شتون لري ؛ دمنځ دپاڼوپه کاریکاتورونو کې مسلمانان تروریستان ښوول کېږي ؛ یو کې خو یې داسلام په ارشاداتو پورې داسې خندا کړیده چې خلک په جنت کې په ډېرې حیرانتیا پوښتي چې ۷۰ حورې کوم دي ؟

موږ دبیان آزادي منواوداپه دعوې سره وایو چې څرنګه چې اسلام دانسانانو دغلامۍ نه انسانان راویستلي دي نوانسانانو ته دبیان آزادي هم یواځې همدې دین ورکړیده چې ددې دعوې لپاره موږ په سونو دلایل په لاس کې لروخو دبیان دآزادۍ خپل حدود دي اوخپل یې هدف دی چې هغه دشرمخنیوی اودخیر خپرول دي .

همدا زموږ دین دی چې سالم انتقاد یې منلی دی اوظالم حاکم په وړاندې یې دحق بیان نه یواځې داچې اجازه ورکړیده بلکې دایې افضل جهاد بللی دی ؛ همدا زموږ اسلاف اودخیرالقرون خلفاء دي چې تنقیدونه یې په ورین تندي منلي دي ؛ موږ ترې هم انکار نه کووخو پدې شرط چې تعمیري تنقیدونه وي ،نه تخریبي تنقیدونه؛ دمذهبونو ،کتابونو یا په مذهبي لحاظ دسپېڅلو اشخاصو اهانت اوسپکاوی به کوم عاقل دبیان ازادي یا جایز انتقاد وګڼي ؟

درنګونو ، ژبو ، نژادونو او مذهبونو توپیرونه څرنګه دچا داهانت لامل جوړیدای شي ؟

دامریکا په شمول چې ټول مغرب ځان دبشر دحقوقو دساتنې او دانساني مساوات اتلان بولي او دانساني فطرت نه ځان باغي نه ګڼي نو خامخا به دبیان دآزادۍ لپاره حدود مني ؛نو خلکو ته تکلیف رسول او دانسانانو زړونه دردول ولې دبیان ازادي ګڼي ؟

داروپا په ۱۶ هېوادونو کې په هولوکاسټ (دجرمني نازیانو په لاس د ۶ ملیونو نه دزیاتو یهودیانو دقتل جوړ شوی د دروغو نه ډک داستان)دڅه ویلو یا لیکلو باندې کلي بندیز دی ترڅو دیهودو زړونو ته پدې تکلیف ونه رسېږي ؛ پدې اړه که څوک څه ووایې نو د ۳ نه نیولی تر ۷ کلونو پورې زنداني کېدای شي .

په امریکا او اروپا کې دزړونو لیکوالانو ؛ څېړونکو او شنونکو ژوند له دې امله دخطرونو سره مخامخ شوی چې دهولوکاسټ نه یې انکار کړیدی اودا یې دیهودو له لورې جوړ شوی دروغجن داستان ګڼلی دی .

په همدې فرانسې کې دنوي کال د رومبۍ میاشتې په اولې لسیزې کې دفرانسې دیوډان نومې نامتو ټوکمار دفرانسې په مختلفو ښارونو کې دخلکو دخندولو په موخه دپروګرامونو جوړولو اراده لرله خود فرانسې دکورنیو چارو وزارت یې ځکه په پروګرامونو بندیز ولګولو چې هسې نه هغه دهولوکاسټ پسې خندا وکړي چې پدې به په فرانسې کې دمېشتو یهودیانو زړونه ودردېږي .

اوله دې نه هم ډېره عجیبه داچې په همدې چارلي هیبډو کې به موریس ساین نومې یو ډېوخ عمر لرونکي جورنالست هره اونۍ لیکنه کوله د ۲۰۰۸ م کال دجولای میاشتې په یوې ګڼې کې دنوموړي په یوې لیکنې کې هغه دجسیکا سیبون ډرتي نومې ۲۲کلنې یهودۍ پیغلې او دفرانسې دهغه وخت دولسمشر سرکوزي ترمنځ دناوړه روابطو ضمني ظریفانه یادونه کړې وه چې پدې دمجلې مدیر دهغه نه وغوښتل چې دیهودانو نه دې پدې کار بښنه وغواړي ګیني پرضد به یې قانوني کړنه وشي ځکه چې پدې کاریهودیان دردېدلي دي ؛ موریس ساین له بښنې غوښتلو انکار وکړاو ویې ویل چې دا دبیان

دآزادی ضد عمل دی نو هماغه وچې هغه له خپلې دندې ګوښه کړای شو چې ترڅنګ بیا په خپلې دندې ونه ګومارل شو.

نو لویدیځ کې چې بدلمنې او ناوړه روابط ته چندان دعیب په نظر هم نه کتل کیږي خو چې تراو یې دیوې یهودي پیغلې سره دی چې دهمدې پیغلې شخصیت ته لږه تاواني خبره ګڼل کیږي نو چارلي هیبدو یې دټولو یهودیانو زړه دردونه بولي او خپل یو کارکونکی بښني غوښتلو باندې پرېبولي خو همدا مجله چې دمسلمانانو لپاره دترټولو سپیڅلي شخصیت سپکاوی کوي او دیونه بلکې دټولو یونیم ملیارد مسلمانانو زړونه زخمي کوي نو دا بیا نه یوازې دا چې دځان لپاره سم کار یولي بلکې ښه په سپین سترګی یې دهرځل نه پس دبیا کولو هوډ هم ښکاره کوي.

بس همدا دلویدیځ دبشري حقوقو ساتنه؛ انساني مساوات او د انسانانو عقایدو، مذاهبو او لوړو اشخاصو ته احترام دی.

لویدیځ کې به تر ډېره حده دبشري حقوقو ساتنه انساني مساوات او دانسانانو مذاهبو، عقایدو او لوړو اشخاصو ته احترام وي خو دا هر څه دهغه چالپاره چې چا ته دوئ دانسانانو په نظر ګوري؛ مسلمان ته چې دوئ دانسان په نظر نه ګوري نو په اړه یې یو اصل ته هم ځان ژمن نه بولي.

دفرانسې او دچارلي هیبدو مجلې سره دخواخوږۍ ښکاره کولو او ورنه دحمایت ظاهرولو په موخه چې دټولې اروپا مشران پاریس ته راټول شول او د ۴۰ هېوادونو مشرانو دفرانسې سره خواخوږۍ ښکاره کولو په موخه جوړشوي مارچ کې ګډون وکړنو باید ۵۶ اسلامي هېوادونو مشران هم د فرانسې سره دهرډول روابطو شلولو نه پس په جنیوا کې سره راټول شوي او دملګرو ملتونو ددفترپر لوریې لاریون کړی او دنړۍ نه یې په کلکه غوښتي وای چې یهودانو ته دتکلیف رسېدو دمخنیوي په موخه چې دهولوکاسټ په اړه قانون جوړېدای شي نو ددې لپاره چې دټولې نړۍ دمسلمانانو دزړونو ددردولو او زخمي کولو لړۍ تم شي نو باید داسلام دسترپیغمبر دسپکاوي دمخنیوي په خاطر هم په نړیواله سطحه قوانین جوړ شي؛ دفرانسې پاپ هم ویلي: دبیان دآزادی تر څنګ دمذاهبو احترام هم پکار دی؛ دمذهب توهین ندی پکار؛ دهر مذهب خپل وقار وي او څه حدود یې وي که ډاکټر کسپاري (دپاپ دسفرونو مسئول چې تل ورسره وي) زما مورته کنزا وکړي خامخا به زماله لوري په خوله سوک خوري؛ دبیان دازادی خپل حدود وي کوم خلک چې دنورو مذهبونو پوري خندا کوي همداسې به ورسره کیږي،،

دفرانسې مشرپاپ خوتریو حده هغه څه وویل چې ورته یې ویل پکار وو خو دا چې تر او سه داسلامي نړۍ حاکمانو پدې اړه یو کوچنی کوښښ او حرکت هم ندی کړی او نه یې ورنه تمه کېدای شي؛ دټولو خولې او زړونه داسې وو لکه چې قلفونه وراچول شوي وي؛ نو مسلمان ځوانان نور ځکه دلویدیځوالو په یوې غولونکې خبرې هم ځانونه نه غولوي او دخدای ددې دښمنانو په مقابل کې یې دجهاد هغه لار خپله کړیده کومه یې چې دناموس، دین، ځان، مال او خاورې ددفاع او ساتنې یوازینۍ لار ده او په کومه کې یې چې عزت، سرلوړی او بقا نغښتې ده؛ پدې لار به تر هغې دمسلمانو باغیرته ځوانانو یون جاري وي چې ترڅو ترخپل منزل پورې ورسېږي. ان شاء الله تعالی

د الصمود عربي مجلې له رئیس التحریر بنباغلي أحمد مختار سره ځانګړې مرکه

درنو لوستونکو !

لکه څنګه چې خبریاست په دې وروستیو کې په افغانستان کې له سیاسي او پوځي اړخه څو د پام وړ او مهم انکشافات رامنځته شول، له دې جملې یو مهم انکشاف د ناټو قواوو د بشپړ وتلو هوډ او د بارک اوباما لخوا دافغانستان د جګړې اعلان و، دا چې جریانات څومره مهم دي او دمیواد په راتلونکي به کومې اغیزې ولري په دې اړه مو د چارو له څارونکي او دالصمود مجلې له مشر تحلیلګر بناغلي أحمد مختار سره مرکه کړې چې ستاسو توجه ورته راګرځوو.

پوښتنې

لومړی

د ۲۰۱۴ م کال د ډسمبر په ۲۸ مه نېټه د آیساف ځواکونو په کابل کې د یولړ مراسمو په لړ کې خپل بیرغ راښکته او په افغانستان کې یې د خپل ماموریت پای اعلان کړ، په همدې ورځ د امریکا ولسمشر بارک اوباما اعلان وکړ چې د امریکا د تاریخ تر ټولو اوږد جنګ یعني د افغانستان جنګ پای ته رسیدلی دی؟

ستاسو په باور د جګړې د پای دغه اکتونه چې رسما په دوه مره لوړه سطحه د غربي اشغالګرو لخوا ترسره شول آیا واقعا په افغانستان کې د دوی لخوا د پیل شوې جګړې په پای دلالت کوي او که د نورو اهدافو لپاره ترسره کیږي؟

ځواب

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله وعلی اله ومن والاه وبعد.

زما په نظر چې امریکایان دغه ټول تصرفات او کړنې د خپلو ولسونو د اغفال او د هغوی له ملامتیه څخه د ځان خلاصولو په خاطر کوي.

امریکایان په افغانستان کې د جګړې د پایته رسولو اراده نه لري، بلکې غواړي له افغانستانه بهر هم د جګړې ساحه پراخه کړي، امریکایان د نړۍ هغه ظالم صفته انسانان دي چې د خپلو ګټو تر لاسه کولو او خپلې سیطرې غزولو لپاره یې ډیر ولسونه په تیره د دریمې نړۍ اکثریت هیوادونه نا آرامه کړي، دوي تل

خپل منافع د نورو په ځورولو ، ناآرامه کولو او د هغوی د سیمو په لاندې کولو کې لټوي.

د کابل له مزدور رژیم سره د امنیتي تړون لاسلیکول ، په افغانستان کې د بي پلوټه الوتکو بمباري جاري ساتل او دلته د محدود شمیر امریکایي اډو ابقاء له عسکري او امنیتي لحاظه د جګړې د غزولو معنا لري نه دهغې پایته رسول.

دوهم

که امریکا او ناټو واقعا په افغانستان کې جګړې ته د پای ټکی ږدي او خپل محارب ځواکونه ستنوي، تاسو د ځواکونو د ستنیدا دغه بهیر ته کوم نوم ورکولای شئ آیا ناټو او امریکا خپل اهداف ترلاسه کړل او نور ضرورت نشته نو ځکه قواوې ستنوي او که دوی په جګړه کې شکست خوړلی او په مات حالت کې ستنیږي ؟

ځواب :

په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو پر شکست تر بل هرچا له مخه خپله امریکایان او د هغوی پوځي ماهرین اعتراف لري ، یواځې امریکایان نه بلکې د نړۍ په کچه تر ټولو مهم قوي نظامي تړون (ناټو) هم ورسره یو ځای شکست خوړلی.

اوس دغه شکست خوړلي یرغلګر غواړي د خپل شکست انتقام له افغانانو څخه په یو بل ډول سره واخلي.

دوی پوهیږي چې له پوځي لارې د افغانستان تسخیر ناشونی دی ، هماغه ده چې دې هدف ته درسیدو لپاره په غیر مستقیم ډول له نورو لارو څخه کوښښ کوي ، داسې لارې چارې او وسائل چې د هغوی استخدام د امریکایانو لپاره په پوځي او اقتصادي لحاظ کم مصرفه او هدف ته درسیدو لپاره ډیر بریالي او موفق وي.

د دغو خطرناکو وسائلو له جملې څخه یو هم د امنیتي تړون په وسیله په افغانستان کې د جګړې تداوم دی ؛ ځکه

د همدې تړون په وسیله د افغانستان ځمکه او فضا تر راتلونکو لسو کلونو لپاره د امریکایانو په اختیار کې ورکړل شوې ، د همدې تړون په وسیله امریکایي ځواکونو ته د افغانستان په هرځای کې چې زړه یې وغواړي د پوځي عملیاتو د ترسره کولو حق ورکړل شوی.

د همدې تړون په وسیله امریکایي ځواکونو ته له ټولو هغو جنایاتو څخه چې د پوځي عملیاتو په جریان کې د بیوزله ولسي افغانانو په خلاف ترسره کوي قانوني مصؤنیت او برائت ورکړل شوی.

مخکې امریکایانو غوښتل خپلو اهدافو ته د اجنبي عسکرو د شتون په وسیله ځان ورسوي او س د یاد تړون په لاسلیکولو سره هماغه اهداف د خپلو داخلي مزدورانو په زریعه ترلاسه کول غواړي ، په داسې ډول چې امریکایي عسکر هم له بشري تلفاتو مصؤن وي او هم له مالي هغو نه.

چې په همدې توګه په افغانستان کې د مجاهدینو او داخلي مزدورانو ترمنځ د مقاومت او مقابلې دوام ته یو مبرر پیدا او له امله یې تر ډیره وخته دافغانانو ترمنځ د مقابلې ډګر تود وساتل شي.

دریم

ځیني تحلیلګران په دې نظر دي، چې د ناټو لخوا د بیرغونو کوزول او د ځواکونو شاتګ هسې یوه ډرامه او تشریفاتي مظاهر دي، دوی وایي بهرني ځواکونه

دلته په بیلابیلو بڼو شتون لري ، ناټو او امریکا د خپلو اهدافو لپاره راغلي وو اوږ يې ترلاسه کړي او اوس يې اضافي عسکر وایستل، دوی وايي افغانستان د یوې ژورې ترېوالې توطیې په لمن کې پروت دی او دومره په اسانه او ژر باید افغان مجاهدین د فتحې او یرغلګرو د شکست دعوه ونکړي تاسو دغه تحلیل ته په کوم نظر ګورئ آیا واقعا افغان اولس له ازادۍ څخه همدومره لرې دی ؟

ځواب:

زما له نظره په پوځي لحاظ یرغلګرو ځواکونو دلته ښکاره شکست خوړلی ، په دې اړه د پنتاګان د پوځي متخصصینو اعترافات او د هغوی د تلفاتو احصائیې موجود ې دي ، خو دا خبره د دې مانا نه لري چې مجاهدین نور په ټولو ابعادو کې پر دښمن غالب شوي ، بلکي اوس د دښمن د مقابلې جهت بدل شوي ، مخکي يې د جګړې یا مقابلې ټول ترکيز په پوځي برخه باندې وه اوس هغه نور ابعاد پیداکړي چې د مجاهدینو لپاره اوسنۍ مقابله تر مخکینۍ هغې ډیره ستونزمنه او مجاهدین باید هغه په ډیر غور ، دقت او سنجش پرمخ بوزي.

مجاهدین د پوځي ډګر تکړه فاتحین او اتلان دي او دا چې د دوی نشأت او پرورش ټول په پوځي جبهاتو او سنګرونو کې شوی خو د سیاست او د فتر په معاملاتو کې باید دوی همدومره وړتیا ثابته کړي لکه په نظامي او پوځي مجالاتو کې چې تر ې برخمن دي.

څکه نو په کار ده چې مجاهدین ورونه باید د مقاومت په دغه حساسه مرحله کې له دښمن سره د نوي طرز مقابلې لپاره پوره اماده ګي ولري او د خپل پوځي عبقریت او جهادي بصیرت په کارولو سره دښمن ته په دغه مرحله کې هم دعبرت نه هیریدونکی درس ورکړي.

څلورم

امریکایان خپل محارب ځواکونه ستنوي خو د دایمي اډو تر عنوان لاندي ځواکونه به يې پاته وي ستاسو په باور آیا دا ځواکونه به وکولای شي په افغانستان کې په ارامه واوسي او خپل اهداف تعقیب کړي او که به په پای کې دوی هم په تیښته مجبور شي ؟

ځواب :

دا چې امریکایان د اشغال په پیل کې چې هم تازه نفسه او هم يې د اشغال غرور او مورال په سر کې وه د ۱۵۰۰۰۰ زره ځواکونو په موجودیت کې ناکام او له هر ډول لاسته راوړني څخه نا توانه شول اوس به چې هم له خپلې بریا نهیلې شوي ، هم يې په لسګونو زره پوځیان مړه او ژوبل شوي او هم يې د پوځیانو حربي مورال له منځه تللی څرنګه به و توانیږي چې خپل اهداف تر لاسه کړي؟

داچې ۱۵۰۰۰۰ زره پوځیان يې په تیښتې مجبور شول ، نو پاتې لس یا اته زره به يې حتما د نورو تښتیدلیو لاره خپله وي ان شاء الله او افغانستان به افغانانو ته پاتي کیږي تري.

پنځم

د ځواکونو د ایستلو سره هم مهال غربي چارواکو دا دعوه هم کړې چې دوی افغانستان او افغانانو ته په تیرو ۱۳ کلونو کې ستر ستر خدمتونه کړي، هغوی ته يې دموکراسي، ازادي او حکومتداري وربیرزو کړې، او په بیلابیلو اقتصادي، امنیتي، عمراني او کلتوري برخو کې يې ورسره کومکونه کړي دي ستاسو په باور

لویدیځوالو په تیرو ۱۳ کلونو کې افغانانو ته کوم ارمغان له ځانه سره راوړ؟

ځواب :

هو ! ریښتیا هم د امریکایانو په راتګ سره افغانستان په ډیرو مواردو کې پرمختګ او په نړیواله کچه یې لومړی مقام تر لاسه کړی، د امریکایانو په خپل اعتراف افغانستان په مالي فساد کې لومړی مقام ته رسیدلی، په نا امني کې لومړی نمبر، د بشري حقونو په تخلف کې لومړی نمبر، د مخدره توکو په تولید کې لومړی نمبر، د ښځو په وړاندې تاو تریخوالي کې لومړی نمبر تر لاسه کړی.

دا ریښتیا هم هغه پرمختګونه دي چې په افغانستان کې یې له امریکایي اشغاله پرته دغه ډول ترقي او پرمختګ ته رسیدل له محالاتو څخه ګڼل کیدو.

شپږم

په سیاسي برخه کې د تیر کال ستر تحول د انتخاباتو تر سره کیدل او بیا د امریکایانو له مداخله وروسته د ملي وحدت په نوم د حکومت رامنځته کیدل و، تاسو د دې حکومت چې اوس یې د کار سل ورځې پورې شوې کار او راتلونکی څرنګه ارزوئ؟

ځواب :

د اشغال تر سیوري لاندې انتخابات او په هغو پوري تړلې فعالیتونه او کړنې هر څه د یرغلګرو لخوا د عامه ذهنیت د اغفال لپاره تر سره شوي، که ریښتیا هم انتخابات د افغانانو لخوا د هغوی د مصلحت لپاره تر سره شوی وای نو بیا د جان کیري متعددو سفرونو او د امریکایي سفیر مداخلې ته څه ضرورت وه؟

انتخاباتي پروسه په مجموع کې یوه امریکایي ډرامه وه چې په نتیجه کې یې د اشرف غني بیواکه او دوه سري حکومت رامنځته شو.

د افغانانو لپاره دغه ډول دوه سري بیواکه حکومت د امریکایي جنایتو له جملې نه هغه ستر جنایت بلل کیږي چې د افغانانو د تفرقې او د هغوی د ویشلو لپاره یې ایجاد کړی.

اشرف غني چې د خپل عمر زیاته برخه یې د امریکایي تبعه په توګه د امریکایي حکومت په ماموریت کې تیر شوی د امریکایانو په دستور د دغه حکومت لپاره د یو تړتولو مناسب شخص په حیث ټاکل شوی.

لهذا ویلای شو چې د اشرف غني حکومت د افغانانو په رایو منځته راغلی حکومت نه بلکې د امریکایانو په دستور د هغوی د خپلو مصالحو د تحقق لپاره جوړ شوی، د دغه حکومت له اعلانه (۲۴) ساعته وروسته له امریکایانو سره د امنیتي تړون لاسلیکول او د کابینې تشکیل تر دري نیمو میاشتو پوري ځنډیدل د دې ښکاره ثبوت دی چې دا حکومت د امریکایي منافعو د تحقق لپاره جوړ شوی نه د افغاني د ستونزو د حل کولو لپاره.

اووم

د ۲۰۱۴ م کال په اوږدو کې که د افغانستان په نظامي وضعیت رڼا واچوئ، په نظامي برخه کې برلاسي او د عمل ابتکار له کومې خوا سره و او په راتلونکې کې نظامي وضعیت څرنګه اټکلوئ؟

ځواب:

د ۲۰۱۴ کال په اخیر کې د بهرنیو ځواکونو لخوا په افغانستان کې خپل پوځي بیرغونه راټیټول د دغه

کال تر ټولو لویه لاسته راوړنه او د ټولو مسلمانانو لپاره یو افتخار دي.

دغه بیرغونه چې په افغانستان کې د یرغلګرو لخوا د هغوی د واکمنۍ او تسلط په غرض هسک شوي ول د جهادي قهرمانانو د بیسارو سرښندنو او قربانیو له برکته په ډیر ذلت او رسوایي سره د هغوی لخوا بیرته په ټیټو سترګو راټیټ کړل شول

په همدې کال کې د جهادي قوت په زور له امریکایي وحشي زندان ګوانتانامو څخه د اسلامي امارت د پنځو تنو لوړپوړو چارواکو راخلاصول د جهاد او افغانانو بله تاریخي کامیابي ده چې د جهاد په ترڅ کې یې ترلاسه کړې.

د مجاهدینو لخوا پوره پنځه کاله د امریکایي افسر له ځان سره بندي ساتل په حقیقت کې د ټولې امریکا د اسارت په معنا دی ، ځکه امریکایانو له مجاهدینو څخه د خپل پوځي اسیر د خلاصولو لپاره خپل ټول پوځي توان و کاراوه خو هیڅ یې ترلاسه نکړل.

له دې پرته هم تیر ۲۰۱۴ کال د مجاهدینو لپاره له لاسته راوړنو او بریاوو ډک کال و.

په همدې کال کې په افغانستان دامریکایانو تر ټولو لوړرتبه امریکایي دری ستوریز تورن جنرال هارلډ ګرینې د قهرمان مجاهد رفیق الله په حماسه زیږوونکي تاریخي برید کې هلاک او د هغه تر څنګ نور ۱۲ تنه لوړرتبه الماني جنرالان او پوځیان مړه او ژوبل شول.

همداراز د هلمند په شوراب مهمې پوځې اډې باندې د مجاهدینو څلورورځني عملیات ، د کابل په زړه کې د امنیه قومندان پر دفتر حیرانوونکي برید ، د ارګ په خوله کې د فرانسې په کلتوري مرکز برید او دکابل په ښار کې د یرغلګرو اجنبیانو او دهغوی د داخلي مزدورانو پرځالو باندې د مجاهدینو تکتیکي بریدونه ، د هیواد د لویو ښارونو مرکزونو ته په موفقانه توګه د جهادي عملیاتو انتقال او د هیواد په ځینو ولایتونو کې د مجاهدینو لخوا د زیاتو سیمو تصفیه کول او ولسوالیو فتح کول په ۲۰۱۴ کې د مجاهدینو له مهمو لاسته راوړنو څخه شمیرل کیږي.

د غو تکتیکي عملیاتو او لاسته راوړنو د دښمن مورال سخت ځپلی او بلکل یې د ابتکار عمل جرآت تري اخیستی ، هغوی اوس په ټول هیواد کې د مجاهدینو په مقابل کې په مورال لویدلي د فاعي وضعیت کې قرار لري.

اتم

په دې وروستیو کې امریکایان او دهغوی ملګري که څه هم په پوځي برخه کې د شاتګ په حال کې دي خو په تبلیغاتي برخه کې یې هڅې تر پخوا زیاتې شوي دي.

د یرغلګرو ددې کړنې په وړاندې باید څه وشي تر څو مو ولس له تبلیغاتي یرغل څخه غوندې پاته شي.

ځواب :

امریکایانو د افغانستان اشغال د تبلغاتو په مټ پیل کړی ، پاللی او بالاخره پایته رسولی دی.

تبلیغات د معاصرې نړۍ په سیاست کې د مقابلې ګټلو لپاره تر ټولو موثره طریقه ده ؛ ځکه دښمن هم په تبلیغاتي جګړې هغومره ترکیز لري لکه په پوځې هغې چې یې لري.

د دښمن د دغې جګړې د ناکاره کولو او شنډولو لپاره مجاهدینوته په کار دی چې په تبلیغاتي ډګر کې

په بالمثل اقدام لاس پوري کړي او له دښمن سره د تبليغاتي مقابلې لپاره خپل ټول توان په کار واچوي.

د امريکايانو تبليغاتي جګړه هم همداسې له وحشت، بربريت او بې اخلاقۍ توبه ډکه ده لکه دهغوی پوځي جګړه، د هغوی تبليغات پر کذب او عدم مصداقيت بناء دي هغوی د واقعيت په ساحه کې له دروغو پرته بل داسې څه نه لري چې نړيوال او افغانان ورباندې قانع کړي.

خو اوس چې په افغانستان کې د امريکايي پوچو تبيغاتو ماهيت هرچاته مالوم شوی نو هيڅ څوک ورباندې باور نه کوي، حتی په ډېرو مواردو کې دوی خپل تبيلغات په خپله تکذيبوي.

ډېر ځله خپله امريکايي مطبوعات د سپينې ماڼۍ د چارواکو هغه ادعاوي چې په افغانستان کې يې د لاسته راوړنو په اړه کوي په خپلو نشراتو کې په مضحکي تعبيروي او پوري خاندي.

مجاهدين بايد د دښمن د دغه سنګر د فتح کولو لپاره پرصادق اعلام اتکاء ولري، اعلامي او تبليغاتي مواد يې ريښتوني، بامسؤليته او قناعت کننده وي. بامصداقيته او پروخت تبليغات د دښمن د اعلامي جګړې په له منځه وړلو کې مهم رول لوبولای شي.

نهم

او په پای کې که دا راته وواياست چې په افغانستان کې د اسلامي نظام او سرتاسري سولې راتلو ته څومره اميدوار ياست څه بايد وشي چې افغان اولس خپلې دې ارمان ته وصل شي؟

ځواب:

مسلمان بايد پر اللهي تقديراتو باور ولري او هميشه د خپل راتلونکي او خپلې جامعې د مستقبل په اړه متفائل وي.

مسلمانو افغانانو د الهي نظام د انفاذ او له يرغلګرو څخه د خپل هيواد دآزادي لپاره ډېرې قربانۍ ورکړي، ډېر زحمتونه يې ګاللي او نهايت زيات مظلوميتونه يې ليدلي.

الله تعالی غيور ذات دی او مونږ پردې يقين لرو چې د مظلومو افغانانو دغه مظلوميتونه او قربانی به حتما نتيجه ورکوي او له برکته به يې اسلامي افغانستان د اشغالګرو له واکمنۍ آزاد يږي.

هغه وخت به بيا ځوريدلي افغانان په خپلواک افغانستان کې د اسلامي نظام تر سيوري لاندې د يوه ډاډمن، سوله ييز ژوند او مستقل برخليک خاوندان وي ... ان شاء الله

وما ذلک علی الله بعزيز.

وفقکم الله تعالی

دامام مسلم (رحمه الله)

دژوند مختصر حالات

سید سعید

ابوالحسین مسلم بن حجاج بن ورد بـن کرشـان قشیري نیشـاپوري مشـهور پـه (امـام مسـلم رحمـه الله) پـه ۲۰۴ یـا ۲۰۶هق،کال دخراسان په نیشاپور کي زیږیدلی اوپـه ۲٦١ هـق ،کـال دڅڅ\ ۵۷ کلونـو پـه عمـر دنیشـاپور پـه نصرـ ابـادکي وفات اودفن شوی دی .

امام مسلم (رحمه الله) پـه ماشومتوب کي دعلـم طلب پیل کړ، دمبارکو احادیثودزده کړي پـه موخـه یـې لیري – لیري سیمو ته سفرونه وکړل اودوخت دزیده علماوو څخـه یـې علمي فیض حاصل کړ، دبېلګې په توګه په خراسان کي یې دیحی بن یحی او اسحاق بن راهویه اوپه عراق کي یې دحنبلي مذهب لـه امام احمد بن حنبل څخـه دحدیثوسماع کـړې ده ،همدا راز پـه حجاز،شام اومصر کي یې دمختلفواستادانوڅخه احادیث ویلي دي .پـه ټولـه کـي امـام مسلم (رحمـه الله) د(۲۲۰) اسـتادانو څخه علمي فیض تر لاسه کړی دی .

امام مسلم (رحمه الله) سره له دې چي پـه علـم حـدیث اوفقـه کـي بـه پـه غـور اوتتبـع بوخـت ؤ دحـلال رزق دحصـول اودمخلوق له طمع څخه دحفاظت پـه موخـه تجارت هـم کـاوه، دامام مسلم دعلمي نبوغ اوازه تـر ډیروسیمورسیدلې وه ، پـه ذکاوت او لوړعلمي استعدادیې دعلماوو اتفاق دی ، پـه کـوم ځای او وخت کي چي دحدیثو دعلم څخه بحث کیـږي هرومـرو ورسره دامام بخاري او امـام مسـلم نومونـه ذکـر کیـږي ،دامـام مسلم ودرس ته دلیرو علاقو څخه داحادیثوطالبان اودنبوي میراث مینه وال راتلل ، ددوی په درس کـي داسـي هسـتی هـم وروزل شوې چي وروسته یې دامت دنومیالیومحـدثینواوعلماوو نقش ولوباوه ، دڅینوشاګردانونومونه یې په لاندي ډول دي :

1. ابو عیسی ترمذی
2. ابو حاتم رازی
3. ابوبکر محمد بن اسحاق ابن خزیمه
4. موسی بن هارون
5. ابو عوانه یعقوب بن اسحاق اسفرائینی
6. یحیی بن صاعد (ت:)
7. ابراهیم بن محمد بن سفیان
8. ابراهیم بن ابی طالب

دمسلم بن حجاج (رحمه الله) او امام بخاري (رحمه الله) ترمنځ خوراصمیمانه اودوسـتانه اړیکـي موجـودي وې ، دوی یـو بـل تـه پـه خـورا درنښـت قایـل وو، ابوالحسـین مسـلم دامـام بخاري ډیرخدمت و کړ او نوموړی یې خپل استادباله ،کله چي دوخت حاکم خلګو ته وویل چي : نور دي له امام بخاري سره لیده کاته نه کوي امام مسلم بې له ډاره دپخوا پـه شـان دامـام بخاري سره ملاقات کاوه ،په علم حدیث کـي بخـاري اومسـلم (رحمة الله علیهما) ته شیخین اوکتابونو ته یې صـحیحین ویـل کیږي اوکوم احادیث چي په بخاري اومسلم دواړوکي ذکرشوي وي متفق علیه بلل کیږي .

مسلم شریف دوهم صحیح کتاب ګڼل کیږي ، دامت په ا تفاق سره صحیح بخاري اوصحیح مسلم ترقران کریم وروسته تر ټولوکتابونوصحیح کتابونه اومعتمدمراجع دي ، دمسلم شریف یوه ځانګړتیا داده چې داحادیثوټول متون اوطرق یکې یوځای شوي دي ، امام مسلم په خپل صحیح کي معلق احادیث نه دي ذکر کړي ، مسند اومرفوع حدیثونه یې دصحابه کرامو اوتابعینو داقوالوڅخه پرته مرتب کړي دي .

دمسلم شریف شرح ، اختصار اودفقهي مسایلو بیان دعلماوو توجه جلب کړې او دالجامع بخاري په څېر پرصحیح مسلم هم ډیر شروحات لیکل شوي ،دلته یې دځینو مشهوروشرحونومونه ذکر کوو:

«المعلم في شرح کتاب مسلم » دامام ابوعبدالله مازري تالیف ،

«اکمال المعلم في شرح صحیح مسلم » دقاضي عیاض تالیف

«المنهاج في شرح صحیح مسلم بن الحجاج »دامام محیي الدین نووي تالیف

«فتح الملهم » دعلامه شبیر احمدعثماني اومفتي تقي عثماني تالیف

امام مسلم دصحیح مسلم څخه علاوه همدا لاندې ذکر شوي کتابونه هم تصنیف کړي دي .

1- کتاب العلل
2- کتاب الأسماء والکنی
3- کتاب الأقران
4- کتاب المخضرمین
5- کتاب من لیس له إلا راو واحد.
6- کتاب اولاد الصحابة
7- کتاب المسند الکبیر
8- کتاب الجامع الکبیر
9- کتاب التمییز
10- کتاب طبقات التابعین.

امام مسلم (رحمه الله) دخپل عمر پنځلس کاله دصحیح مسلم و ترتیب اوتدوین ته وقف کړي دي .دتاریخ یافعي په حواله امام مسلم ددرولکومسموع احادیثو څخه خپل صحیح (مسلم شریف)تصنیف کړی دی .

دامام مسلم (رحمه الله) تر وفات وروسته ابوحاتم الرازي نوموړی په خوب کي ولید، پوښتنه یې ځني وکړه چي څه حال دي دی، مسلم (رحمه الله) ورته وویل چي « الله تعالی دومره احسان راسره کړی چې دجنت په هرځای کې یې داوسیدلواجازه راته کړې ده» .

ابوقریش الحافظ وایې دمحمد بن بشار څخه مې واوریدل چي : « په نړۍ کي ځلور تنه حفاظ وو، محمد بن اسماعیل په (بخارا) کي ، ابوذرعه په (ری) کي ، مسلم په (نیشاپور) کي اوعبدالله الدارمي په (سمرقند) کي »، محمد بن عبدالله فراء وایې چې: « مسلم بن حجاج دتکره اونومیالیوحفاظو، عالمانو او محدثینوڅخه ؤ او تر امام بخاري وروسته په خراسان کي دحدیثوستر امام ؤ » .

منابع :

ویکیپیدیا، موقع الدار الاسلامیه للاعلام، اهل سنت جاسک، پایګاه وا اسلاماه.

دعظيم الشان قــرآن حقوق...!

سيد شيرازي

دهدايت دوه ډولونه:

دهدايت يو ډول نظري فكري او علمــي دى او دويــم عمــلي، اخلاقــي اوډژوند د چارو اومعمولاتو په ضمن كې دى،يعنې په انسان كې دحق اوباطل ترمنځ د تميز صلاحيت پيدا كول.

لومړى ډول:

هرڅه چې په نظر راځي او ليدل كيږي، حقيقت ندي، بلكې هرهغه څه چې دنظر اوليد ترشاه دى حقيقت دى، په كايناتو كې كوم څه چې په نظر راځي هغه حقيقت نـدي، بلكې حقيقت دهغـو ترشا دى، يـو زمـوږ ظاهري وجود دى، په كوم كې چې درد محسوسولى شي، خو دا هـم حقيقي جود نـدى بلكې حقيقي او روحاني وجود هغه دى چې هغه په ستر گو نه ليدل كيږي.

هم داسې ددنيا نظام دي، دلته رنگيني شته، دژوندان اسباب او توكي شته، خو حقيقت يې ترشاه دى يعنې اخرت -داكوم ظواهر چې په نظر راځي كه ددي په ځاى توجه په حقايقو وه،نو دا نظري هدايت دى، يعني دظاهر اودباطن حق اوباطل فرق معلومول هدايت دى، په دري حقايقو يعني دالله (ﷻ) په ذات، دانسان په روح اويه اخروي حيات باندې چې گله ددري ظواهرو (كاينات، انساني جسم، او دنيوي حيات) پرده وغوړيږي،ديته دجل او دجاليت ويل كيږي، درسول الله (ﷺ) نه په اړه يې يوه خوږه دعا منقول ده:

اَللّٰهُمَّ أَرِنَى حَقِيقَةَ الأَشيَاءِ كَمَا هِيَ.

الله! راتـه دټولوشيانو حقيقت هغسي وښيې، څنگه چې هغه دي.

دويم ډول:

دويم دى عملي هدايت، داهم دوه درجې لري ۱... انفرادي ۲... اجتماعي.

انفرادي هدايت دادى چې انسان دا وپيژني، چې څه وكرم او څه نه؟ خيركوم دى او شركوم ؟ دا (انفرادي) هدايت الله(ﷻ) دهر انسان د زړه دننه اچولى دى څنگه چې د الله وينادە:

﴿ونَفسٍ وَّمَا سَوَّهَا، فَأَلهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقوَاهَا﴾الشمس:۷، ۸.

هم دا وجه ده چې عظيم الشان قرآن په انفرادي معاملاتو دومره زور نه اچوي، ور تـه معروف اومنكروايي، يعني هغه څه چې دهغونه انسان خپله خبروي،اومنكر هغه دى چې انسان ورنه فطرتاً نفرت كوي،څكه دنړۍ كوم ته انسان ته په دانه وي معلومه

چې رښتيا ويل ښه دي؛ او دروغ ويل بد؟.

اجتماعي هدايت:

د انسان په اجتماعي ژوند کې هد ايت ته ډېر اړدی،دا هغه ځای دی چې هلته په رسيدو انسان دافراط اوتفريط دواړو ښکار کېږي او په نړۍ کې درې اجتماعي مسئلې لويې دي:

۱... دنر او ښځې ترمنځ د حقوقو توازن

۲.... د حکومت او وګړو ترمنځ دحقوقوتوازن! يعنې دحکومت په وړاندې د وګړو لپاره څومره ازادې شته اوڅومره بنديز؛ او حکومت څومره ازاد دی اوڅومره پابند؟

۳.... په پانګه او محنت کې، دپانګوال او مزدور ترمنځ دحقوقو توازن، په درېواړو کې انسان هدايت ته محتاج دی او هدايت له عظيم الشان قرآن څخه ترلاسه کېږي:

اَلرَّحمٰن علم القرأن خَلَقَ الإنسَانَ عَلَّمَهُ البَيَان (الرحمن ۱، ۲، ۳، ٤)

رحمن دالله(ﷻ)په نومونو کې غوره نوم دی، اوقرآن په ټولو کتابونو کې غوره کتاب دی او انسان په ټولو مخلوقاتو کې غوره مخلوق دی اوبيان دانسان په ټولو صلاحيتونو کې غوره صلاحيت دی.

په دې اياتونو کې موږ ته ښوو نه شوې چې درحمن غوره مخلوق(انسان) ته پکاردي چې هغه خپل غوره صلاحيت (يعنې بيان) دالله (ﷻ) د غوره کتاب (قران) په بيانولو کې صرف کړي،ددې ټولو خبرو نتيجه داده چې په ټول قوت سره د ژوند په دواړو څانګو(انفرادي او اجتماعي) کې عظيم الشان قرآن ته رجوع پکارده او ددې لپاره مسلسل کوښښونه پکاردي، څو ټول مسلمانان له عظيم الشان قرآن سره ونښلي، قرآن ياد کړي او نوروته يې وښيي، پخپله ځان پوی کړي اود نورو پوېولو کوښښ وکړي په دې توګه به زمونږ ټول مشکلات اسان شي.

دقرآن مجيد پنځه حقوق:

نن سبا په نړۍ کې دحقوقو جنګ روان دی، څوک دښځو دحقوقو نارې وهي څوک دخارويو دحقوقو؛ او مسلمانانو ته ترننه معلومه نده، چې په دوی(مسلمانانو) دعظيم الشان قرآن حقوق څه دي؟ بايد زده کړو چې قرآن مجيد په مسلمان پنځه حقوق لري:

۱... ايمان اوتعظيم- ۲... تلاوت او ترتيل ۳.... تذکر اوتدبر۴... حکم اواقامت ۵... تبليغ اوتبين.

لومړی حق.... دايمان او تعظيم.

د ايمان دوه برخې دي يو اقرار او بل تصديق،خو موږ اقرار کوو، ليکن يقين او تصديق مو پوخ ندی، له دې وجې موږ مسئوليت لرو له خپلو زړونو وپوښتو چې ايا دمتوارثې ديني عقيدې په اساس قرآن يو مقدس اسماني ګنوچې دژوند او جمله معاملاتوهغه هيڅ اړيکه نه لري؟ يا دا يقين لرو چې قرآن دالله کلام دی، چې د خلکو دهدايت لپاره ناز شوی څو هغوئ يې د ژوند لپاره اساس او دستور وګرځوي؟

پوښتنه داده چې دپوخ ايمان او يقين څنګه پيدا کېږي؟ ځواب دادی ددې د مندلو يوه اسانه زريعه دايمان اويقين له څښتانو سره صحبت دی، دصحابه وو (ﷺ) ايمان درسول الله (ﷺ) دصحبت نتيجه و، درسول الله(ﷺ) ورروسته مومنانو لپاره هم دايمان او يقين له خاوندانو سره صحبت ضروري دی او د دغسې خواصو دايمان منبع اوسرچينه قرآن دی، دهغه ورروسته درسول الله سيرت او دصحابه وو سيرت په مطالعه کولو سره هم معنوي صحبت مندل کېږي.

ايمان کوم مجسم څېزندی، چې له بيرون څخه دتن په بدن کې اېښودل کېږي بلکې دايماني رڼا شغلې دهر انسان دننه شتون لري، چې دبدو اعمالو کولو په وجه هغه تورې اوبدنوره ګرځيدلې وي او دهغو (سپرغيو او شغلو) دبيا رڼا کولو ته اړتيا ده، رسو ل الله(ﷺ) فرمايي:

إن هَذِهِ القُلُوبَ تَصدأُ كَمَا يَصدَأُ الحَدِيدُ إِذَا أَصَابَهُ المَاءُ، قِيلَ يَارَسُولَ اللهِ! مَا جَلَاءُ هَا؟قَالَ كَثْرَةُ ذِكرِ المَوتِ وَتِلَاوَةِ القُرآنِ (رواه البيهقى)

بيشكه زړونه زنګ نيسي، څنګه چې اوسپنه داوبو په رسيدو زنګ اخلي، عرض يې وکړ، داالله رسوله! هغه څنګه صفا کېږي ؟ رسول الله (ﷺ) وفرمايل:هروخت د مرګ يادول او دقران کريم تلاوت ډېر کول.

دويم حق:

دقران مجيد دويم حق دهغه قرائت او تلاوت کول دي،"قرائت" لفظ دهر کتاب لوست يا ويلو لپاره کارول کېږي او "تلاوت" لفظ يواځي دقرآن پاک ويلو ته خاص دی؛ وړاندې زمانه کې دقرآن قاري ته يې عالم ويل، خو دوخت په تيريدو سره کرار کرار دقاري لفظ دهغه چا لپاره و کارول شو څوک چې دقرآن مخارج او صفات لحاظوي اوپه اهتمام سره يې لولي.

بيا، بيا دقرآن کريم تلاوت کول ضروري دی، څنګه چې دانسان بدن، بيا بيا خوراک ته حاجت لري، هم داسې دانسان روح غذا ته محتاج دی او دروح ترټولو ښه او عمده غذا د قران کريم تلاوت کول دي،د تلاوت ځيني حقوق دي چې دهغو رعايتول هم ضروري دي:

لومړی حق يې دادی چې قران کريم تلاوت بايد د تجويد قواعدو سره سم وکړای شي، يعنې په مخارجو، صفاتو رموزو او اوقافو علم پکاردی، څو دقرآن کريم دتلاوت حق ادا شي.

دويم حق يې دادی: چې هره ورځ معمول وګرځول شي، زيا ت نه زيات دتلاوت کولو نصاب هره ورځ لس سيپارې دي، اوکم نه کم نصاب يې هره ورځ يوه سيپاره ده، ددې دواړو په مينځ کې يو نصاب بل دی چې هغه دزياترو صحابه وو معمول و، هغه دی په يوه اوونۍ کې دعظيم الشان قرآن ختم ؛ په اوو منزلونو کې دقرآن تقسيم هم له دې پلوه دی چې يومنزل هره ورځ تلاوت شي،چې ديومنزل تلاوت دوه نيم ساعته وخت نيسي

دريم حق يې په خواږه غږ کې تلاوت کول.

رسول الله (ﷺ) فرمايلي:

زينوا القرآن بأ صواتكم (سنن ابى داود۱توک، ۵۴۸مخ)

قرآن په ښايسته غږونو لولئ!

بل روايت دی

ليس مِنا مَن لَم يَتَغَنَ بِالقرآنِ (سسنن ابى داود، ۱توک ۵۴۸مخ)

هغه چې قرآن په ښه انداز نه لولي زمونږ څخه ندی.

څلورم دا چې دظاهري اوباطني ادابو لحاظول، يعنې په اودسه کې يې کول، قبلې ته مخ اړول، اعوذبالله اوبسم الله ويل، دزړه په حضور يې کول، په مسلسل تذکر،تفهم اوتدبر تلاوت کول، په قرآن کې د ځانه دجوړو نظرياتو او خيالاتو سند نه لټول بلکې دهدايت په نيت يې تلاوت کول.

پنځم دا چې په ترتيل سره يې کول څنګه چې دالله (ﷻ) ارشاددی:

وَرتِلِ القُرآن ترتيلا... قرآن .... داسې تلاوت دزړه دتثبيت زريعه دی، الله (ﷻ) فرمايي:

﴿وَكَذَ لِكَ لِنُثَبِتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلنَه تَرتِيلا(الفرقان﴾

او هغسې مو (نازل کړی) څو ستاسې زړونوته ثبات وبښو! نو چې کله يې لولئ ... په ترتيل سره دقرآن تلاوت کولو کې فيض مندل کېږي، په يو روايت کې دي، دقران تلاوت کوئ اوژاړئ!

شپږم دا چې قرآن پاک حفظ کړای شي، د حفظولولپاره دا چې چې ټول حفظ شي، ضروري نده بلکې دوس سره برابر چې څومره زيات حفظ کړای شي ښه دی.

دريم حق : تذکر اوتدبر

يعني په قرآن پوهيدل؛ له پوهې نه پرته دقرآن تلاوت کول دهغو خلکو لپاره جوازلري ، چې هغوی دليک

لوست نه محروم پاتې وي،اوعمر یې هغه حدته رسیدلی وي، چې ورته یادول ناشوني وي،که داسې خلک مات ګډ تلاوت وکړي یاپې ونکړي یواځې دعقیدت په بناء په کرښو یې ګوتې تیرې کړي،ورته ثواب رسي، خوهغو خلکو ته چې په مختلفو علومو اوفنونو کې زده کړې بشپړې کړي وي اوپه کې ژوند یې صرف کړی وي،خپلې لاځه چې پردی ژبې یې هم یادې کړې وي،د داسې خلکو لپاره ضروري ده چې هغوئ خامخا د قرآن فهم ترلاسه کړي.

دمدارجو فهم:

دقرآن د فهم درجې دوه دي ۱... تذکر بالقران ۲... تدبر فی القران

۱... تذکر بالقران دقرآن څخه نصیحت حاصلول، په دې اعتبار قران مجید اسان کتاب دی، دالله (ﷻ) ارشاد دی:

﴿وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ﴾ القمر ۱۷

موږ قرآن دنصیحت حاصلولو لپاره اسان کړی ، ایا شته کوم نصیحت اخیستونکی؟

الله (ﷻ) د قران په نازلولو سره په هرانسان داحجت قایم کړی، که هغه دځومره کم استعداد خاوند هم وي،ځکه دهر انسان لپاره له قرآن کریم څخه نصیحت ترلاسه کول اسان دی،هر څوک کولی شي چې له قرآن کریم څخه تذکر ترلاسه کړي.

۲... تدبر فی القرآن دادی چې په قرآن پاک کې غور اوفکر وکړای شي، قرآن مجید هغه سمندردی، چې دهغه د ژوروالي اندازه نه شکاري، صحابه وو (ﷺ) په تدبر اوتفکر کې کلونه کلونه تیرول،هغه عبد الله بن عمر(ﷺ) ته چې رسول الله (ﷺ) ورته په اوو ورځو کې دقران مجید دختم حکم کړی و، هغه یواځې دبقره سورة په تدبر کې اته کاله ولګول، حالنکه دایتونو شان نزول، عربي ژبه، او قواعد و دیادلو ته یې حاجت نه درلود.

امام غزالي دیوعارف په باره کې لیکلي دي، هغه فرمایي چې:زه د قرآن مجید یوختم هره جمعه کوم، اویوختم هره میاشت کوم، اویه یو په کال کې کوم او یو داسې هم دی چې هغه کې دیرش کاله تیر شول روان دی لا پای ته ندی رسیدلی.

په تدبر باندې دقرآن مجید تلاوت ځیني شرایط لري، ددې لپاره لومړی دعربي ژبې په قواعدو پراخ علم ضروري دی، په فصاحت او بلاغت کې یې ژور فهم لازمي دی، پردې علاوه داچې په کومه ژبه کې قران مجید نازل شوی دی، دهغې دصحیح فهم پرته دقرآن فهم نا ممکن دی، ددې لپاره دجاهلي ادب تحقیقي مطالعه هم ضروري ګڼل کېږي، دجاهلیت دزماني شاعرانو او خطباوو دکلامو نو مطالعه هم ورته پکارده، بیا پردې هم اکتفاء نده دقرآن خپل وضع کړي اصطلاحات دي، دهغو سره بلدتیا تراوږدې مودې پورې دقران مجید په لوستو سره ترلاسه کېدای شي، بیا دقران نظم پېژندل، نزولي ترتیب دایتونو او سورتونو خپلمنځي ربط پیژندل،داټول څېزونه ضروري دي، دټولو په باره کې مفسرینو دڅوارلس علومویادول ضروري ګرځولي،او د څوارلس علومو دیادولو خبره پخوانۍ ده، اوس په هغو سربیره، څو نور علوم هم متعارف شوي دي، په دې وجه دشپاړسو یا اتلسو علومو قید راوړل کېږي.

څلورم حق...د قران مجید څلورم حق دادی چې په هغه عمل وشي ،قرآن مجید نه دجادو اومنتر کتاب دی، چې محض لوستل یې د دفع بلیات لپاره کافي دي. اونه محض د برکتونو اوثوابونو کتاب دی، چې په دکان، کور کې دمړو دبښلو په نیت تلاوت شي، بلکې "هدی للناس" دخلکو لپاره هدایت دی، دنزول مقصد یې هدایت حاصلول دي او ژوند لپاره یې لاڅه ټاکل دي.

کوم تن چې دحق په تلاش لګیا وي،هغه ته دقران په حق والي یا نه والي یقین نه وي خو هغه خلک چې څوک یې حق ګڼي،وربانده ایمان لري، دهغه لپاره ضروري ده چې هغه قرآن

کريم پخپل ژوند کې عملاً نافذ کړي، هغه دقران په ښودلې لار تګ وکړي.

دعمل دوه اړخونه:

بيا ددي عمل دوه اړخه دي، يو انفرادي اوبل اجتماعي، په داسې احکامو کې چې هغه دانفرادي ژوند سره تعلق لري په هغو انسان سملاسي مکلف دی، البته هغه احکام چې داجتماعي ژوند سره تعلق لري، په هغو هغه سملاسي مکلف ندی،خو دهغو دسهي کولو لپاره يې ورباندې کوښښ ضروري دی.

پنځم حق.... تبليغ او يقين

دقر آن مجيد پنځم حق نورو ته دهغه رسول ، څنګه چې د رسول الله (ﷺ) ارشاد دی:

بَلِغُوا عَنِي وَلَو آيَه (سنن الترمذی ۴ټوک ۳۳۷مخ)

درسول الله (ﷺ) ددې ارشاد نه معلومه شوه، چې دتبليغ له دندې هيڅوک هم بري ندی، اګرکه يو ايت وي، اصلاً دا يوه فريضه ده چې دقرآن کريم الفاظ اومفهوم دنړی اقوامو ته و رسول شي، خو له بده مرغه چې دچا، چې ذمواري ده، هغه پخپله ديته محتاج دی، چې ترهغه ورسول شي، له دې وجې ضرورت ددې خبرې دی چې دقرآن زده کړه اوښودل عام کړای شي چې يومخ ټول مسلمانان دقرآن کريم له زده کړې برخمن وي.

دقرآن مجيد داپنځه حقوق دي خوپه عامه توګه چې نور کوم حقوق ګڼل کېږي هغه دادي چې دوريښمو په رخت کې پټ کړای شي، په جهيز کې ورکړای شي، سرميږي کې کيښودل شي او يا په نوي دکان اوکور کېدبرکت تلاوت کړای شي،په محکمو کې د سوګند خوړلو پرمهال ورباندې لاس کيښودل شي نعوذبالله من ذلک.

قران اوزمونږ طرزالعمل:

دحضرت عبيد مليکی(ﷺ) نه روايت دی، رسول الله (ﷺ) فرمايلي:

يَا أهلَ القرآن! لاتتوسدوا القرأن واتلوه حق تلاوته من أناء الليل والنهار وافشوه وتغنوه وتدبروا فيه لعلکم تفلحون.

دقرآن خاوندانو! قرآن شاته مه غورځوئ! او هغه داسې تلاوت يې کوئ چې څنګه دهغه حق دی په سهار اوماښام ،هغه خپور کړئ، په خواږه غږ کې يې لولئ، اوپکې تدبر کوئ څو کاميابې ومومئ!.

"لاتتوسدوا" يعنې شاه ته يې مه غورځوئ! تکيا يې مه ګرځوئ، مونږ دبرکت په ګڼلو دکورونو په طاقونوکې ايښې دی، دخپلو سوکندونو يې لپاره يې را اخلو، يسين سورة په مرګ ته نيږدې تن تلاوت کوو،زمونږ له اوسنی حالت سره درسول الله (ﷺ) لاندې فرمان سمون خوري:

اِنَ الله يرفع بهذا الکتاب أقواماً ويَضعُ بِهِ آخِرين (صحيح مسلم)

دشکه پرته الله (ﷻ) ددې کتاب (قرآن) له لارې ډېرو قومونه لوړوي او ډېر غورځوي.

يعنې په دينا کې دقوم په حيثيث زمونږ تقدير ددې کتاب سره تړلی دی، دحجة الوداع په خطبه کې يې وفرمايل:

وقد تَرکتِ فِيکم مالن تَضِلوا بعده، إن اعتصمتم به: کتاب الله- (صحيح مسلم)

زه ستاسو ترمنځ هغه څېز پريږدم او درومم، څو چې تاسي په هغه مونګلي خښي نيولې وي ګمراه به نشئ او هغه دالله کتا ب دی.

له حضرت علي(ﷺ) نه اوږد حديث روايت دی:

عن عل(ﷺ) قال:إنی سمعت رسول الله (ﷺ) يقول: إنها ستکون فتنة، قلتُ: ما المخرجُ يارسول الله(ﷺ)؟ قال: کتاب الله، فيه نَبأُ مَا قَبلَکُم، وخَبرُ مابَعدکُم ، وحُکمُ بَينِکم، هوالفصل ليس بالهزلِ، من تَرَکَه مِن جَبَارٍ قَصَمهُ اللهُ ومَنِ ابتَغى الهُدى فِي غيرِهِ أَضَلهُ اللهُ، وَهو حَبلُ اللهِ المَتِين، وهوالذِکرُ الحَکِيم، وهو الصراط المستقيم(سنن الترمذی ۵ټوک ۱۷۲مخ)

حضرت علی(ﷺ) وایي: ما درسول الله (ﷺ) نه اوریدلي رسول الله (ﷺ) فرمایلي: ډېر ژربه فتنه ښکاره شي، ما وپوښتل:تري دوتلو لار څه ده؟ (که د نن مسلمان وای، پوښتل به یې کله به وي؟ څه به وي؟ کوم ځای به وي؟ خو دصحابه وو(ﷺ) سره دخلاصون اونجات فکر دومره هر وخت ملګری و ، چې ژرېي وپوښتل دهغې نه دخلاصون لاره څه ده؟) رسول الله (ﷺ) وفرمایل: هغې نه د خلاصون لار دالله کتاب قرآن دی،په دې کې له تاسونه دمخکي او وروستو خبرونه شته، پکې ستا سو ترمنځ فیصلې شته او هغه فیصل قول دی،عبث ندی، کوم سرغړونکی یې چې پرېږدي او ددې پرته دبل هدایت لټون و کړي الله به هغه بې لارې کړي قرآن دالله رسی دی، محکم نصیحت دی او صراط مستقیم دی.

قرآن دالله(ﷻ) رسی ده:

په حج سورة کې الله (ﷻ) وفرمایل: ﴿وعتصموا بالله﴾ داچې خبره ښکاره نه وه، په ال عمران کې یې شرح وکړه: ﴿واعتصموا بحبل الله﴾ بیاهم خبره ښه ښکاره نه وه، احا دیثو یې تشریح وکړه:

١... ترمذی شریفکې حدیث دی: رسول الله (ﷺ) دقرآن فضایل بیانول وي ویل: "هو حبل الله ا لمتین" دغه قرآن دالله کلکه رسی ده، په بل حدیث کې ددینه هم زیات وضاحت شوی:

"الیس تشهدون أن لاإله إلا الله وحده لاشریک له وأنی رسول الله وأن القرأن جاء من عند الله؟ قلنا بلی: فابشروا فإن هذا القرأن طرفه بیدالله وطرفه بأیدیکم فتمسکوا به فإنکم لن تهلکوا ولن تضلوا بعده أبدا(طبرانی کبیر)

ایا تاسي په دې خبره شاهدې نه کوئ چې دالله تعالی پرته بل هیڅوک معبود نشته اوزه دالله رسول یم! اوقرآن دالله کتاب دی،صحابه وو(ﷺ) وفرمایل:ولي نه؛ رسول الله (ﷺ) وفرمایل: زیری واری! ددې قرآن یو طرف دالله په لاس کې دی او بل یې ستاسې لاس کې دی، نو کلک یې ونیسی! ددې وروسته به هیڅکله ګمراه نشئ! په ورته توګه دمصنفه ابن شیبه روایت هم راغلي :

قال رسول الله(ﷺ) کتاب الله هو حبل الله الممدود من السماء إلی الأرض

دالله کتاب دالله رسی ده، چې د اسمان نه تر زمکې غوړېدلې .

مولانا ابو الکلام ازاد لیکي:

که څوک له مسلمان څخه د ټولو بدبختیو اوبربادیو د حقیقي علت معلومولو پوښتنه وکړي، خو ترځنګ ورته دا شرط هم کېږدي چې یواځې یوداسې علت به په ګوته کوي، چې هغه د ټولو علتونو او اسبابو لپاره جامع وي؛ نو هغه ته داځواب ویلی شي[دحقاني عالمانو،دصادقینو مرشدینو فقدان او دعلماءِسوء، مفدسدینو اود دجا لینو کثرت]

رَبَنَا إِنَّا أَطعنَا سَادَتَنَا وكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُونَا سَبِيلَا.

اوکه بیا هغه وپوښتي، چې په یوه جمله کې ددې علاج څه دی؟ نو ورته دامام مالک (رحمه الله) په الفاظو کې ځواب ویلی شي:

لَايَصلِحُ آخِرُ هَـذِهِ الأُ مَّـةِ اِلَّا بِمَا صَلَحَ بِهِ أَوَّلَهَا

یعنې دامت دورستي دور اصلاح ترهغې نشي راتلی، څو هغه طریقه غوره نکړای شي، په کومه چې د لومړي دور خلکو اصلاح مندلي وه، او هغه ددینه سیوا بل څه نه و، چې دقرآن حکیم داصلي او حقیقي معارفو دتبلیغ لپاره ربتیني مرشدان پیدا شي(الهلال لومړی ټوک)

دعصري پوهنتونونه دوتلو خلکو دسر سړی علامه محمداقبال دی او دديني مدرسو نه دوتلو خلکو دسر سړی حضرت شیخ الهند(مولانا محمود الحسن) رحمه الله دی

شیخ الهند رحمه الله دهندوستان دجمعیت علماء مشر و، په کوم کې چې دهندوستان ټولو علماوو(که هغه

بریلویان، دیوبندیان، اهل حدیث وو) ګډون لاره، نوموړي دهندوستان دازادۍ ترټولو مخکښ قاید اومجاهد و، دوربښمي دسمالونو په نوم دیو ډېر لوی جهادي تحریک دراز برسیره کېدو په مهال کې حجاز کې دانګریزانو په غوښتنه ونیول شو اوبیا هغوی ته وسپارل شو،دمالټې جزیرې دننه قید کړای شو، د څلور کاله قید تیرولو وروسته دنري رنځ ناروغي يې ترخطرناک برید واښته،له امله یې انګریزانو ازاد کړ، کله چې نوموړی ازاد شو او د بمبي په ساحل ښکته شو، هرکلي ته یې دهندوستان مهاتها ګاندي مولانا ابو الکلام ازاد او دهندوستان دهغه مهال ټول رهبران ولاړول،کله چې دیوبند دارلعلوم ته ورسید، دشپې دعلماوو مجلس ته وویل: په مالټا کې ما دوه خبرې زده کړي:

ما چې دمحبس دننه په تنها یې کې په دې خبره (چې په نړۍ کې مسلمانان ولي مغلوب دي؟ راته دوه اسباب ښکاره شول، یو داچې چې مسلمانانو قرآن ته شاګرکړي، دویم داچې مسلمانان پخپلو منځو کې سره په جنګ دي!له دې وجې ما له هغه ځایه دا عزم کړی او راغلی یم، چې خپل پاته ژوند به په دې کې صرف کوم، چې لفظاً او معناً قرآن کریم عام شي، دلفظي تعلیم لپاره په هر هر، کلي او تپه کې ښوونځي او مکاتب جوړکړای شي، دلویانو لپاردقران پاک درسونه شروع کړای شي څو هغوی یې دمعانیو سره په اشنا کېدو، په قرآني لارښوونو هغوی عمل کولو ته اماده کړای شي اوهم دمسلمانانو ترمنځ خپلمنځي جنګونه او اختلافات هیڅکله دزغملو ندي.باید په کله یې مخنیوی وکړو!

اوعلامه اقبال چې دمسلمانانو دستونزو حلولو لپاره کومه نظریه وړاندې کړې هغه داده:

خوار از مهجوری قران شدی
شکوه سنج گردش دوران شدی
ای چون شبنم بر زمین افتنده
در بغل داری کتاب زنده

موږ دقران په پرېښودو سره خوار شو، اوشکوه له زمانې کو، اي شخصه! چې دشبنم پشان په زمکه پریوتي یې تا سره په تخرګ کې یو ژوندی کتاب دی، دهغه نه ګټه واخله!

داپه حقیقت کې دفرقان سورة ددې لاندې ایت مفهوم دی، چې پکې درسول الله (ﷺ) داستغاثې فریاد راوړل شوی دی:

وقال الرسول یرب ان قومی اتخذوا هذا القرأن مهجورًا (الفرقان:۳۰)

او وایي به رسول، زما ربه! زما قوم قرآن ترک کړی و.

بل ځای وایي:

گر تو می خواهي مسلمان زیستن
نیست ممکن جزبه قرآن زیستن

که ته غواړې چې ژوند مسلمان اووسې نو دا دقرآن پرته ناشونې ده.

لنډه چې مسلمانان څو په کله قرآن په حقیقي معنی سره خپل دهدایت لپاره سرچینه ونه مني، خپل اعمال او اخلاق اومعاملات دقرآن سره سم نکړي دژوند په دواړو انفرادي او اجتماعي ډګرونو کې په ریښتنې توګه قران ته رجوع ونکړي په نړۍ کې به غلبه اوبری ونه مومي څومره چې مسلمان دقرآن څخه لرې کېږي هومره وربانديې دزول شیبې را درومي اوپه یقین سره که مسلمان ځان قرآن ته نیږدې کړ اوقرآن ته یې رجوع په ځان لازمې کړه په نړۍ به یې دبري او غلبې تیربرم بیرته را وګرځي اوپه څلور کونجه نړۍ کې به خپل رعب او دبدبه کینوي.

ګلونه پاڼې

آزادي

نظام کندهار

درته لوګی مو کړې خواني نو ته به کله راځې
زما معشوقې آزادي نو ته به کله راځې

ستا د راتلو لار مو د تن په وینو و وینځله
چې اوس لا هم ګرځې پردې نو ته به کله راځې

مونږ دې په مهر کې سرونه او زړګي وشیندل
اې نازولې ناوکې نو ته به کله راځې

نور دې طاقت د جدایی د تیارو نلرو مونږ
راشه قربان سپینې سپوږمۍ نو ته به کله راځې

مونږ ستا په هیله د اورونو سره لوبې وکړې
د ارمانونو ښاپیرۍ نو ته به کله راځې

سترګې دې بیا یو وار راووینه یو تږې درته
ولې مو نه اورې زارۍ نو ته به کله راځې

په عاجزۍ کومه سوال چې راپخولا شه نوره
اوس مې آخیرې شوې سلګۍ نو ته به کله راځې

سوړ کې تله!

حافظ محمد قاسم زهیب

د خدای رضا ده ستا رضا مشفقې
مورجانې غواړم دې دعاء مشفقې

ستا ددعاوو برکت یې بولم
زه چې ګټم کومه بریا مشفقې

ستا بې وجوده زه کور ګور ګڼمه
مونږ نابینا وو ته بینا مشفقې

تورو تیارو کې راته لارې ښیه
د څوارلسم سپوږمۍ رڼا مشفقې

تاته هیڅ تونده خبر نه ده روا
درته به کړو نرمه وینا مشفقې

ښکلې جنت دې قدمو لاندې دی
درکړی دا قدر الله مشفقې

که رانه کله خپه شوې یې ته!
زهیب ته وبښه خطا مشفقې

غربي

طالب العلم نصرت زرمتی

غربیه نور دې داشغال مې له خماره وځي
ساقیان دې وګورد چې یو یو له کتاره وځي

ستا پاک حریم ته یې اورد کړې و ناپاک لاسونه
کابله خود به ستا له غیږ هر ګنهګاره وځي

دومره ګوزار کوه چې خپله یې هم توان ولړې
که نه له خولې به دې همیش داسې کوکاره وځي

عمره ستا په خلافت یې بغاوت کړی دی
د انتقام تیغ به ضرور له هر غداره وځي

د آزادۍ دلارې خنډ ها تور حصار مات شوی
د وصال ورځې مو له ډیره انتظاره وځي

چې د غزا د رباب تار کش کړم غ [illegible]
بس [illegible] رته چ [illegible]

ژونده

چینارټکور

څومره درپه درې څومره سترې یې
ژونده! زه دې پېژنم نیمګړې یې

ته هم لکه ماغونده غمجن ښکارې
ته هم ددې وران وطن وګړې یې

اوس به دې نوور مه ترېوځای پوري
څه وکړمه اوس خو خدای راکړې یې

لېږې لېږې اوښکې مې درزار کړلې
وه! د ژوند ګلابه لا ومړې یې

وخته! ته هم هیچا ته څه نه وایې
بس په اوربوباریې تیار مړې یې

زه به دې زخمونو ته (تکور) کړمه
ځکه چې دمسات منګې کودړې یې

دماشومانو روزنه

عاصم

اروا پوهان په دې کې تقريباً ټول سره ورته نظر لري، چې پلرونه او میندې باید دخپلو اولادونو په روزنه اوتربیت کې دهر،هرماشوم فطري صلاحیتونو ته ښه دقيقه پاملرنه اوتوجه وساتي،څکه هغوی چې داولادونو دپالنې په لړکې کوم مسئولیتونه لري، دهغو نه یو دا هم دی چې دخپلو اولادونو فطري صلاحیتونه او وړتیا وځاري، یعنې باید معلومه کړي چې د ماشوم طبعي میلان په کومه خوا زیات دی ؟ په څه کې یې ذهن ښه اوتیز کار کوي؟ پخپل ژوند کې هغه دځه ډول هیلو او ارزوګانو دسرته رسولو سره علاقه لري؟ که مشروع امیدونه ولري، موراوپلار دي ورته هغسې اسانتیاوې په پام کې ونیسي.

له شک پرته که څه هم ماشومان دیوه پلار او یوې مورنه پیدا وي، خو دذهانت، مزاج اوقوت له پلوه شاید سره توپیر ولري، هوښیار پلار اوهوښیاره مور کولی شي چې د خپل ماشوم ذهني تګ لوری معلوم کړي اوهم بیا هغه ته هغسې ماحول چې په طبعیت دروند نه وي په پام کې ونیسي.

که ماشوم ذهین او فطین و او د درس ویلو سره علاقه ولري، مور اوپلار یې باید دخپل توان او و س په اندازه ورته ددرس او زده کړو بشپړولو اسانتیاوې برابرې کړي خو هغه وکړای شي، خپل نهایي مراد او مطلوب ته ورسي

که ماشوم دپوهې له پلوه منځنی درجه ذهن ولري خو طبعیت یې دعلم په ځای دکوم هنریادولو یاد کارو بار په لور میلان ولري، مور اوپلار ته یې پکاردي چې ورته دفرض عین علم دزده کړې وروسته داسې اسانتیاوې برابرې کړي چې د لارې یې هغه دخپلو مشروعو هیلو او ارزوګانو پوره کولو ته لار ومومي.

اوکه ماشوم ناپوه او ذهن یې کمزروی و، مور اوپلار ته یې پکاردي چې هغه په داسې کار او کسب یادولوته کینوي، چې هغه یې دزده کړې وس ولري.

داسلام څلورم راشد خلیفه حضرت علي(ﷺ) له رسول الله (ﷺ) نه دا روایت نقل کړی دی:

"اعملوا، فَكُل مُيَسرٌ لِما خُلِقَ لَهُ".کوښښ کوه، ځکه هرچاته دهغه څه توفیق په ورکول کیږي دکوم لپاره چې هغه پیدا شوی.مور اوپلار لپاره ضروري ده چې دخپل ماشوم رواني حالت وپیژني، هغه وارزوې، ذهني وړتیا او استعداد یې څانو ته معلوم کړي، دهر مشروع علم او فن دیادولو لورته چې هغه له ذهني پلوه میلان لري، ورته دهغه داسبابو او اسانتیا وو په برابرولو کې غفلت او سستې نه کوي.

مور اوپلار دماشوم دهغو خواهشاتو چې هغه یا پخپله ماشوم ته فایده رسوي او یا دټولنې او مسلمانانو په خیر او ښه رازي په وړاندې خندونه جوړنکړي، ځکه دا کار د ماشوم ذهني حالت ته ټکان رسوي او پرې منفي

اغېز فريباسي او دابيا په پای کې د ځوی او والدينو ترمنځ دجګړې او شخړو درامنځته کېدو سبب کېږي.

دابه بیا په انجام کې داړيکو دپريکون ترمرحلې ورسي او د ښکاره بغاوت دپولو هم پسي- ور اوړي، ددې سبب هغه پلار يا هغه مشر ګرځي چې محل اوموقع نه پيژني او په نتايجو نظر نلري، رسول الله (ﷺ) فرمايلي:الله (ﷻ) دې په هغه پلار رحمت نازل کړي چې هغه په نيک کار کې دخپل ځوی سره مرسته کوي.

له دې وجې دخپلو اولادونو په خاصه توګه چې دمعصوميت او کوچنيوالي له مرحلې نه وتلي، په روزنه کې يې دفطري صلاحيتونو لورته پام ګرځول ضروري دی، تجربو ښودلې چې دوهلو او ټکو لو پرځای دماشوم سره نرمه رويه اوچلند غوره دی هو! له حده زيات نوازش هم ښې پايلې نلري، خو له حده وتلې سختې بيخې بدې پايلې لري، ددې دواړو ترمنځ اعتدال اومنځلاريتوب غوره دی.

که يوماشوم بې لارې شو، دهغه داصلاح لپاره د علماوو، اولياوو، ارواپوهني د ماهرانو او دهغه دخپلو استادانو سره سلاوې اومشوره داصلاح لپاره ګټه لري او يکې خير اوبرکت هم ډېر دی.

په ځينو کورنيو کې ماشوم ته په نوازش کې له غير معمولي اهميت کار اخستل کېږي چې دا هم دګټې په ځای تاوان لري دا کارهم دماشوم لپاره کومه ګټه نلري اوهم دکورنۍ لپاره ، په کوچنيوالي کې ماشوم بايد داسې حس کړي، چې هغه دخپل کور يوعادي غړی دی، خومره چې دنورو حقوق دي هغومره زما هم دي، داسمه ده چې دانسانانو خواهشات له يوبل سره توپير لري او اړتيا وي جلا، جلا وي،خوهرخوک بايد خپل ځای او مقام وپيژني چې دا په راتلونکي کې دماشومانو په اخلاقو او کردار مثبت تاثير لري.

رباعيات

ابوسعيد ابوالخير

يا رب سبب حيات حيوان بفرست
وز خون کرم نعمت الوان بفرست

از بهر لب تشنه طفلان نبات
از سينه ابر شير باران بفرست

يا رب تو زمانه را دليلی بفرست
نمرودانرا پشه چو پيلی بفرست

فرعون صفتان همه زبردست شدند
موسی و عصا و رود نيلی بفرست

ای خالق خلق رهنمايی بفرست
بر بنده بی نوا نوايی بفرست

کار من بيچاره گره در گرهست
رحمی بکن و گره گشايی بفرست

رباعي

ای ذات و صفات تو مبرا زعيوب
يک نام ز اسماء تو علم غيوب

رحم آر که عمر و طاقتم رفت بباد
نه نوح بود نام مرا نه ايوب

داسلامي تشريع اساسات

مفتي شاهد (حقاني)

تقلـيد

ځيني خلک دشرعي تقليدپه باب له افراط نه کار اخلي اوداسلامي امت پر مسلمانومقلدينو طعن وايي ،پداسي حال کې چي نن سباد امت مسلمه غوڅ اکثريت په څلورو ګونو مذهبونو کې راغونډ دی او په قاطع اکثريت اهل مذاهب او مقلدين داسلامي امت دنورو مسلکونو پـه پرتلـه د(سواد اعظم) لويه او اعظمي برخه تشکيلوي ،تردې چې ځينـي علماء اود علم عقايد پوهان خو ددې اربعه مذاهبو نـه خروج ته بدعت هم وايي ،دفتنو پـه اوسنيو توپاني څپو کې، پـه شرعي لحاظ ديوه مسلمان لپاره تقليد کـې کومـه ستونزه نـه ليدل کيږي او علما ء يې دعواومسلمانانو لپـاره پـر وجـوب قول کوي ،لکه چې همدا خبره ددې عصر نامتو عـالم ،محـدث او فقيه علامه (محمد تقی عثماني رح) په خپله هغـه رسـاله کې ليکلې، چې دتقليد دشرعـي حيثيـت پـه بـاب يـې پکـې تحقيق کړی ،نوموړی وايي ، لکه څرنګه چې (امام شاه ولی الله محدث دهلوي رح)فرمايي : چې په قرون اولی کې دکوم معـين مجتهـد پـه تقليـد بانـدې خلـک نـه وو جمـع شـوي ،وروسته بيا په تقليد شخصي باندې اتفاق وشو،او بيا همـدا واجب شو،چې ددې واضح نظير ددريم خليفه حضرت عـثمان رض په دور خلافت کې دقرآن دجمع کولو واقعه ده، چې لـه اوو حرفونو څخـه يـې پـه يـوه حـرف (دقريشـو حرف)بانـدې خلک راجمع کړل او په همدې تلاوت لازمي کړل شو .

په حجة الله البالغه ج۱ص۱۵۴)کې حضرت امـام شـاه ولی الله دهلوي رح داسې فرمايي : ان هذه المذاهب الاربعـة المدونة المحررة قد اجتمعت الامة او مـن يعتـد بـه منهـا علی جواز تقليدها الی يومنا هذا ،وفی ذلک من المصالح ما لايخفی ،لا سيما فی هذه الايام التی قصرت فيها الهمم جـدا او شربـت النفوس الهوی واعجب کل ذی رأی برأيه...) ژ: له شـک پرتـه چې ددې څلورګونو مـدون شـويو او ليکـل شـويو مـذاهبو د تقليدپه جواز باندې د امت اجماع ده ،او پدې کـې چـې کـوم مصلحتونه دي ،هغه دچانه پټ نـدي ،او مخصوصـا پداسـې زمانه کې همتونه لويدلي ،خواهش پرستي دخلکو پـه ختـه کې اخښل شوي او هر درأيې خاوند په خپله رأيه کبر کـوي او مغرور دی .

له بده بخته چې ځيني نور خلک بيا (خدای ج مکره) تقليد ته شرک وايي او ناروا يې بولي ،دليل کـې هغـه آيـت راوړي ،چـې هغـه دمشرکينو پـه مـوردکې نـازل شـوی او هيڅکله ترې مسلمانان ندي مراد، او نه يې حکم مسلمانانو ته شامل دی (﴿وَكَذَٰلِكَ مَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَا إِنَّا وَجَدْنَا آبَاءَنَا عَلَىٰ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰ آثَارِهِم مُّقْتَدُونَ/ قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكُم بِأَهْدَىٰ مِمَّا وَجَدتُّمْ عَلَيْهِ آبَاءَكُمْ قَالُوا إِنَّا بِمَا أُرْسِلْتُم بِهِ كَافِرُونَ﴾ [الزخرف:۲۴/۲۳]

ددې غونــدې دنوروهغــو آيتونــو پــه تفســير کــې (اضواءالبيان فی ايضاح القران بالقران)کې داسې ليکـي(أما استدلال بعض الظاهرية کابن حزم ومن تبعه بهذه الآية الـتي نحـن بصـددها وأمثالهـا مـن الآيـات ـ علی منـع الاجتهـاد في الشرع مطلقاً، وتضليل القائل به، ومنع التقليـد مـن أصـله، فهـو مـن وضـع القـرآن في غـير موضـعه، وتفسـيره بغـير معناه...)ژ: چې دابن حزم غوندې دنورو ځينو اهل ظواهرو او ددوئ دپيروانو استدلال پدې آيتونوبانـدې، چـې ددې څخه شريعت کې داجتهاد منع ثابتوي او هغه څوک گمراه بولي، چې پدې قايل وي او اصـلاً لـه تقليدڅخه منـع کوي،نـودا دقرآن کريم وضع په غيرموضعه کې ده اودايې تفسير په غير معنی کې دی ،داځکه چې لـه عـالم څخـه دناپوهـه يـا جاهـل پوښتنه او دده په فتوی عمـل کـول ،فـی البـداهت ددیـن پـه اموراتو کې واضح دی او انکا ر پرې چا ندی کـری ،اوداهم معلومه خبره ده، چې عـامي بـه درسـول الله صـلی الله عليـه وسلم له اصحابو څخـه پوښـتنه کولـه ،نـو هغـه صـحابي بـه فتوی ورکوله او هغه به دده په فتوی، بانـدې عمـل کـاوه ،او هيڅ کوم چا له مسلمانانو څخه پدې استفتاء او فتـوی بانـدې اعتراض يا انکار نـدی کـری ، لکـه څنگـه چـې دا خبره هـم ډاگيزه ده ،چې کله کومه مسئله په کتاب او سـنت کـې ونـه موندل شي ،نو په کتاب او سنت کې دکـوم عـالم اجتهـاد دده دفهم او علم په اندازه ، داهم ددې لپاره چې له منطـوق څخـه دمسکوت عنه حکم معلوم شي ،دمنع او نـه منلـو لپـاره يـې کومه وجه نشته او دا نهج او دود درسول الله صلی الله عليه وسلم په اصحابو کې جاري وو،او لـه مسـلمانانو څخـه پـرې هيڅا انکار ندی کری .... (اضواءالبيان فـی ايضـاح القـران بالقران ج١٨ص٢٧٢)

يعني پدې ارتباط چې کوم آيتونـه دي، ددې نـه شرعـي تقليد مستثنی دی ،اوهغه چې مذموم تقليد دی، هغه دکفـارو هغه دی، چې دتوحيد ددعوت دمنلو پر خـلاف بـه يـې ويـل: چې مونږدخپلو پلرونوپيروي کوو،نو الله تعالی ورتـه ځـواب کې وويل : چـې کـه څـه هـم ستاسـو مشرـان او پلرونـه پـه ضلالت کې وو، نو بيا به يې هم پيروي کوئ ؟دلته که څوک له شرعي تقليد څخه هغه مذموم تقليد اخلي ،نـو لکـه چـې مخکې تفسير هم وليکل، دلته به دقرآن معنی په بـدل مفهـوم سره تعبير شوي وي او دقرآنکريم اصلي روح به دا نوي .

علامه ابن العربی په خپل تفسير(احکام القرآن لابـن العربی ج٣ص٣٨٣)کې ليکي : الْمَسْأَلَةُ الثَّالِثَـةُ : تَعَلَّـقَ قَـوْمٌ بِهَذِهِ الْآيَةِ فِي ذَمِّ التَّقْلِيدِ ، وَقَدْ ذَكَـرَ اللَّهُ سُـبْحَانَهُ ذَمَّ الْكُفَّـارِ بِاتِّبَـاعِهِمْ لِآبَـائِهِمْ بِالْبَاطِـلِ ، وَاقْتِـدَائِهِمْ بِهِـمْ فِي الْكُفْـرِ وَالْمَعْصِيَةِ فِي مَوَاضِعَ مِنْ الْقُرْآنِ .

وَأَكَّدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَلِـكَ ؛ وَإِنَّمَـا يَكُـونُ كَمَا فَسَّرْنَاهُ فِي الْبَاطِلِ .

فَأَمَّا التَّقْلِيدُ فِي الْحَقِّ فَأَصْلٌ مِنْ أُصُولِ الدِّيـنِ ، وَعِصْـمَةٌ مِنْ عِصَمِ الْمُسْلِمِينَ يَلْجَـأُ إلَيْهَـا الْجَاهِـلُ الْمُقَصِّرُ عَـنْ دَرْكِ النَّظَرِ .ژ: يعني دې آيت کې دکفارو مذمت پـدې شـوی ،چـې په کفر او معصيت کې دخپلو پلرونو پيروي کـوي ،خوالبتـه په حق کې تقليد ددين له اصولو څخه يو اصل دی .

امام قرطبي رح پخپل تفسيرالجامع الاحکام للقرطبـي کې دتقليد په باب دلانديني آيت په تفسير کـې خپـل تحقيـق داسې ليکلی :

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنْزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَـا أَلْفَيْنَـا عَلَيْـهِ آبَاءَنَـا أَوَلَـوْ كَانَ آبَـاؤُهُمْ لا يَعْقِلُـونَ شَـيْئاً وَلا يَهْتَدُونَ}.چې ځينوخلکودتقليد مذمت تـه ددې فـوق الـذکر

آیت سره تعلق ورکړی،پدې معنی چې څنګه چې الله تعالی دکفارو مذمت لدې امله وکړ،چې دوئ په باطل کې دپلرونو اتباع کوي ،او ددوئ پیروي په کفر او معصیت کې کوي ،نو لدې امله یې تقلید مذموم دی، خو دا په باطل کې صحیح دی او هرچې په حق کې تقلید دی، نو داددین له اصولو نه یو اصل دی او دا مسلمانانودعصمتونو نه یو عصمت دی، چې د درک له نظرنه مقصر جاهل او ناپوهه ورته پناه راوړي ،لکه پدې عبارت کې چې فرمایي ((أما التقليد في الحق فأصل من أصول الدين ، وعصمة من عصم المسلمين يلجأ إليها الجاهل المقصر عن درك النظر)).

البته دعلماواختلاف پدې باب شته ،چې آیا اصولوددین کې هم تقلید روا دی ،که یوازې فروعو کې ؟ نو صحیح داده، چې تقلید ددین په فروعوکې روا دی او دې کوم شک وشبهه نده پکار!

قرطبي وايي :چې دعلماوو په نزد تقلیدهغه دی، چې دبل چا قول له حجت اودلیل نه په غیر قبول کړي ،نو پدې اساس، چاچې دپیغمبرصلی الله علیه وسلم قول په معجزه کې له نظر نه په غیر منلی، نو دا شخص مقلد دی او که کوم چاپه معجزه کې نظر اوفکر کړی او بیا یې منلی ،نو دا شخص بیا مقلد ندی ،هاغه عامي یا امي کس ،چې په دیني مسایلو کې دعدم اهلیت او علم په وجه له اصولو څخه دفروعو په استنباط مصروف نه وي ،اودا دې مسایلو ته اړهم وي ،نویه ده باندې واجب او فرض دي ،چې دخپلومسایلو دحل لپاره دسیمي او زماني جید عالم ومومي او دهغه څخه دخپلو مسایلوپه باب پوښتنه وکړي ،او بیا دهغه په فتوی باندې عمل وکړي ، دا دالله تعالی ددې قول په وجه، چې فرمایي : {فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لا تَعْلَمُونَ} [النحل : ٤٣]

تفسیرقرطبي لیکي، چې (ابن عطیه)وایې چې په عقایدو کې، دتقلید په ابطال باندې دامت اجماع ده، او پدې باب یې د(قاضي ابوبکر بن العربي ،ابوعمراو عثمان بن عیسی بن درباس شافعي)غوندې علماومخالفت هم ذکرکړی دی،(ابن درباس) په خپل کتاب (الانتصار) کې لیکي : چې(وقال بعض الناس يجوز التقليد في أمر التوحيد ، وهو خطأ لقوله تعالى : {إِنَّا وَجَدْنَا آبَاءَنَا عَلَى أُمَّةٍ} [الزخرف : ٢٣].)ژ:یعني ځیني خلک وایي ،چې دتوحیدپه مسایلو کې هم تقلید جایز دی ،خودادې مذکور آیت کریمه په وجه تیروتنه ده ؛نوددوئ مذمت یې پدې وکړ ،چې دوئ دخپلو پلرونو تقلید کاوه اودرسولانو ع اتباع یې پریښودله ،لکه داهل اهواء عادات چې دخپلو مشرانو تقلید کوي او ددین په اموراتو کې دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم اتباع پریږدي ،او په هر مکلف باندې دتوحید دمسایلو او پدې باب باندې دقاطعیت باور کول فرض دي ،چې همدا بیا دکتاب او سنت څخه په غیر نه ترلاسه کیږي، لکه څنګه چې مو مخکې بیان کړل . (الجامع الاحکام للقرطبی ج٢ص٢١٢)

دتفسیر قرطبي له تفسیره معلوم شول ،چې شرعي تقلید نه یوازې جایز دی ،بلکې دعوامو لپاره فرض او واجب دی اودا ډول شرعي تقلیدمحمود دی، اوهغه چې مذموم دی، هغه دکفارو تقلید دی ،چې دپیغمبر صلی الله علیه وسلم په مقابل کې به یې دخپلو پلرونو تقلید کاوه او دتوحید کلام ته به یې غوږ نه ایښوده .

په(الموسوعة الفقهية) کې لیکي : حق خبره داده چې په عقایدو او ددین په اساسي مسایلو کې هغه چې بالضرورة دین څخه معلومیږي ، دکوم عالم تقلید نشته، بلکې که په اجمالي صفت هم وي ،نو دصاحب الشرع نه به یې اقتناع په تام ثبوت سره پخپله کوي ،.خو په فرعي مسایلو کې هغه

چې له تفصيلي دلايلو نه په نظر عميق سره معلوميداى شي ،عوام په استنباط او استخراج مكلف كول يو شاقه كار دى ،كوم چې دژوند له استقامت سره اړخ نه لګوي ،داځكه كه هر څوک پدې مكلف شي ،چې له دلايلو څخه دمسايلو استنباط وكړي ،نو دژوند مصالح او ګردي چارې به ځنډنۍ او معطلې شي ،كه دامت دسلفو ژوند مطالعه كړو ،او دوئ خيرالقرون دي ،هغه چې رسول الله صلى الله يې په باب شهادت وركړى و،نو ويه كتل شي، چې دوئ ټول مجتهدين نه وو،بلكې دوئ كې مجتهدين ډير كم كسان وو،او دوئ ټولو د(۱۳) اشخاصو څخه زيات نه وو،سربيره پردې چې داجتهاد شرطونه ډير سخت او ضيق دي او هرچاكې نشي-موندل كيداى !

داسې هيڅوک نه وايي، چې په هرډول مسايلو كې تقليد واجب دى ،هغه كه ددين اصول وي ،كه فروع ،بلكې اهل سنت والجماعت عام علماء وايي ،چې ددين اصولو كې تقليد يا نشته، يا ندى واجب ،اوددين په فروعو كې دكوم منل شوي عالم تقليد واجب دى ،لكه همدا مسئله (حكيم الامت مولينا اشرف على تهانوي رح) په (الاقتصاد فى التقليد والاجتهادص۳۴طبع دهلى به جواب شبه سيزدهم)كې داسې ليكلې ده، چې مسايل په درې ډوله دي : لومړى هغه چې په هغې كې نصوص متعارض وي ،دويم هغه چې په هغې كې نصوص متعارض ندي، مګردګنو وجوهاتو او معانيو محتمل وي،كه څه هم داختلاف نظر په وجه يې ځيني معناګانې ليرې او ځيني نږدې معلوميږي ،او دريم هغه چې په هغې كې تعارض هم نه وي او يوازې ديوې معنى محتمل وي ؛لومړي قسم كې دتعارض دختمولو لپاره مجتهد ته داجتهاد او غير مجتهد ته دتقليد ضرورت دى ،دويم قسم ته چې ظنى الدلالت ويل كيږي، دې كې داحدالاحتمالات دتعين لپاره داجتهاد او تقليد ضرورت دى ،اودريم قسم ته چې قطعى الدلالت ويل كيږي ،دې كې نه مونږ اجتهاد جايز بولو او نه دهغې تقليد!

همداسې په (خلاصة التحقيق فى حكم التقليدوالتلفيق ص۴)كې نامتو ،حنفى عالم علامه عبدالغنى نابلسى رح فرمايي :(فالامر المتفق عليه المعلوم من الدين بالضرورة لايحتاج الى التقليد فيه لاحدالاربعة كفرضية الصلوة والصوم والزكاة والحج ونحوها وحرمة الزنا واللواطة وشرب الخمر والقتل والسرقة والغصب وما اشبه ذلک والامر المختلف فيه هو الذى يحتاج الى التقليد فيه ..)ژ:اتفاق پدې دى ،چې هغه مسايل چې ددين څخه بداهة معلوميږي، لكه لمونځ زكات ،روژه وغيره ....نودې كې دڅلورګونو امامانوتقليدته اړتيا نشته ،البته دتقليد ضرورت هلته پيښيږي ،چې هغې كې اختلاف وي او مسئله مختلف فيها وي .

په ورته ډول (علامه خطيب بغدادى رح)په (الفقيه والمتفقه للخطيب البغدادى ج۲ص۶۸/۶۷طبع دارالافتاء سعودى رياض)كې ليكلي دي، (واما الاحكام الشرعية فضربان :احدهما يعلم ضرورة من دين رسول الله صلى الله عليه وسلم كالصلوات الخمس والزكاة وصوم شهر رمضان والحج وتحريم الزنا وشرب الخمر وما اشبه ذلک فهذا لايجوز التقليد فيه .....وضرب اخر لايعلم الا بالنظر والاستدلال كفروع العبادات والمعاملات والفروج والمناكحات وغير ذلک من الاحكام فهذا يسوغ فيه التقليد بدليل قول الله تعالى (فاسئلوا اهل الذكران كنتم لا تعلمون........) ژ: او شرعي احكام دوه قسمه دي ،يوهغه چې په هغې كې تقليد ندى جايز،او بداهة له دين څخه معلوم وي، لكه لمونځ ،روژه ،زكات ،حج ،دزنا او شرابو حرمت ،او دويم قسم هغه دى ،چې

هغه له استدلال ،فكر او نظر نه په غير نشي ترلاسه كيداى، لكه عبادات ،معاملات ،ودونه ....پدې كې تقليد صحيح دی ،څكه دالله تعالی ارشاد دی، چې كه تاسونه پوهيدئ، نو له اهل ذكرو او علماوو څخه پوښتنه وكړئ،او بل داچې ،كه مونږتقليد څخه خلک منع كړو، نو ددې مطلب به داوي، چې ټول خلک دې دعلم دين زده كړې پسې شروع وكړي، نو دې سره به دخلكو دژوند نور مصالح پاتي او دخلكو دژوند ټول ضروريات به خراب شي او دفصلونو او حيواناتو هلاكت به رامنځته شي، نو څكه ددې موانعو په وجه داسې كوم حكم نشي وركول كيداى .

په (الموسوعة الفقهية) كې وروسته ليكي ،چې هيښنونكې خبره داده، چې ددې خلكو نه بعضي غاليان وايي چې د يوه څا لپاره چې مجتهد شي ،دومره هم بس ده، چې مصحف ،سنن ابي داود او دلغت قاموس ورسره وي،نودې سره به دا كس مجتهد شي او دامت داامامانوڅخه دكوم امام تقليد ته څه ارتيا نشته ،نوكه چيرته داسې وي : (...فَلَوْ أَنَّهُ يَكْتَفِي بِالْمُصْحَفِ وَبِسُنَنِ أَبِي دَاوُدَ وَالْقَامُوسِ لَكَانَ صَحَابَةُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّهُمْ مُجْتَهِدِينَ ؛ لأَنَّهُمْ إِمَّا عَرَبٌ خُلَّصٌ ، أَوْ نَشَأُوا فِي بِيئَةٍ عَرَبِيَّةٍ خَالِصَةٍ ، وَشَاهَدُوا أَحْدَاثَ التَّنْزِيلِ ، وَقَرِيبُو عَهْدٍ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَلِكَ الادِّعَاءُ يُكَذِّبُهُ الْوَاقِعُ . وَالْقَوْلُ بِأَنَّ تَقْلِيدَ الأَئِمَّةِ فِي الأُمُورِ الظَّنِّيَّةِ شِرْكٌ وَتَأْلِيهٌ لَهُمْ ، قَوْلٌ لا أَصْلَ لَهُ ، فَلَيْسَ هُنَاكَ أُمِّيٌّ – فَضْلا عَنْ مُتَعَلِّمٍ...) ژ: كه چيرته يو مصحف ،سنن ابي داوداو دلغت ادبي قاموس باندې بسنه كيداى شواى ، نودرسول الله صلى الله عليه وسلم ټول صحابه رض به مجتهدين واى ،څكه دوئ يا سوچه عربان وو، يا يې روزنه او نشأت په سوچه عربي ټولنه كې شوى وو،او دوئ دوحى اوتنزيل ليدنې او صحتې له نږدې كتلي وي ،او دپيغمبرصل الله عليه وسلم عهدته نږدې وو،نوددې ادعى گانوتكذيب واقع يا نفس الامر كوي ،او داسې بد جرأت كول يا داسې قول كول، چې په ظني اموراتو كې دائمه وو تقليد شرک دی، دا داسې قول دی، چې هيڅ اصل نلري .

دوئ وايي :چې تحليل او تحريم دمذاهبو له امامانوسره دی ،پداسې حال كې چې داخالص دالله تعالى حق دی ،بلكې ټول دا عقيده لري، چې دهر امام په علم او دين باندې داماتتداري، توثيق موجود دی، او دوئ پداسې شيانو هيڅكله متهم ندي .

په الموسوعة الفقهية كې بيا ليكي چې : وَمِنَ الْعَجَبِ أَنَّ أَكْثَرَ هَؤُلاءِ الَّذِينَ يَدَّعُونَ الاجْتِهَادَ وَيَدْعُونَ إِلَيْهِ فِي هَذِهِ الأَيَّامِ لا يُحْسِنُ أَحَدُهُمْ أَنْ يَقْرَأَ آيَةً صَحِيحَةً مِنَ الْمُصْحَفِ ، فَضْلا عَنْ أَنْ يَسْتَنْبِطَ مِنْهَا حُكْمًا شَرْعِيًّا... ژ: دتعجب خبره داده چې ددوئ نه زيات خلک داسې دي، چې اجتهاد او تقليد پريږدي ،او پدې عصرو زمان كې ورته خلک هم رابولي ،پداسې حال كې چې دوئ كې هيڅوک هم دمصحف نه ديوه آيت صحيح قرأت هم نشي كولاى ،علاوه پردې چې دوئ به دكوم شرعي حكم استنباط او يا استخراج وكړي،څكه كم ترکمه مجتهدبايد په لغت عربي كې ښه اديب ،په ناسخ او منسوخ به پوهيږي ،عام او خاص همداسې مطلق او مقيد اونورو اقسامو باندې به هم پوره معلومات لري ،لكه دالموسوعة الفقهية پدې عبارت كې چې دا خبره ښه واضح ده : وَمِنَ الْعَجَبِ أَنَّ أَكْثَرَ هَؤُلاءِ الَّذِينَ يَدَّعُونَ الاجْتِهَادَ وَيَدْعُونَ إِلَيْهِ فِي هَذِهِ الأَيَّامِ لا يُحْسِنُ أَحَدُهُمْ أَنْ يَقْرَأَ آيَةً صَحِيحَةً مِنَ الْمُصْحَفِ ، فَضْلا عَنْ أَنْ يَسْتَنْبِطَ مِنْهَا حُكْمًا شَرْعِيًّا.....

نوربيا......................

عبدالرؤف حکمت

د شهید ملا راز محمد خنجري ژوند ته کتنه

افغانستان د جهاد او خپلواکۍ ښېښونکو مبارزو هیواد دی ددې هیواد د تاریخ تر نیمایي ډېره برخه له جهادي مبارزو جوړه ده، همدلته د نړۍ ډېر کبرجن طواغیت وهل شوي او له پښو غورځیدلي دي،په افغانستان کې د ناټو او امریکایي یرغلگرو له شکست سره په نړیواله سطحه دې هیواد ته د امپراطوریو قبرستان لقب ورکړل شوی دی .

په افغانستان کې چې د هر عصر کبرجن فراعنه له شکست سره مخ شوي او دې خطې او اولس ته یې تاریخي ویاړونه وربښلې نو دا ټول څه هسې مفت نه دي ترلاسه شوي،بلکې ددې هیواد مؤمنو اوسیدونکو سترې قرباني په ځان منلي دي، د ایثار او استشهاد سترې بیلگې یې ننداري ته وړاندې کړي دي ترڅو یې په پای کې کفري طواغیت له پښو غورځولي او اسلامي امت ته یې نجات بښلی دی .

د افغان اولس د حماسو،شهادتونو ، قربانیو او ویاړونو کیسې دومره ډېرې او پراخې دي چې په ټولو احاطه شاید د کوم لیکوال د وس کار نه وي،دلته هرې کورنۍ شهید ورکړی،هر کور غازي درلودلی ،هره غونډۍ سنگر پاته شوې،په هره تړه د شهید وینې څځیدلې او له هر گړنگه مستکبر یرغلگر را رغړیدلي دي،ددې لپاره چې ددې په ایمان سمبال اولس د قربانیو او رشادتونو حق مو ادا کړی وي،کله ناکله به د هیواد له لراوبر څخه د مشت نمونه خروار په حیث د یوه اتل او شهید سوانح درسره شریکوو،تر څو ددې مظلوم خو ویاړلي اولس د میړانې کیسه د تاریخ له حافظې هیره پاته نه شي .

دا دی دا ځل د هیواد یوې بلې گوښې ته سر وربښکاره کوو، د هیواد په جنوب ختیځ کې پکتیکا ته خو، هلته د یوه گمنام اتل شهید ملا راز محمد خنجري یادونه راسپړو او د ددوو ښکیلاکونو په وړاندې د جهاد له کیسې یې ځان خبروو.

ملا رازمحمد خنجري

ملا راز محمد خنجري د حاجي خان محمد زوی د مرحوم لعل گل لمسی په قوم پښتون- سلیمان خېل په ۱۳۳۵ هـ ش کال کې د پکتیکا ولایت د ډیلې ولسوالۍ په دشت لوړگي سیمه کې په یوه دینداره کورنۍ کې دې فاني دنیا ته سترگې رڼې کړې وې.

نوموړي په لس کلنۍ کې دیني زده کړې پیل کړې وې او تر ۲۲ کلنۍ عمر پورې یعني تر هغه وخته چې

کمونیستانو کودتا وکړه په دیني زده کړو بوخت و،نوموړي د غزني ولایت د مقر او ناوې په ولسوالیو کې د بادیني په سرحدي سیمه او نورو مختلفو سیمو کې په کلیوالو مدارسو کې دیني زده کړې ترلاسه کړې،کله چې د ۱۳۵۷ هـ ش کال په ثور میاشت کې په افغانستان کې کمونیستانو کودتا وکړه او په وړاندې یې په درست افغانستان کې مسلح جهاد پیل شو، ملا راز محمد خنجري چې دغه مهال تازه ځوان و، خپلې زده کړې یې وځنډولې او د کمونیزم په خلاف یې په وسلوال جهادپیل وکړ.

د کمونیستانو په خلاف جهاد

ملا راز محمد خنجري په لومړي ځل جهاد دپکتیکا ولایت د یوه جهادي قومندان سیدامیر تر مشرۍ لاندې پیل کړ، ویل کیږي چې ملارازمحمد په تانده ځوانۍ کې د جهاد لپاره د ټوپک پیداکولو وس نه درلود نوځکه یې یو خنجر اخیستی و چې تل به یې له ځان سره ګرځاوو د هماغه خنجر له امله نوموړي د خنجري لقب د ځان کړ، نوموړي په لومړي ځل په هغو عملیاتو کې شرکت وکړ چې د زابل د شملزو ولسوالۍ مربوط د درخت یحیا په سیمه کې د کمونیستي رژیم په یوه مرکز ترسره شول، تردې وروسته نوموړي د زابل او پکتیکا په سرحدي سیمو کې په ډیرو عملیاتو کې برخه واخیسته او د خپل جرأت، بهادرۍ او جهادي مهارت له امله د خپلې سیمې په سطحه د یوه وتلي مجاهد په حیث مشهور شو.

د کمونیستانو په خلاف د پیل شوي جهاد درې یا څلور کاله به پوره شوي و، چې نوموړی د مرحوم مولوي محمد نبي محمد په تنظیم حرکت انقلاب اسلامي کې د یوه مستقل قومندان په حیث وټاکل شو، چې بیا د کمونیستي رژیم د سقوط تر وخته نوموړی په خپله سیمه کې دیوه برجسته قومندان په حیث فعال و، په سلهاوو مجاهدین یې تر قومنده لاندې وو او په ګڼ تعدادکې عملیات یې ترسره کول.

د شوروي یرغل خلاف د جهاد په مهال د ملارازمحمد خنجري تر قومنده لاندې د مجاهدینو مرکز د پکتیکا ولایت د شینکي غره په زرګلانه سیمه کې و له همدې سیمې دوی ټولو شاوخوا سیمو ته عملیات سوق کول چې د کټواز مربوط زیاتره ولسوالۍ یې د تر عملیاتي پوښښ لاندې راتلې، خو ددوی ډیر عملیاتي تمرکز د ګواشتې او پتنۍ غره په سیمو و چې په همدې سیمو له کټواز او د غزني له ناوې ولسوالۍ څخه دوازیخوا په لوړې ددښمن اکمالاتي لارې راتیرې وې او شورویانو به غوښتل له همدې لارو په استفاده وازیخوا ته اکمالات ورسوي.

د شورویانو خلاف د جهادپه مهال د نوموړي د کارنامو کیسې خورا ډیرې دي چې دلته به د بیلګې په توګه یوه کیسه راواخلو.

د نوموړي د ملګرو په استناد نوموړي ویل چې د شوروي ضد جهادپه وخت مو یو وخت د وازیخوا ولسوالۍ لویدیځ لور ته د زنګلې په سیمه کې له شوروي عسکرو سره جنګ شو، د سخت جنګ په مهال موږ ددوی مورچو ته بیخي نږدې ورغلو،خو په همدې حال کې چې زه د شورویانو یوې مورچې ته بیخې په نږدې مسافه کې وم ماته د ټوپک مرمۍ راخلاصې شوې،مخامخ په مورچه کې مې روسی عسکر ولید نو د ډیرې ګوزار مې پرې وکړ،هغه له واره لاسي بم راوغورځاوو، بم ماته نږدې ولوید خو مخکې له دې چې انفجار وکړي ما پرې حمله کړه او بیرته مې د روسي عسکر مورچې ته ورواړوو، بم له غورځیدو سره سم منفجر شو او روسي عسکر په دې ډول په خپل لاسی بم له منځه لاړ،نوموړي ویل چې په دې جګړه کې موږ دیارلس

روسي عسکر ووژل او د ټولو وژل شویو وسلې مو هم غنیمت کړې .

ملا رازمحمد خنجري د روس ضد جهادپه مهال په خپله سیمه کې یو فعال مجاهدمشر و،نوموړي دوازیخوا ولسوالۍ مرکز،د ختک کلا پوسته،د خوشامندو ولسوالۍ د فیضګي کلا پوسته ، د خیرکوټ ولسوالۍ مرکز،د ناوې مربوط د زیان سیمې پوستې او په شاوخوا کې د ګڼو نورو سیمو په فتوحاتو کې مخکښ رول او ونډه درلوده دغه راز کله چې د ډاکټر نجیب د حکومت په مهال د غزني د ناوې ولسوالۍ د سره کلي په سیمه کې ددښمن په ګڼو پوستو د غزني،زابل او پکتیکا مجاهدینو په ګډه بریالي عملیات وکړل نوموړي په کې مخکښ رول درلود .

د طالبانو په اسلامي تحریک کې خدمت

د کمونیزم ضد جهاد له پای ته رسیدو وروسته ملا راز محمد خنجري ټوپک له اوږې کوز کړ او د خپلو دیني زده کړو تکمیل ته یې ملا وتړله نوموړی د تنظیمي شخړو په ټوله دوره کې په درسونو بوخت و، کله چې دطالبانواسلامي تحریک قیام وکړ، هغه مهال چې طالبان له کندهاره د غزني په خوا روان وو نوموړی د غزني د مقر په سیمه کې سره له خپلو ګڼ شمیرو مجاهدینو له طالبانو سره یوځای شو،نوموړي خپلې ټولې وسلې ، مهمات او وسایط چې یو ټانګ او دوه موټر هم په کې شامل و د طالبانو اسلامي تحریک ته وسپارل او عملا له خپلو ملګرو سره داسلامي تحریک ملګری شو ،د غزني له تصرف وروسته نوموړي ته په همدې ښار کې د یوه نظامي غونډ مسؤلیت وسپارل شو خو زیاتره وخت به له خپلو ملګرو سره د میدان ښار په جنګي کرښه کې و.

د میدان ښار او کابل ترمنځ چې د طالبانو جنګي کرښه و، د شیرعلم پوستې په نامه ددښمن په یوه مرکز د جنګ په مهال نوموړی په پښه باندې ټپي شو، چې د ملګرو قومنده یې یوه بل ملګري ملا عبدالقهار په غاړه واخیسته،ملاعبدالقهار د کابل د فتحې تروختـه دغه مسؤلیت ترسره کړ او کله چې د کابل له فتحې لږ وروسته د شمالي په جګړو کې ملا عبدالقهار شهید شو ملا رازمحمد خنجري یوځل بیا جهادي مسؤلیت په غاړه واخیست .

د طالبانو د اسلامي تحریک په دور کې نوموړي په ډیرو جهادي محاذونو کې خدمت ترسره کړ، نوموړی له خپلو ملګرو سره د طالبانو د هغه ستر کاروان ملګر ی و چې په ۱۹۹۷ م کال کې د سالنګ له تونل نه ووتل او دپلخمري له تصرف وروسته یې کندز ونیو په کندز کې له څه مهال مقاومت وروسته ملا رازمحمد خنجري ددښمن دطیارو د بمبار په یوه پیښه کې په سر او لاس زخمي شو او د علاج لپاره کابل ښار ته ولیږدول شو.

له شفاء یابۍ وروسته ملا رازمحمد خنجري لومړی په خوست کې ولایت کې د یوې نظامي فرقې د مسؤل په حیث تعین شو او وروسته یې په لغمان ولایت کې تر هغه وخته د یوې نظامي فرقې مسؤلیت ترسره کړ چې امریکایانو په افغانستان برید وکړ .

د امریکایانو په خلاف جهاد

کله چې امریکایانو په افغانستان حمله وکړه او داسلامي امارت قوتونو له ښارونو څخه اطرافو ته شول، ملا راز محمد خنجري هم له خپلو ملګرو سره خپلې اصلي سیمې ته راستون شو،له څو میاشتو تیریدو وروسته نوموړي په جهادي تحرکاتو پیل وکړ او په خپلو سیمه کې یې د مجاهدینوپه تنظیم او د یرغلګرو خلاف د چریکي جهادپه ترتیباتو شروع وکړه.

دغه مهال نوموړي ته د ګوډاګیو چارواکو لخوا بیا بیا دعوت ورکړل شو چې له حکومت سره یوځای شي،حتی یوځل خو یو پخوانی جهادي قومندان چې اوس د حکومت تر څنګ ولاړ و، د ګوډاګي حکومت په نمایندګي ورته راغی او ورته وې ویل چې اوس له امریکایانو سره مقابله ناشونې ده راځه په دې نوي رژیم کې به ګډ شو او د جهاد فرصت ته به انتظار وکړو .

خو سنګري صاحب ورته وویل چې زه د کفر په وړاندې ټوپک له اوږې نه شم کوزولی زه دا بهتره ګڼم چې له ټوپک او چانټې سره له ژونده رخصت شم .

د امریکا خلاف د جهاد په ابتدائي کلونو کې چې مولوي عبدالکبیر صاحب د پکتیکا ولایت عمومي جهادي مسؤل و ملا رازمحمدخنجري په خپله سیمه کې د یوه مطرح نظامي مسؤل په حیث دنده ترسره کوله،دغه مهال نوموړي او کورنۍ یې په لرې پرته غرنۍ سیمه کې په کیږدیو کې ژوند کاوو او په پټه یې جهادي عملیات رهبري کول.

د نوموړي تر مشرتابه لاندې مجاهدینو د یرغل په لومړنیو کلونو کې د وازیخوا ولسوالي فتحه کړه او لوی مقدار وسلې یې له دښمن څخه غنیمت کړې په وازیخوا سربیره د د پکتیکا په ډیله ،تروو، خوشامند او جاني خیلو ولسوالۍ کې هم ګڼ شمیر عملیات ترسره شول چې دښمن ته په کې تلفات ورسیدل او ورسره په دې ټوله حوزه کې جهادي عملیات راژوندي شول .

د شهید خنجري شهادت او وروستۍ حماسه

دا چې شهید خنجري د روس ضد جهاد دمهال وتلی مجاهد و او د امریکایانو په خلاف یې هم د جهادتوغ پورته کړی و او د وازیخوا او شاوخوا ولسوالیو په ټوله سیمه کې یې ډیر شهرت او اعتبار درلود او دده په اقتفاء ډیر نوي ځوانان جهادي صف ته داخلیدل امریکایانو دنوموړي همدا موقف پیژندلی و نو ځکه یې هڅه کوله چې په هر قیمت وي نوموړی له منځه یوسي .

بالاخره د ۲۰۰۵ میلادي کال د د مارچ د میاشتې په ۲۵ نیټه امریکایان په دې وتوانیدل چې دنوموړي موقعیت معلوم کړي نوځکه په یوه وحشیانه چاپه سره نوموړی په شهادت ورساوو .

د شهید خنجري صاحب ځیناستی حاجي محمدعمر حنفي چې د شهید خنجري د شهادت د واقعې عیني شاهد دی وایي چې دغه مهال د شهید خنجري کورنۍ د وازیخوا ولسوالۍ د مهربان نیکه په نامه غرنۍ سیمه کې په کیږدیو کې اوسیدله،ماته یې ویلي وو چې د موټر سایکل تیل راوړه او کوم جهادي سفر ته یې اراده وه، سهار وخت و خنجري صاحب په دې ورځ په ستلایټ ټیلفون کې له جهادي ملګرو سره رابطه کړې وه او شاید له همدې امله امریکایانو ته دنوموړي موقعیت معلوم شوی و، زه دده له ځای څخه څو کیلومتره لرې په یوه لوړه سیمه وم چې د خنجري صاحب د اوسیدو کیږدي رامعلومیدلې ما غوښتل په کوچنۍ مخابره ورسره رابطه وکړم چې ناڅاپه جنګی الوتکې په فضاء کې راښکاره شوې ورپسې امریکايي چورلکې هم راغلې او د خنجري صاحب د ځای ځلورو خواوو ته یې عسکر پیاده کړل، لږ شیبه وروسته چې امریکايي عسکر او داخلي ګوډاګیان یې د خنجري صاحب د کور خواته ورنږدې شول ناڅاپه ډزې پیل شوې، ډزې له دواړو خواوو او څو ساعته یې دوام وکړ ،له څو ساعته جګړې وروسته ډزې ارامې شوې او امریکايي چورلکې بیرته والوتلې.

کله چې سیمې ته ورغلم نو کتل مې چې امریکایانو سخت وحشت کړی و، څو کیږدۍ چې د خنجري صاحب لویه کورنۍ په کې اوسیدله نړیدلې وې او د ښځو او

ماشومانو په شمول اوه کسه د کورنۍ غړي يې په شهادت رسيدلي و.

د خنجري صاحب د کورنۍ غړو راتـه وويـل چې خنجري صاحب په خپلـه خيمـه کې خپل کوچنی زوی او لـور تـه د قرانکـريم درس وايـه ،چې امريکـايي چـورلکې راغلې،نومـوړي خپل راکټ ، کلاشينکوف او تفنگچـه ټـول راواخيستل او په يوه لويه کمپلـه کې يې ځان ونغښت چې دښمن ورسره وسلې ونـه ويني،امريکايـان او داخـلي عسکر د کيږديو په خوا راغلل،چې پـه دوی کـې د عنايـت کليـوال پـه نامـه د اورگـون د کمپـاين يـو مشرـ هـم و، نوموړي په لوډسپيکر کې په خنجري صاحب غږ وکړ چې راووځه او او ايتلافي ځواکونو ته په ارامـه ځـان تسـليم کړه او خپلو ماشومانو او کورنۍ ته تاوان مه رسوه.

خنجري صاحب همداسې پـه کمپلـه کـې نغښـتی لـه خيمې وروتـ په داسې حال کې چې راکټ تـه يـې مرمـۍ ورتيره کړې وه، مخامخ يې په همدې کسـانو د راکـت فيـر وکړ او ټول يې په لومړني گوزار له منځـه يـووړل ورپسې خنجـري صـاحب ځـوان زوی يـې بشـيراحمد او وراره يـې طاوس په يوه غونډۍ کې سنگر ونيو او له امريکايانو سره يې مقاومت پيل کړ .

د ځو تنو سرتيرو مجاهدينو او مجهـز پـوځ ترمنځـه دا جگـړه خـورا حيرانـوونکې وه پـه داسـې ډول چـې د خنجري صاحب په مشرۍ د کور نارينه جنگيدل او د کـور ميرمنـو او ماشـومانو ورتـه مرمـۍ رسـولې ،جگـړې دری ساعته دوام وکړ،د جگړې په تـرځ کـې چـې کلـه خنجـري صاحب په شهادت ورسيد ميرمنې يـې وسـله واخيسـته او له امريکايي عسکرو يې تر هغو مقاومت وکړ تـر ځـو يـې اخري مرمۍ هم د کفارو په خوا وشړله.

د جگړې په ترځ کې د خنجري صاحب په شمول ټول اته تنه شهيدان شول چې دری په کې د نومـوړي دکـورنۍ ښځې او دوه تنه نور د کور غـړي يـې ټيپـان شـول،بايد وويل شي چې د نوموړي د کورنۍ ۷ غړي تـر دې پخـوا د روسانو خلاف په جهاد کې په شهادت رسيدلي وو.

امريکايان چې په دې جگړه کې يې گڼ شـمير عسـکر وژل شوي و دغه راز يې يو چورلکه هم زيانمنه شوې وه، له ډير وحشت وروسته يـې د شـهيد خنجـري او ځـو تنـو نورو شهيدانو اجساد لـه ځانـه سره د اورگـون امريکـايي بيس ته يووړل او له هغه ځايه يي د پکتيکا مرکز ښرنې ته انتقال کړل،امريکايانو ددوی اجساد کورنۍ تـه نـه سـپارل خوتر ۹ ورځو تيريدو وروسته يې د قـومي سـپين ږيـرو د ډيرو غوښتنو او اصرار په پايلـه کـې ددوی اجسـاد خپلـې کورنۍ ته وسپارل .

په دې ډول د پکتيکا په يوه لرې پرته سيمه کې هغـه گمنام مجاهد له متعهدانـه ژونـد تيرولـو وروسـته د رب تعالی لقاء تـه ورغـی چـې خپـل ټـول ژونـد يـې د اسـلام ددفاع او سرلوړۍ لپاره وقف کړی و.

هغه مجاهد چې ژونـد يـې لـه علم،جهاد، ذکـر او تقوی ډکه جوړ و .

رحمه الله تعالی

داسلام نړیوال قانون

لیکوال داسلامي نړۍ ثقه عالم دوکتور محمد حمید الله ژباړه شهاب منصور

په هر صورت په دغو کتابوکې یو "شرح السیر الکبیر" دی- غواړم دلته دیوې مسئلې لږ وضاحت وکړم،هغه داچې ایا دموادو پرته هم د"کتاب المبسوط" او د"الشرح السیر الکبیر" په څېر ضخیم کتابونه املاء کیدای شي؟ عرض دادی چې خپله دامام سرخسي(رحمه الله)کتابونوته لاس رسی نه وو،لیکن دهغه په شاګردانو باندې دکتابونو وړلو بندیز نه و، شاګردانو یې خانو سره کتابونه وړلی شول، امام سرخسي به هغوی ته دکتاب شرح کوله، هغوی لیکله، تردې په دیرش ټوکونو کې "کتاب المبسوط" ټوکونو کې املاء وشوه،کوم چې په اصل کې د"کتاب الکافي" شرحه دی او په اووه اته سوه مخونو کې دهغه یوه مخطوطه ما په استنبول کې لیدلې وه،غالباً هغه به کوم شاګرد په دومره لوړ غږ لوسته، چې دهغه غږ په کنده کې اوریدل کېده به؛ له کندې نه امام سرخسي(رحمه الله) جمله په جمله شرحه کوله او شاګردانو لیکله،چې په دې توګه "شرح السیر الکبیر"تالیف شو،زما په علم کې په دې موضوع اوس مهال نړۍ کې دا پخوانی کتاب دی،ددې نه علاوه که مونږ د"ابراهیم الفزاري" رساله کتاب وګڼو، هغه تراوسه چاپ نده، دسرخسي کتاب "شرح السیر الکبیر" په کال ۱۳۳۵زکې له حیدر آباد دکن څخه چاپ شو، له بده مرغه چې بیا یې کوم بل مکمل رانغی، مصر کې یې دنوي چاپ کوښښ شروع شوی و، خوهلته هم له نیمایې نه کمه برخه یې په څلورو ټوکونو کې چاپ شوه او پاتې نورې برخې یې تردې مهاله لا ندي چاپ کړي ، ددې کتاب اهمیت ته په پام یونیسکو پرېکړه وکړه، چې هغه فرانسوي ژبې ته وژباړي، ژباړه یې ماته سپارلې وه، چې ما هغه پوره کړه او بیا مې یونیسکوته وسپارله، خوتراوسه دهغې دچاپ نوبت ندی راغلی، دژباړلو پرمهال ماسره دحیدر اباد دکن د "دایرة المعارف ادارې " چاپ و اوهم دصلاح الدین منجد نوی چاپ هم وراسره،ما ته دا جوته شوه، چې هغه دواړه کافي نه دي، خوله نیکمرغه چې ماته کلونه کلونه استنبول ته دتللو راتلو فرصت په نصیب شوی،په څل کې به ما هلته درې میاشتې تیرولې او دهغه ځای له کتابتونو به مې استفاده کوله، ددې ژباړې پرمهال به راته کومه دشوارې را مخ ته شوه، نود استنبول مخطوطته مې رجوع کوله، هم دا راز ماته په بیروت کې هم یوه نسخه په لاس

راغلي وه او يوه په فاريسي کې مې ده، چې پخوانی نسخه ده، ددې ټولو مخطوطو په مرسته ما دمغلقو ځايونو صحيح عبارتونه اولفاظ معلومول او بيا مې هغه ژباړل، په دې ډول مې هغه بشپړه کړه.

دنړيوال قانون د تاريخ په اړه مې چې څنګ عرض وکړ، هغه کتاب چې امام محمد شيباني(رحمه الله) ليکلی، له علمي پلوه هغه زيات اهميت لري، دهغه په همزولو کې "ابراهيم الفزاري" (څوک چې دامام ابوحنيفه شاګرددی) هم يو کتاب ليکلی و، په دې علاوه نورو ممتازو او مشهورو فقهاوو هم په دې موضوع کې کار کړی دی، لکه امام مالک (رحمه الله)هم د"کتاب السير" په نوم جلا کتاب ليکلی دی،خو متاسفانه چې هغه نه مندل کيږي اويواځې "کتا ب الموطا" کې په اړه يې دنيم مخ په اندازه يوباب شته دی، چې هغه کافي ندی هم داسې مشهور تاريخ پوه واقدي هم د کتاب السيرپه نوم کتا ب ليکلی ،چې هغه هم مندل کيږي نه ، ليکن دامام الشافعي(رحمه الله) په "کتاب الدم" کې د"سير الواقدي" په نوم يو اوږد اقتباس راغلی دی،چې نيږدې پنځوس شپيته مخه کيږي، شايد دواقدي له کتاب نقل يا اقتباس وي، دا په دې موضوع هم لومړني کتابونه دي اوهم وروستني؛ يعنې په يوه خاصه زمانه کې د يو خاص ضرورت له مخې په دغه موضوع مستقل کتابونه ليکل شوي او بيا وروسته چې کله هغه ضرورت پاتې نشو ،دکتابونو ليکلوړی هم بند شوه،ليکن د مسلمانانودلچسپې ورسره هغسې پاتې وه،په دې معنی چې دفقهې څومره کتابونه چې دپيل نه تراوسه ليکل شوي دي، که هغه دهر مذهب اوهرې فرقې اړوند دي حنفي ، شافعي، مالکي، حنبلي، شيعي يافاطمی اونور، په هغو ټولو کې "کتاب السير" خامخا راغلی دی، ماته په دې اړه د يو څه پرتلنې موقع هم په لاس راغله ، چې څو دا معلومه کړم، چې د شيعه، سني او فاطمي مصنفينو ترمنځ پهدې موضوع کې اختلاف څومره دی؟ دحيرانتيا وړده چې ما ته په هيڅ يو ځای کې هم اختلاف په نظر رانغی! مونږ دعقايدو په سر اختلاف لرو، سنيان يې دشيعه ګانو سره – او شيعه ګان يې دسنيانو سره -خو په قانون کې داسې امتيازيا اختلاف په ډېرو کمو ځايونو کې راغلی، چې وښيي دا دشيعه ګانو قانون دی، او دا دسنيانو؛ ټول لومړی عظيم الشان قرآن ته اوبيا سنت ته رجوع کوي، په تاريخي پيښو کې ديولوري روايت کونکی يو دی، دبل لوري بيا بل راوي دی،خو کوم څه چې راوړي ، پکې توپير نه وي، لکه د تيرو څوارلس سوه کلونو راهيسې چې د فقهې کتابونه په څلور کونجه نړۍ کې ليکل دوام لري، او دمختلفو مصنيفينو دقلمونو څخه وتلي ، مونږ په هغو کې هر ځای کتاب السيرۇ مومو، حتی چې کوم کتاب ته کتابونو نه اقتباس ويل کيږي، يعنې فتاوی هنديه (عالمګيري) کې هم په دې باندې يوباب شته دی ، چې په زړپورې معلومات يې راوړي ، په خاصه توګه په دې بناء چې ځينې هغه کتابونه چې دعالمګير پاچا په زمانه کې ترې استفاده ممکن وه خو اوس هغه نشته، دهغو اقتباسات په علمګيريه کې مندل کيږي، د کتابونو کومه لړۍ چې له پيل څخه روانه ده، هغه په يوه معنی کې شرح او تمثيل کېدای شوه، يعنې داصولو ترحده پکې کوم توپير نه نشته، مثالونه ګڼ راوړل شوي، تشريحات او تفصيلات زيات راغلي، کله نه کله ماته دا په

نظر راشي، لکه په ځينو هېوادو کې دځينو ځېژونو يادول زيات وي، خو په نورو هېوادو کې هغه حېژونه څوک نه يادوي، دمثال په ډول امام سرخسي(رحمه الله)پخپل کتاب کې دجنګ پرمهال دغوايانو ذکرکړی، مثلا: خلک په غوايي... کيني او ددښمنانو سره جنګ کوي، ښکاره ده، چې دا په هغه هېواد کې چې هلته غوايي وي، په کوموطنونوکې لکه :په عربي هېوادو کې د.غوايي. ذکر نشته، هم داسې دمالکي مذهب مؤرخ او مؤلف چې دشمالي افريقه سره اړه لري هغوئ دهسپانيې سره نژدې دي،هغوی زياتره دزهريلا ځېژونو ذکر کوي يعني په غشو کې زهر ګډول؛ ددې لپاره چېکله دښمن زخمي کېږي چې دهغه زخم ژر روغ نشي،ددې لپاره غشي په زهرو باندې لړي،ددې زکر ما دنورو سيمو په کتابونو کې نده ليدلی،غالباً ددې وجه داده چې هلته داځېژونه رواج ندي، هم داسې دامام سرخسي دجنګي توکيو دوړلو او را وړلو لپاره دګاډيو زکر کوي، دنورو مولفينو په کتابونو کې نشته، غالباً دهغوئ په زمانه کې په څارويو بارونه وړل دود وو، ګا ډی اوبګی نه وي، له دې وجې داسې ګڼ تولنيز مثالونه مونږ ته په دې کتابونو کې هم په لاس په رازي.

دا څو تفصيلات دنړيوال قانون په اړه وو، چې ما تاسوته بيان کړل، اوس په لنډه توګه د اعرض کوم چې په نړيوال قانون کې د څه نه بحث کېږي؟ په نن زمانه کې له دوه مختلفو فنونو اوجلا علومونه بحث کېږي،ليکن زمونږ دفقهاوو په کتابونو کې دا امتياز نشي-کېدای،چې په يوه کتاب کې د دواړو علومو احکام راوړل کېږي، دڅو مثالونو په راوړو غواړم روښانه کړم چې ددغو دواړو علوموترمنځ توپير څه دی؟ په يوه کې د يوه حکومت او دبل حکومت ترمنځ د اړيکونه بحث کېږي، نه ديوه حکومت د وګړو دبل سطلنت دوګړو ترمنځ داړيکونه، دا اساسی توپيردی، زه تاسو ته څو مثالونه درکوم:

مثلاً: د قوميت قانون دی چې يو تن ديوه تابعيت لرونکی وګڼل شي،ا يا هغه خپل تابعيت يا قوميت بدلولی شي که نه؟ که بدلولی يې شي نودکومو احکامو اوقواعدو د لاري؟ ددې ذکر په نړيوال شخصي-قانون کې راغلی دی، په عام نړيوال قانون کې ددې زکر نشته، هم داسې نور... مونږ ويلی شو، چې مسلمانو مولفينو د تصور سره سم په شصخي نړيوال قانون کې دمسلمانانو دکورنيو ترمنځ داړيکو نه هم بحث کړی دی ، مثلاً:دشيعه اوسني فرقو ترمنځ د اړيکو په اړه له قانوني پلوه بحث شوی ، فرض کړئ ديوې محکمې په وړاندې يوه دوسيه را غله، چې مړشوی تن دعقيدې له پلوه شيعه دی او ميرمن يې چې دهغه وارثه ګرځيدلې هغه سني ده، اوس دکوم قانون له مخې به ميراث ويشل کېږي؟ دا مسئله دمسلمانانو دشخصي- نړيوال قانون سره اړه لري،هم داسې فرض کړئ ديو اسلامي هېواد مسلمان وګړي دکوم بهرني هېواد له وګړي سره تجارتي لوظنامه وليکله، دبهرني هېواد قانون حکم کوي چې دکوم سړي عمر له اتلس کلنی شکته وي،هغه په سړکاري توګه بالغ نه دی، هغه د داسې لوظنامې ليکلو حق نلري، اوس به کېږي څه؟ لوظنامه به لغوه کولی شي! ځکه په اسلامي قانون کې دبلوغ لپاره دعمر تعين

نشته، بلکې جسماني بلوغ ته په کتنه دیوتن دبلوغ پرېکړه به کېږي، چې ممکن له اتلس کلنی نه کم عمررا شي، دېر ځلي دیوې جګړې له امله قضیه محکمې ته وراندې شي،ددوسیې وکیل ووایې، زما دموکل عمر له اتلس کلو کم دی،له دې وجې په هغه ضمان نه راځي، دوسیه رد او شوې لوظنامه لغوه شي، ددغه ډول قضیې تر شخصي- نړیوال قانون پورې اړه لري، او ددې لپاره قوانین وضع دي، چې دمدعي علیه دقانون سره سم به عمل کېږي، نه دمدعي دقانون سره سم، او داسي نور... ددې برخلاف بل په عام نړیوال قانون کې ددرې څېړونو یعنې د امنیت د قانون، دجنګ د قانون او دبیطرفی له قانون څخه بحث کېږي،دبې پرې قانون مقصد دادی، چې په کوم جنګ کې به زمونږ حکومت ونډه نه اخلي؟ او دجګړې له دواړو خواوو سره به اړیکې څه ډول پالي؟ دجګړېز فریق لورې اړیکي به دهغو حکومتونو سره چې په جنګ کې ګډون نلریځه ډول وي؟ دېته ورته تفصلات په دې باب کې راځي،دامنیت په باب قانون کې دېرد څلورو څېړونوڅخه بحث کېږي، یعنې دواک په ترلاسه کولو او اعلی حاکمیت ته په رسیدوسره څه ډول کېدای شي چې یو هېواد خپلواک وګڼل شي؟ دنړیوال قانون په نویو کتابونو کې رښتیا هم له خپلواک سلطنتونو نه علاوه جنګي باغیان هم راځي؛خودا هغه مهال چې کله دهغوئ بغاوت وده وکړي؛ ترڅه حد پیاوړی شي او په یوه سیمه خپل جلا حکومت جوړ کړي، دغسې تفصیلات په دغه باب کې راځي،چې په دغسې- مواقعو کې اړتیاڅه ده؟،مثلاً، هند، دانګریزانو دواک پرمهال یوه سیمه و، چې مخامخ پرې انګریزانو حکومت کاو، خو دلته ځینې نور ایالتونه هم و، لکه دبهاولپور ایالت،حیدر اباد، کشمیر اونور...ایا دغسې- ایالتونه دنړیوال قانون له مخې هېوادونه منل کېدای شي که نه؟ که منل کېدای شي، دکومو قواعدو له مخې؟ نوکه یو هېواد سل په سلو کې خپلواکې ونلري، خو تر څه حده خپلواکې ولري ،مثلاً؛ خپل جلا سفیران استوي؛اګرکه دنړی ټولو هېوادوته نه وي، یواځې یو هېواد یا څو هېوادوته یې استوي،دا دنړیوال قانون موضوع ګرځي ! غرض دا چې دغه ډول تفصیلات په دې باب کې راوړل شوي دویم باب دجایداد اوملکیت په اړه دی، په هغه کې زیات له سوبو او بریاوو نه بحث کېږي، که مونږ دبل سلطنت کومه برخه ونیسو، ایا یا هغه پخپله هم داسې زمونږ دسلطنت برخه کیدای شي، که د بل رسمي ګام پورته کولوته هم اړتیا شته ده؟ او هغه ګام به څه وي؟ هم داسې دملکیت پلورلو په باب ډېر په زړپوري مواد راوړل شوي ،یعنې کله دفتحې په زریعه یوه سیمه ونیول شي، کله دتبادلې دلارې یوه سیمه د بل سلطنت سره د سیمې په عوض کې ترلاسه شي، یا کله دتحفې په دود یوه سیمه چاته ډالی کېږي،ددې ګڼ مثالونه دهندوستان په اسلامي تاریخ کې مندل کېږي، یا ددوه واکمنو ترمنځ دیوې سیمې په سر جګړه منځته راشي، بالاخر ترمنځ یې روغه وشي، چې زما دلور نکاح به ستا له خوی سره وشي، زه به په جهیز یاتیکري کې هغې ته دغه سیمه وسپارم، خو تاته یې داسې نه درکوم،دیته ورته نور ډېرې قضیې په تاریخ کې راغلي دي اوشته، نو دملکیت په اړه چې کوم قواعد دي دهغو زکر په دې دویم باب کې کېږي.

په دویم باب کې له یوبل څه نه هم یادونه کیږي،هغه دی د دواک دایره، چې ایا دیو هېواد قوانین دبل هېواد په وګړو پلي کیدای شي که نه؟ که کیدای شي نوترکوم حده؟ اوکوم قانون پلی کیدای شي؟ په دې لړ کې یوکوچنی مثال ستاسي په مخ کې عرض کوم، هغه داچې امام محمد شیباني(رحمه الله) په السیر الکبیر" کې یو جالب باب راوړي هغه وایي: که دبهرنیو هېوادونو خلک زمونږ هېواد ته راشي او هغوی زمونږ محکمې عارض شي، زمونږ قاضي به په هغوی ددوئ دخپل هېواد قانون پلي کوي!فرض کړئ دوه هندوان یو اسلامي هېواد ته لاړل، هلته دهغوئ ترمنځ جګړه پېښه شوه، هغوی د اسلامي هېواد محکمې ته عارض شول، قاضي به هغوی ته دهندوستان قانون له مخې پریکړه کوي، داسلامي هېواد دقانون له مخې نه؛ په دې لړ کې امام محمد بن حسن شیباني وایي:زمونږ قاضیان اوفقهاء دیته اړدي، چې هغوی دنورو هېوادونو په قوانینو هم علم ولري،ځکه ددې ضرورت راځي، غالباً درسول الله (ﷺ) ددورپه ځینو مثالونو یې استدلال کړی دی لکه لیکي: یوځل مدینې ته څو یهود راغلل درسول الله (ﷺ) په خدمت کې حاضر شول،هغوی ځان سره یوه نجلۍ اوهلک راوستي وو، عرض یې وکړدې دواړو زنا کړیده، رسول الله (ﷺ) هغوی ته وفرمایل: په تورات کې دزنا دسزا حکم څه دی؟ په شروع کې هغوی ویل: داده چې دواړو مخونه دې تور شي او په خره دې داسې سپاره کړای شي چې شاه یې دخره مخ ته اومخ یې دخره شاه ته وي اوپه ښار او کوڅودې وګرځول شي؛رسول الله(ﷺ) وویل: تاسو دروغ وویل، دتورات نسخه راوړئ،کله چې دتورات نسخه راوړل شوه ،رسول الله (ﷺ) و فرمایل دعبد الله بن سلام(رضي الله عنه) په مخکې یې ولولئ!یهودو چې کله لوستله، په یوځای یې ګوته ایښې وه، دهغه ځای نه وړاندې تیرشول، عبد الله بن سلام ورباندې غږوکړ، ګوته پورته کړه!چې کله یې پورته کړه، د لیکل شوي و، دزنا سزا رجم دی،رسول الله (ﷺ) په هغوی درجم سزا تطبیق کړه،دامثال ددې ښودنه کوي چې په اجنبیانو اسلامي قوانین نه تطبیق کیږي،بلکې په هغوئ به دهغوی خپل قانون پلي کیږي نو په دې توګه امام محمد شیباني په ځومخونو کې اورد بحث کړی دی چې په اجنبیانو به داجنبیانو قانون زمونږ په محکمو کې په کوم شکل تطبیق کیږي؟ هم داسې دنړیوال قانون دامنیت قانون له سفارتکارۍ سره هم اړیکه لري،په وړاندې زمانه کې مستقل سفیران نه وو، بلکې دیو خاص هدف او معین وخت لپاره سفیران استول کېدل، دهغه معین وخت وروسته به بیرته خپلو هېوادو نو ته ستنیدل،په دې لړ کې "امیرعلي" په نوم یو ځیرونکي لیکلي چې ددایمي سفیرانو دلیږد لړۍ داروپا څخه دوه سوه کاله وړاندې مسلمانانوپیل کړیده،دا یو هم جالب انکشاف دی، دجنګ په قانون کې چې دکومو مسایلو نه بحث کیږي هغه دادی چې دانسانانو په اړه جنګي قانون څه دی؟ دملکیت په اړه جنګي قانون څه دی؟ دجنګ پای ته رسیدو پر مهال چې کله لوظنامه لیکل کیږي دهغې په محتوا کې د کومو عناصرو او شرایطو راوړل پکاردي؟ اوداسې نور... لنډه داچې نړیوال چلند، یعنې دیو هېواد اوبل هېواد ترمنځ د اړیکو په لړ کې به په کومو اصولو او قواعدو عمل کیږي؟ ددې ټولو مجموعې ته نړیوال قانون وایي!

پارلمان! افغانستان!

او دوه تابعیته وزیران... !

فرهاد

ترڅو ورځو په رسنیو کې د دوه ګوني او یو ګوني تابعیت په موضوع خبرې اوبحثونه روان وو! ډېرو دا پارلمان ددې ګام ستاینه کوله چې ګواکې دافغانستان دخپلواکۍ ساتونکي اوممثل دی، دوه ګوني تابعیته نوماندان یې رد کړل! خو ها!بله ورځ چې کله هم هغه دوه هویته نوماندان بیرته دیو هویت لرونکي اعلان شول!! دېخوا په پرتله زما داباور نور هم پوخ شو چې پالمان نه او رښتیا غوجل خانه دی!!

چې امریکا یانو پکې دوکیلانو په نوم د لاس نانځکې کینولي ، دهغوی په اشاره پاڅې اوکیني.دافغانستان ته دخیر غوښتو له خارجیانودخانو خیر غواړي.

داخبره شاربل چې دوه تابعیته وزیران دپارلمان لخوا ګواکې رد شول ؛ دملت په ستر ګو کې د خاورو اچولو مرادف عمل دی! دپښتو مشهور متل دی :اوښه! سم دې څه؟ پاته لاغاړه؟ دموجوده رژیم دترکیب چوکاټ کله افغاني دی؟ چې پکې د دوه تابعیته وزیران چانس ونلري یا دې کوم وزیر پکې دبهرني تابعیت لرلو له مهاره ازادې ولري...؟ په ټول حکومت داعلی نه ترادنی ټول دبهرني تابعیت لرلوته لیوال دي، نو په دغسې چاپیریال یا حکومت کې دوه ګونی هیڅکله عار ندی بلکې یو ویاړدی چې په بدرګه یې د اجنبي یمکراسي زمونږ هېوادته راوړل شوه.

دیته په کتو دهر شاغلي وزیر ، اغلې وزیرې، درانه مشیر اودهر محترم وکیل په غاړه کې ددوه ګوني تابعیت کارت زانګي!کوم چې دهغوئ داهلیت ،عقلیت او غربیت نښه دی؟!اوېړي ویاړي؟!

هغو چې امریکا او اروپا لیدلي ، له هغو ځانونه په ځو واره مهذب، هوښیار، ذهین او دعقل خاوندان بولي!څوک چې هلته ندي لاړ! هغوي نالیدلي امریکاپلوي بې دسیپلینه، ناپویه اوغیر متمدن ګڼي!او دهغوی اهلیت تر پوښتنې لاندې نیسي!

او تر کابینې یا و زرات خو لار یواځې هغه څوک مندلی شي چې امریکا او یا کوم اروپایې هېوادته منلی وي؟له دې پرته بل چا لپاره له سره چانس هم نشته چې هغه خوار دارګ تر دروازې هم ور شي! نو ددوه تابعیته نوماندانو دردولو تبلیغاتي شور څه معنی لري؟

ايا ړانده يو! كه غوږونه مو كاڼه شوي يا دمغزو نه مو سد تلى! په اوسني افغانستان دچا دراج دى؟، دافغانستان رښتيني واک دچا سره دى؟ دافغانستان زمکنى تماميت دچاتر قبضې لاندې دى؟ دافغانستان فضائي قلمرو چا نيولى دى؟افغانستان کې دچا مسلح عسکر شپه او ورځ په گزمه بوخت دي؟ افغانان دچا په ډرون بريدونو کې وژل کيږي؟ دچا له ډاره افغانان دشپې له کوره بيرون وتلى نشي؟ روښانه ده دلته هر څه دامريکا دارادې تابع دي، نه افغانستان ازاد دى، نه خپلواکې لري او نه استقلال! هر کله چې يو هېواد ازاد نه دى، اشغال او په زور او غصب قضبه شوى دى! دپرديو لاسته ناست دى، ولسمشر يې ټول عمر بيرون اوسيدلى دى، د بهر نه فرمايشي راليږل شوى دى! ددوه تابعيته نوماندانو رديدل نه رديدل تاثير لري؟! ايا د ملت پورې دا خندا نده نور څه ده؟ وزير خو لويه خبره ده چې مخامخ دامريکا يانو لخوا ټاکل کيږي،حتى په نوره نړى کې دافغانستان په نوم سفارتونه هم امريکا کنترولوى او واک يې دامريکايانو په لاس کې دى ، سفيران ورته هغه غوره کوي، او هغه څوک غوره کوي، دچا ماضي چې دامريکا داستخباراتي چينلونو په ماموريت کې تيره وي!نوپه کومه خوله وايو چې هرهغه څوک چې دوه تابعيته ولري دافغانستان پارلمان هغه ونه منل! رد يې کړل؟ ولې په دې هم نه پوهيږو چې په ننني افغانستان کې دامريکا دسفير مقام او مرتبه بلکل هغسي نه ده،کومه چې په هند کې دبرتانوي اشغال پر مهال دوائسراى وه؟!

دباوري منابعو په وينا: دنوي لاسپوڅي رژيم دکابينې دخنډ لامل داشرف غني او عبد الله ترمنځ لانجې په ځاى دجگړه مار ائتلاف د شريکانو دموافقت نه راتلل و، چې هر يوه دخپل ځان لپاره غوره سهميه غوښته او کليدي وزارت خانو په سر دهغوئ نه جوړيدل وو، چې کله نه کله دسفارتو ترمنځ چنه بازي، ته هم نوبت ته ...

رازو ديته چې موجوده حکومت ټول تحميل شوى ، ريموټ کنترول دخارجيانو په لاس کې دى، په ترکيب کې يې دهغوى ارادې او غوښتنې لومړيتوب لري. دا دروغ ده چې پارلمان دوه تابيعته کسان د وزيرانو په حيث ونه منل، يا يې هغه ردکړل يواځې هغه يې رد کړل چې کوم امريکا نه غوښتل، ديو شمېر داسې هېوادو لخوا يې ملاتړ کيده چې امريکا په افغانستان کې هغوى ته درول تر سره کولو فرصت نه ور کوي، که دوه تابعيته نوماند ان پارلمان نه منلى نو پخوانى کمونست علومي (دکورنيو چارو وزير) او صلاح الدين رباني (دبهر نيو چارو وزير)ولې دامريکا دسفارت تر تاييد وروسته پارلمان تري ملاتړ وکړ ؟وايا دا کفايت لري چې نوماند فقط دومره ووايي، چې زه د دويم هېواد له تابعيت تير شوم؟ که په دې اړه دنورو حقوقي او قانوني گامونو پورته کولو ته هم اړتياده؟ يا دخارجي تابعيت نه تيريدل، دومره اسان کاردى چې ددقيقواوثانيو دننه لغوه کېداى شي؟ دټولو خبرو حاصل همدادى چې افغانستان هر څه دامريکا دخوښې او ارادې تابع دي، دبل چا اراده اوخوښه مؤثره نده!

اصلي خبره داده چې امريکا ددوئ گومارلو پريکړه کړيوه پارلمان څه غوجل خانه دى چې دامريکا په مقابل کې ستر گې نيغې کړي؟

داسلامي نړۍ مفکر عالم مولانا سید ابوالحسن علي ندوي، ژباړه: ابوظهیر

په اسلامي هېوادو کې د اسلامیت او مغربیت تر منځ کشمکش

شام او عراق

د فرانسوي او برتانوي اشغاله دواړه ازادي ترلاسه کوونکي اسلامي او عربي هېوادو نه په دې سربېره چې ښايسته اوزرخېزدي، دواړه ښه شاندار اسلامي اوکلتوري تاريخ هم لري او هم دواړه د يو بل وروسته تر اوږدي مودې داسلامي خلافت پلازمېنې پاتې شوي دي، چې له امله يې دواړه په بېلا بېلو سياسي او انقلابي دورو کې د سترو خونړيو جنګونو شاهدان هم پاتې دي.

اوس دغه دواړه اسلامي او عربي هېوادونه دغرب دژور اخلاقي او ټولنېزيرغل په مخکې قرارلري، نوی لوستی نسل،سياسي مشران او واکمن يې د عربي ملت پالنې لور ته ميلان لري،دلادينيت (سيکولرزم) جديديت او مغربيت په لوري د تګ رجحان مخ په زياتيدودی ، اګرکه د دواړو هېوادو نو عام وګړي ساده او رښتني مسلمانان دي او ددين سره بېحده محبت اومينه لري، له پخوا راهيسي په غو دواړو هېوادونو کې پريمانه ديني ارزښتونه او اقدار هم شتون لري او هم د لوی شمېر داسې جيد علماوو اوفاضلانو ټاټوبي پاتي شوی دی چې دهغوی دمثال وړاندې کولوڅخه دنورې نړۍ هېوادونه عاجزدي، خو اوس په ټولنه کې ورځ تروزرځې د دينداری روحيه کمزورې کېږي او دهرې ورځې په تيريدو يکې دعلماوو او ديندارو خلکو اثر او واک کمېږي او په ميرمنو کې ازادۍ اوبې ستري عامه شوي ،دسيل او تفريح په ځايونو کې دنارينه وو اوښځو اختلاط نهايي زيات شوی هو دا راز دمخلوط طرز تعليم دود وړېکې عام ګرځيدلی آن ترد ې چې ددين او مذهب نه بېزارۍ او د بې دينه عناصرو غلبې د ژوندانه پر ټولو چارو سيوری را وستی دی.

ددې غمېزې وروستی کړی داده چې ددې کرښو دليکلو تروخته، دسوچه اسلامي عقيدې دڅښتانانو هېواد(شام) ديوې کوچنۍ فرقې (نصيري فرقې) تر واک لاندې راغلی دی، کومه چې په هر دور کې داسلام د سوچه لارښوونو له منلو انکاري وه او هم يې هر وخت له مسلمانانو سره دبغض ،کينې او عدوات نه ډکه رويه لرله، همدې نظامي اقليت د عسکرې مټ په څواک تل دنورو ډلو او مسلمانانو په وړاندي برې ترلاسه کړې او له دې لارې يې په سياسي واک تراوسه منګلي ښخې کړې دي، بدبختانه چې وړاندينو اسلامي حکومتونو ددې فرقې دننه هغسې چې ورته اړتيا وه د اسلامي فکر د عوتي لورته پاملرنه نده کړې، له دې وجې نصيري فرقې په هره زمانه کې دشام دوحدت اوارضي ساليمت په وړاندې ګواښونه اوننګونې زيږولې اوهر و خت يې دبهرنيو قوتونو په

ملاتړ د مسلمانانو پرضد د دسیسو اوتوطیئو نه کار اخیستی.

په دې اړه عبرت ناک مثال دادی چې د بعث په نوم هغه ګوند چې ترڅه مودې دعراق په سیاست او حکومتي چارو واکمن و، ددې لیکنې تروخته هغه هم په شام کې د حکومت واګې لاس ته وروړې ، د کوم ګوند چې شعار او ناره دا ده:

دیو ابدي پیغام خاوند عربي قوم،د زمکنۍ کرې هغه برخه خپل اصلي عربي وطن بولي، چېرته چې عرب قوم میشت دی، دا هغه برخه ده چې د"طوروس" او "بشتکویه" له غرونو نه د"بصرې خلیج" د "حبشې د عرب سمندر ګې تر" غرونو او دلوې دښتي او "اتلانتک" (رومي بحیرې) په منځ کې پرته ده!!

دلته دګوند د منشور څینې اقتباسات را وړو ، څو دبعث ګوند فکر او روح معلوم شي:

۱ـــ عرب قوم یو ثقافتي اوکلتوري وحدت دی، چې د فرزندانو ترمنځو یې هردول اختلافات او امتیازات (مثلا : دیني امتیازات) سطحي او بې اصل دي، کوم چې دعربي وجدان په بیداریدو به خود بخود پای ته ورسي.

۲ـــ عرب قوم داسې تلپاتي پیغام لري، چې دتاریخ د مختلفو دورو دننه په هغه کې بدلونونه راتلل، چې دادی اوس یې په کامله بڼه ظهور کړی، کوم چې دانساني اقدارو دتجدید او بنې نوع انساني پرمختیاوو دهود ستاینې ترڅنګ ، دنړۍ په ولسونو کې دهمکارۍ او هم آهنګۍ روحیه پیاوړي کوي.

۳ـــ حزب البعث یو ملت پال ګوند دی، په دې عقیده لري، چې ملت پالنه یو ازلي اوژوندی حقیقت دی اوهغه شعوري قومي احساس کوم چې فرد له ولې (جماعت) سره یوځای کوي، داسې سپیڅلی احساس او شعور دی چې دتخلیقي وړتیاوو څخه مالا مال او دقربانۍ هڅونکی دی.

۴ـــ حزب البعث یو اشتراکي ګوند دی او په دې عقیده دی، چې اشتراکیت هغه اړتیا ده ده، کومه چې دعربي قومیت له باطن زیږیدلې او بیا یې وده منډلي په دې وجه هغه یو داسې بهترین نظام هم دی، چې دعرب قوم دصلاحیتونو دودې او د هغه د عبقري شان دتکمیل توان لري .

۵ـــ دقومیت اړیکه په عربي حکومت کې یواځینی اړیکه ده، چې د وطنوالو ترمنځ هم آهنګۍ او اتحاد را وستلی شي اوتول د یوه قومیت قالبونو ته غورځوي.او هم له ټولو قومي، دیني ، قبایلي او و طني تعصبونو سره په جنګ کې دی.

۶ـــ له ټولې ازادۍ سره یوځای د عربي حکومت لپاره یو داسې واحد قانون رامنځته کیدای شي، چې هغه به داوسني عصرله روح سره سمون خوري او دعرب قوم دماضي په رڼا کې به تدوین شي.

(الاحزاب السیاسیة فی سوریا)

ددغه ګوند مؤسس او دماغ عیسائي فاضل "میشیل عفلق" و،چاچې پخپل کتاب "فی سبیل البعث" کې خپل اندونه او افکار څرګند کړي دي، د لته دهغه نه څو اقتباسات را اخلو!

هر هغه شخص که ډېر محدود صلاحیت هم ولري خو هغه دهغه قوم سره نسبت ولري کوم قوم چې محمد (ﷺ) دخپلو ټولو صلاحیتونو اوقوتونو په یوځای کولو سره پیدا کړی؛ بایه بله مناسب وینا هر تن چې دهغه قوم غړی وي، کوم چې محمد (ﷺ) دخپلو ټولو وړتیاوو په یوځای کولو تخلیق کړی، په قدرتي توګه ممکن ده چې هغه دمحمد(ﷺ) کمزوری غوندي انځور شي، څکه په هره زمانه کې قوم

تـول دیـوه شخص دننـه مجسم کېږي او نـن ددې ضرورت دی چــې هغــه قــوم(عـــرب) د نويـــو پرمختګونــو پــه لارقــدم کېــږدي، چــې پــه دې بــه دهغــه ټـول ژونـد دهمـدي عظـيم الشان شخصـيت دژوندانه(ســـيرت) تفصــــيل او امتـــداد شي. او محمـد(ﷺ) يـومخ عـربي و، نـن پکـار ده، ټـول عـرب محمد(ﷺ) شي.(سبيل البعث ۴۵مخ)

داسـلام د فاتحانـه شـان پـه بـر ي کې چې کـوم څنـد راغـی، وجـه يــې داوه، څــو عــرب دخپلــو کوښښـونو، زيـارونو، تجربــو او ازموينــو پـه نتيجـه کــې د زيــاتو ازمايښــتونو تکليفونـــو، اميــدونو، نــا اميـديو او د کاميـابيو اوناکـاميو وروسـته حقيقـت تـه ورسي يعنـې ايـمان پخپلـه دهغـوئ دننـه پيـداشي، هغـه ايـمان بـه د تجربـې نـه اخسـتل شـوی وي ،څـو ايـمان دژوندانـه ژورو سره ترلـی او حقيقـي ايـمان شي ،لـه دې پلـوه اسـلام يـوعربي تحريـک و او دهغـه معنـی ده، دعربيـت تجديـد او تکميل... (فی سبيل البعث ۳۶مخ)

اسـلام دعـرب قـوم دابـديت جـذبې او دهغـه د پراختيـا غـوره اظهـار اوتعبيـر دی، لـه دې پلـوه اسـلام پـه حقيقـت کې عـربي دی او پخپلـو مثـالي مقاصـدو کـې انسـاني دی، نـو پـس داسـلام پيغـام پـه حقيقت کې انساني او عربي اخلاق دي.(۴۷مخ)

ددې لپـاره هغـه معنـی چـې پـه دغـه اهمـه او تاريخي دوره کې دترقی او تغير دنازکې مرحلې پـه اړه اسلام ښکاره کړي، داده چې ټـولې وړتيـاوې دې دعـربي څـواک پـه پياوړتيـا او ترقـی صرف کـړای شي، څونـور قومونـه دعربې دايرې دننه کلابندشي (۴۸مخ)

پـه اروپـا کـې د قوميـت نظريـه يـواځې پـه منطقـي بنسـټ ولاړه ده، هلتـه لـه مـذهب نـه دقوميـت بيلتـون لازمـي امرګڼـل‌دلی و،څکـه اروپاتـه مـذهب لـه بهـره لاړ و ،چـې دهغـه څـای دمـزاج اوتـاريخ سره نابلـد و اوهغـه عقيـده چې داخـرت او اخلاقـو خلاصـه وه، دهغـه څـای او چاپيريـال لـه اړتيـا وو سره يـې سمون نـه لاره او نـه دهغـوی دتـاريخ سره تـړلي وه؛ هرچې اسـلام دی، هغـه دعربـو لپـاره يـواځې اخـروي او دڅـو اخلاقـو مجموعـه نـدی، بلکـې دژونـد پـه بـاره کـې دهغـه نظريـه د کـا ئنـاتو د شعور ښـه فصيحه ترجمانې او دعـربي شخصـيت او و حـدت څـواکمن تعبيـر دی، چې هـره وينـاې يې تـر شعور اوفکـر پـورې نښـلي (۴۹مخ)

دشام بې وسي او دبعث ګوند ناکامي:

لـه بـده مرغـه دغـه ډول افکـار او دژونـد فلسـفه دشـام د پـوخي کړيـو دننـه او دپوهنتونـو د شـاګردانوترمنځ يـې دهـرې ورځـې پـه تيريـدو مقبوليـت منـده او دهېـواد هغـه عنـاصر چـې دمختلفـو عقايـدو او مـذهبونو پيـروان وو هغـوی د پيل نـه پـه پـوځ مسلط وو، هغوئ دغـه افکـار لـه زړه اوڅـان يـې مـنلي، د څوکلونـو راهيسې پـه شـام همـدا ګونـد او دهمـدې فکـر شـاګردان واکمـن دي لاد ينـي سياسـت، عربـې ملـت پالنـه او اشـترا کې اندونـه يــې دومـره څـواره شـيندلي، چـې اوس هلتـه داسـلامپالو او يـا دنـورو فکرونـو دشـاګردانو لپـاره اسـتوګنه او يـا دخپلـو انـدونو او فکرونـو تبليـغ يـومخ ممنـوع دی او پـه لـوی شمېر خلـک د خپـل وطـن پريښـودو تـه اړکـړای شـول او لاړل نـورو عـربي هېوادونـو او اروپـا تـه مهـاجر شـول، هغـه شام(چې يـو وخـت دمصر وروسـته ددينـي علومـو او دينـي فکـر دويـم مرکـزو) خپـل سـتر اوممتـاز علماء، قلمـوال او دينـي رهـبران لـه لاسـه ورکـړل، د واک د چـارو واګــې دڅـوان نسـل لاسـوته ولويـدي،چې هغـوی نـه د ذهنـي پلـوه مسـتعد دي ،نـه دحکومـت چلولـو تجربـه لـري او نـه دمـاغي اعتـدال او تـوازن څخـه بـرخمن دي، دغـه هېـواد چـې دنـړی ښايسـته او ښـراز هېـواد مشـهورو، اوس داقتصـادي بـدحالی سره مـخ دی، دهېـواد د ښتمنو لويـه سلنه دورځينـو

انقلابونو څخه دومره په تنګ راغلل چې دشام یې پریښود او بهر لاړل، دقومیت، ماده پال ذهنیت او اشتراکیت نیشه دومره ختلې چې څوان قلموال، حکومتي او فوځي چاړواکې ښکاره په اسماني اقدارو پورې ملنډې اومسخرې وهي، چې یوه بېلګه یې دشام درسمي پوځي مجلې(جیش الشعب) په یومضمون کې لیدل کېږي، کوم چې د پوځ یو چاړواکي لخوا لیکل شوی، دلته یې څو اقتباسات را وړو:

عرب قوم د اله(معبود) نه مرسته طلب کړه،د اسلام او مسیحیت پخواني اقدار یې وپوښتل.... دپانګوال نظام نه یې مرسته ووغوښته اود منځینو پیړیو څو معلوم نظامونه یې تجربه کړل،دهغو ټولو نه هغه(عرب) ته د کوچنی زړې برابر هم فایده ورنکړه، ددې وروسته عرب قوم خپله دهمت ملا وتړله اوخپل نظر یې تر لرې واچاو، ورته خپل یو نوی زیږیدلی ماشوم په نظر ورغی،هغه ته کرار، کرار نژدې شو، هغه نوی زیږیدلی ماشوم اشتراکي عربي انسان دی، هغه ټول ناروغه او زاړه اقدار چې په ټولنه کې شتون لري، هغه اصلاً د استعمار او پانګوال زیږنده دي.

هغو اقدارو "عرب انسان" سست، تنبل، بې همته او دتقدیر په مخکې یې سر زوړند نیولی،چې هغه ته یواځې "لاحول ولاقوة الا بالله العظیم" ویل رازي.

نویو اقدارو چې نوی عرب انسان زیږولی، هغه ددې ستم خپلي او باغي انسان دننه پخپله ټوکیدلی او دیوه وړې،د یو نوي انقلابي او اشتراکي انسان له وجود نه پیدا دی، کوم چې یواځې او یواځې په انسان او انسان عقیده لري.

دعربي تهذیب تعمیر او د عربي ټولنې دتشکیل یواځینی لار د نوي عربي اشتراکي انسان تخلیق دی،چې هغه به په دې عقیده وي چې الله، مذاهب، پانګوال او استعمار.... ټول هغه اقداردي چې په پخوانی ټولنه واکمن و او دتاریخ په میوزیم کې مملایي شوي لاشونه دي.

هرکله چې مونږ دا شرط ږدو، چې نوي انسان ته له هغو ټولو پخوانیو اقدارو نه انکار پکاردی، نو لازمې ده چې د هغه لپاره څینې متعین اقدار هم په ګوته کړو او هغه دي په انسان باندې مطلق ایمان! هغه(نوی اشتراکي انسان) دي یواځې پخپل وجود، پخپل عمل او په هغه څه چې هغه یې انسانیت ته ښئل غواړي باور و لري، څکه هغه پوهېږي چې ددې لازمي انجام مرګ دی او له مرګ نه سیوا بل څه ندی، بیا نه دوزخ شته اونه جنت؛ بلکې هغه(اشتراکي انسان) به یوه زره شي، چې دزمکې سره به ګردش کوي؛ له دې وجې هغه مجبور دی چې هر څه کوي، هغه دي دکوم اجرت پرته (مثلاً په جنت کې یو وروکی ځای) خپل قوم او انسانیت ته وړاندې کړي (الانسان العربي الجدید، دابراهیم خلاص، مجله جیش الشعب دمشق)

دعربي ملت پالنې او اشتراکیت د همدې جوش او عین خواني په زمانه کې داسرایل او عربو ترمنځ جنګ و شو، شام او دهغه حریف، یو په یو جنګ ته اړشول، شام ترمخه هغه (اسرایل) ته چیلنج ورکاوه او د شکست ورکولو لپاره یې دعربي قومیت ناره پورته کړه، خود جنګ په نتیجه کې نه یواځې شام دخپلو پولو ساتنه ونکړای شوه، بلکې غلیم(اسرایل) دهغه په خاوره کې ور ننوت دېره زمکه یې ترې لاندې کړه، خودشام اشتراکي پوځ یې په مقابل کې هیڅ هم ونکړل،او دبې وسی په حالت کې یې دخپلو اشتراکي با دارانو او عربي ملت پالنې علمبردارانو ته دمرستوخولی غوړ ولي وه او له اقتصادي، سیاسي او پوځي پلوه خوار، ذلیل اورسواشو، دا

وراندوینـه گرانـه ده، چـې کلـه بـه د دغـه پـیچلي حالت نه ووځي؟

ددې ترڅنـګ هغـه شامي ځوانـان چـې دهغـوی دننـه دایمان سپرغۍ شته ، هغوئ بـه اسانه خپـل هېـواد دلادینیـت، دنیـاوي او دینـي خسـران غبـرګ تـه پرینږدي،لـه نیکمرغـه چـې د شـام پـه سر ځــارونکو ځوانـــانو دننـــه دوښـــتابه څپـــه راټوکیـدلې،چې اشـتراکي حکومـت پـه ټـول ځـواک دهغې ځپې دمخنیـوي لپاره بیدریغـه وسلې کاروي چې تراوسـه یـې داسـلام د یـو وېـر مخـالف ځـواک پرضد هم هغه نه دي کارولي.

داقتصاد بدحالت اوبي اعتمادي:

مصـنف تـه پـه ۱۳۹۳(۱۹۷۳ اګسـت) کـې دا موقـع پـه لاس ورغلـه، چـې شام لـه نـږدې ووینـي او هـم دلـږې مـودې لپاره پـه دمشـق کـې تـم شي، چـې (لـه کابلـه تـر یرموکـه...) یونلیـک کـې مې خپـل تـاثرات لـیکلي ، هغـه مهـال هـم دا ننـی ټـولې اندیښـنې محسوسـېدې، ځکـه مـې دشـام خلکـو تـه د اشتراکیت نـه دکومې ګټې نـه رسیدو اندیښنه پـه لاندې الفا ظو کې څرګنده کړې وه؛

دهغـو رهبرانـو دا نـاره وه؛ وږي تـه یـوه مـړی ووډی؛ترخلکـو لـومړنی اړتیـاوي رسـول؛ بـې سرپنـاوو تـه سرپنـاه برابـرول؛ دهغـوئ ټـول کوښښـونه دهمـدې شـعارونو لپـاره وو، کلـه چـې هغـه ترلاسـه نشـول،نو مطلـب دا را ووت چـې اشـتراکي فلسـفه او اشـتراکیت، قومیـت اوکمـونزم دغیـر عقـلي او غیـر انسـاني مفکـورې زیږنـده وو ، کـوم چـې تنهـا پـه خـوش بـاورۍ ، او جـذباتو ولاړوو، دعقـل، تجربـې او نتـایجو پـه معیـار ارزول شـوي نـه وو، یـا هغـه سـلبي اصـول او مبـادي دي چـې مقصـد یـې دتخریـب او نظـام نـه دتیښـتې پرتـه بـل څـه نـه دي.(دریـابئ کابـل سي دریـائي یرمـوک تـک ۱۷۲مخ)

پـه دغـه سـفر کـې بغـداد تـه هـم لاړم، دهغـه سفرتاثرات مې داسې څرګند کړي وو:

د بغـداد پـه سرکونـو وګرځیـدم، دخلکـو خـبرې مـې واریـدې او هـم مـې دهغـوئ دتنـدیو لیکـې ولوسـتې، دخینـو خاصـو تجربـو پـه رڼـا کـې راتـه وبریښـېده چـې دعبـد الکـریم قاسـم دانقـلاب نـه وړانـدې دغـه هېـواد زیـات خوشـال اوپیـاوړی و، پـه قـوم کـې د نـن پـه پرتلـه زیاتـه ازادې بـې فکـري او د اعـتماد روحیـه وه، کلـه چـې زه پـه ۱۹۵۷ ز کـې بغـداد تـه راغلـی وم، هلتـه دکـوم بنـدیز، ګـواښ اود پهـرې احسـاس نـه و، پـه ښـه ازادانـه توګـه پـه بغـداد او دبغـداد نـه بهرګرځیـدم او لـه هـر چـا سره بـه مـې چـې غوښـتل وویـنم د پوښـتنې او مراقبـت اندیښـنه را سره نـه وه... آخـر دواړو هېوادونـو لـه خونړیـو انقلابونـو څـه ترلاسـه کړل؟ بایـد خلکـو تـه یـې لـه ظلمونـواو د اسـتبداد لـه منګلـو ازادې او فطـري خپلـواکې بښـلې وای (دریـائي کابـل سي دریـایي یرموک تک)

او عـراق چـې کلـه پـه ۱۹۸۰ زکـې پـه ایـران حملـه وکـړه، دهغـې پـه نتیجـه کـې دواړه هېوادونـه دبربـادۍ سره مـخ شـول چـې داسـلام او مسـلمانانو دبـدنامۍ او رسـوایۍ پرتـه یـې دواړو تـه نـور څـه ورنکړل.

نور بیا...

میوند سادات

دفرانسوي مجلې لخوا

د اسلام دښمنۍ بل مردود جنایت

فرانسوی اسلام دښمني مجلې (چارلي ایبدو) یو ځل بیا دمسلمان امت معنویاتوته زیان ورکړ ،چارلي دجنوري په ۱۴ مه پر خپل لومړي مخ دبشریت دلارښود،دکونینو دسردار اورحمة للعلمین (صلی الله علیه وسلم) کارټون چاپ کړ،دچارلي سره دمسلمان ملت دسپکاوي په دې کمپاین کي نوري غربي رسنۍ هم ملګري دي .

چارلي اسلام دښمني مجلې تر دې مخکي په دوه زره شپږم او دوه زره یوولسم میلادي کال کي هم درحمة للعلمین (صلی الله علیه وسلم) کاریکاتورونه خپاره کړي وو، دچارلي دګستاخیو په غبرګون کي درو تنو مسلمانو شازلمیانواسلام سره دوفادارۍ او دخوږ نبي (صلی الله علیه وسلم) سره دربښتیني مینې ثبوت وړاندي کړ،سر تیرو مجاهدینو دچارلي پر دفتر برید وکړ دمجلې دایډیټر ، پنځو کارټونستانواو نورو کارکونکو په ګډون یې دولس تنه اسلام دښمنه عناصر ددوزخ کندي ته ورټېل وهل اومجاهد شازلمیان دډیموکراسۍ دعسکروسره په نښتوکي دشهادت عالي مقام ته ورسیدل .

پر چارلي برید دکفري نړۍ سربیره داسلامي نړۍ ځینو واکمنانو هم وغانده په ډیر تاسف سره چي دافغانستان غوندي غیرتي هیوادبلواک واکمن (اشرف غني) هم دچارلي داسلام دښمنه کار کونکو وژنه نه یوازي وغندله بلکي تر نورو لاوړاندي ولاړاو دغه برید یې وحشي عمل وباله .

پر چارلي برید په نړیواله کچه وغندل شو، دچارلي دوژل شوو کار کونکو دجنازې په مراسمو کي دنړۍ په لسهاوو مشرانو ګډون وکړ، دوی دترهګرۍ !! سره دمشترکي جګړې تړ‌ر وواهه ، مسلمانان یې په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه په نه زغم او افراطیت تورن کړل او دبیان ازادۍ سره یې خپل عهد تازه کړ، دچارلي دپاته شونو په ګډون نورواسلام دښمنه رسنیو هم وویل چي دغه ډول بریدونه به یې ونه ډاروي او دبیان ازادۍ!! ته به نور هم کش ورکړي .

دلویدیځي نړۍ بشري حقونه او دبیان ازادي دغرب ځېلو او یو شمېر ساده ګانو پرته نور ټول وګړي یوه درواغجنه دعوه ګڼي ، ځکه په تکرار سره ثابته شوه چي غرب نه یوازي داچي بشري حقونو او

دبیـان ازادۍ تـه احـترام نـه لـري، بلکـي تـر ټولوسـتر ناقضـــین یـــې همـــدوی دي، ددوی دبیـــان ازادي اوبشـري حقونـه پـه افغانسـتان ، عـراق، فلسـطین، مصر ـــــ صـــومالیا،یمن، ختـــیځ تیمـــوراو..... کـي نړیوالوولیـدل، ان چـي لاریـون کـونکي یـې پـه ډله ییزه توګه بندیان ، شکنجه او له تیغه تېر کړل .

دچـارلي پـه کـور فرانسـه کـي چـي دادیـانو دتعـادل او مـذهبي زغـم نـارې وهـي دمسـلمانو میرمنـو پرحجـاب بندیزونـه ولګیـدل، او پـه پرلـه پسـې ډول داســـــلام اومســـــلمانانو دبـــــدناملو اوسپکولوهڅي کـوي، دتعجـب اوشرم وړ خـوداده چـي دچـارلي پـه ویـر کـي داسرائیلولـومړي وزیر(نتنیـاهو) هـم دبیـان ازادۍ چیغـي وهلـې، هـو هغـه بنیـامن نتنیـاهو چـي غـزه کـي یـې دبیـان ازادۍ شـوبلي اوټانګونـه مسـجدونه ورانـوي، ښـځو او ماشومانو باندي میچني چلوي او پـه اقصی جومات کي دخدای جل جلاله دمسلمانو بنـده ګـانو سـجده نـه شي زغملای .

دبیـان ازادۍ مـدعیان کـه رښتیاپه خپلـو دعـواوو کـي رښـتوني وي نـو چـارلي دي پـه راتلـونکې ګڼـه کـي دهلوکاسـټ (دیهودانوټـول وژني)کـارټون او یـا لـږ ترلږه په همدې اړه یو مضمون خپور کړي.

غربیـــانود سـلمان رشـدي شـیطاني - چـي دشیطاني ایتونـو کتـاب یـې ولیکـه - دبیـان ازادي وبللـه ، دسر لقـــب یـــې ورکـــړاو برتانیـــه کـــي داعـــزازي هسـتوګني مرفـه او فـوق العـاده اسباب ورتـه برابـر کـړل، پـه ډنمـارک، ناروې،هالنډ، امریکااو فرانسـه کـي چـي دقـران کـریم او نبي کـریم صـلی الله علیـه وسـلم توهینـونکي هڅـي وشـوې دبیـان ازادي وګڼـل شـوه ،

خـــو هغـــه مســـلمانان چـــي پـــه اســـلام کـــي دپـــوره داخلیدو اعلان او دعوت کوي ترهګر نوموي .

مسـلمانانو تـه اوس تـر بـل هـر وخـت ډیـر پکـار ده چـي دفکـري جګـړې دفـاعي اوتهـاجمي اوزار او اسـباب برابـر کـړي، ځکـه دښـمن دنظـامي جنـګ ترڅنـګ پـه مختلفـو شـکلونوپر فکـري جګـړې ترکیـز کوي،مسـلمان علمـاء، داعیـان اومبلغـین بایـد پـه شـفاهي اوکتـابي بڼـه دانحضرـت (صـلی الله علیـه وسـلم) ددعـوت او جهاد،سـولې او جګـړې، انفـرادي اوټـولنیز ژوندانـه ټـول اړخونـه پـه معـاصر اسـلوب را وســـــپړي، او همـــــدا راز دغـــــرب دغولونکـــــو ارزښتونو(ډیموکراسـی، بشرـي حقونـو اوبیـان ازادۍ) څخه پرده پورته کړي .

دماشـــومانو جنګونـــه بـــه مـــو لیـــدلي وي ، معمـولاکمزوري کوچنیـان چـي پـه فزیکـي برخـورد کـي څـه نـه شي کـولای نوکلـه چـي کـوم دامـن ځـای پیداکړي مقابل طرف تـه سپکي سپوري پیـل کـړي، پـه غربیـانو اوس دکمـزورو ماشـومانوکانه شـوې ده، دوی چـي داستشرـاق پـه مکتـب کـي دډیـرو زیاتومصـارفواو هڅـــو سره سره ونـــه توانیـــدل خپلـــو اهـــدافو تـــه ورسیږي نو دکمزورو ماشومانو رول یې پیل کړ.

داسـلام پـه خـلاف دلویـدیځ لـه پرلـه پسـې اوګڼوګســـتاخیو څخـــه دانتیجـــه پـــه لاس راځـــي چـي غـرب لـه شرق سره دمنطـق ،مناقشـې اومنـاظرې تـوان لـه لاسـه ورکـړي ،نوځکـه اوس پـه ښـکنځلواو کارټونونو خپل زړونه تسلي کوي .

په ګیلم جم ! دهېواد چورولو هوډ په وړاندې !

دافغان ولس مسئولیت

سجاد

څه موده مخکي، دلاسپوڅي رژیم لومړي مرستیال دجنبش ګوند مشراو دګیلم جم خونکارې ملیشې بنسټ ایښودونکي جنرال دوستم پخپلو څر ګندونو کې ویلي و: چې افغانستان دشمال څخه تر لویدیځ پورې دامنیت ساتلو په موخه یې یو شل زره کسیز ګروپ چمتو کړی دی، چې دولایتونو څخه دطالبانو کیلم ورټول کړي.....

دموجوده امریکا یې رژیم دجهاد او مقاومت په وړاندې په ناکامه راتلو، بلکل هغسې نامشروعه اوناکامې تجربې تکراوي، څنګه چې دشوروي پوځونو تروتلو وروسته دنجیب په مشرۍ کمونست رژیم دمجاهدینو په مقابل کې دخپلیو ناکامیو په لیدو په کار اچولې وې، چې دهغو ناکامو تجربو په لړ کې یوه یې د خونخوارو ملیشو د جوړولوجنایت و، چې له شک پرته دهغو دلاسه افغانانو دوسپنو نیني وچیچلې!

په هغو بدنامو ملیشو کې ترټولو دېره وحشت پاله ګیلجم ملیشه وه، چې ددوستم تر قوموندې لاندې یې دافغان مسلمان ولس په وژلو، خورولو اولوټولو کې تر شورویانو هم زیات ظلمونه وکړل اوپه غلاوو،چور اوچپاو لونو کې یې بې ساري شهرت او نوم پیدا کړی و ، دغه وجه ده دکمونست رژیم په بقایا ملیشو کې ګیلم جم ملیشه ددېر بد تاریخ او ناولي کردار په لرلو شهرت لري.

هو! اشرف غني چې د کمونست نجیب خلف دی! دخپل بادار په حکم او پریکړه هغه دنجیب دوخت ظالمانه تاریخ ته دژوند ببښلو هوډ کړی دی، غواړي مظلومې افغان پرګنې په ګیلجمانو چور او تالان کړي، وربانديې بې ابرو او بې پردې یې کړي!چې دهمدې موخې لپاره بدرنګه وحشي دوستم غوره کړی دی، هغه ته دجمهوري ریاست دلومړي مرستیالۍ څوکۍ ورکول او ارګ ته دهغه را وستل دافغانانو او دافغانستان سره چې لویه جفا اوخیانت دی،ددې ترڅنګ مدا بدنیت او اراده شتون لري.

داشرف غني لخوا یو دافغانستان پلورنې مردود ګام داسې جنایت دی چې افغان ملت به یې هیڅکله ونه ببښي؛ ولې ددې په سبب به تر پیریو پیریو افغان ولس دزهرو ګوټونه غوړپ کوي! او بل ددوستم په ارګ کې کینول د هر اصیل افغان لپاره دردونکی او خفه کوونکی منظر دی څکه د دوستم لاسونه دزرګونو مظلومو افغانانو په وینو سره دي، چې هیڅ وخت په مظلومو مسلمانانو رحمیدلی ندی، دومره ستر جنایتکار او مردود انسان ته دافغان ولس دزعامت څوکۍ سپارل دټول ولس سپکا وی دی او د ملت دزعامت د منصب اومقام توهین دی!

ایا دا به دافغانستان دخاورې بد مرغې وي که داوسني نسل؟ چې کیلجم په هغوی پاچاهي کوي؟! هغه ګیلجم چې دچور،چپاول، وحشت، ظلم اود ناحقه وژنو سیمبول و، نن امریکا هغه دملي زعامت په موقف کیناوه!؟ شابس په دې دیمکراسې ازادې؟! او په دې بشرپالنه او انصاف؟!

دهغه لاسونه ترننه دمعصومو خلکو معصومې وینې څاځي، امریکا هغه ته د افغان ملت د راتلونکي تقدیر د فیصلو واک وسپاره ؟! څو یو واربیا ټول افغانستان لوټ او تالا ن کړي.

شکلاکګر امریکایان غواړي دهغه په لاسو او دګیلم جم په بیا راوستلو له افغانانو دخپلې ماتې غچ واخلي، څکه دامریکایانو لوی هدف افغان وژنه ده او ددې لپاره د دوئ په ګومان دوستم موزون شخص دی، چې هیڅ عاطفه او رحم نلري، دهغه ترلاس لاندې ګیلجم ملیشه دامریکایانو لپاره دښې مزدورۍ ملیشې په حیث هغسې تور کردار تر سره کولی شي کوم یې چې وراندې دخپلو روسي بادارانو لپاره ادا کړی...

پوهیږو چې امریکایان غواړي دګیلم جم ملیشې په وحشي۔ دارمارانو افغان پرګنې وداړي! خو دوئ دې په یا د ولري چې بیا به هم بري ترلاسه نکړي، اونه به دوستم ددوئ دغوښتنو په سرته رسولو کې بری ومومي !څکه دوستم او ګیلجم داسې نوم او بد بوتی دی چې دهغه له اوریدو هر افغان کرکه او نفرت لري ور سره حساسیت لري، د امریکایانو دخوشالولو لپاره د دوستم دا لاپه چې دشمال نه دافغانستان ترلوېدیځ پورې ولایتونه به تصفیه کوي!! دا دروغ دخپلو بادارا نو دخوشالولو لپاره وایي، څکه دا د دوستم او ګیلم جم ملیشي له وسه پوره کارندی، دوستم چې په افغانستان کې غړاندي وهي هغه دا دامریکایانو دپرمختللي ټیکنالوجۍ مرهون منت دی، کنه دامریکا دیرغل نه وراندې دوستمیان او ګیلم جمان دکولاب نه هم ها خوا تښتیدلي وو، که بیا هم دامریکا سیوری تري پورته شو افغانستان کې نه دوستم تم کېدای شي او نه دهغه ګیلجم ملیشه!

ولې افغانانو ته دوستم معلوم دی، دهغه ناولی کردار تري پټ ندی، هیڅکله به اجازه ورنکړي چې ګیلجم ددې هېواد په لر اوبر کې تصفیوي عملیات پیلو ل خو لري خبره ده خپل شتون هم وښودلی شي!

خو بیا هم افغان ولس دې بیدار اووسي او پردیو ته باید موقع ورنکړي چې هغو خلکو ته په لاس د دوئ دراتلونکي سرنوشت تاکلو واک ورکړي ،څوک چې ددوئ دنسل ریښې ریبل غواړي، باید افغان ولس دخپلې بقا د پریکړې واک پخپل لاس کې ونیسي۔ اوپخپل لاس هېواد دسالمیت او ازادۍ، توغ رپاندوساتي، ددښمن او دهغه لاسپوڅو څخه دې دخیر ته نکوي... دحالاتو او وخت پر وراندې دې خپل مسئولیتونه درکړي، ښکاره ده چې افغان قام هیڅکله به دومره بې همت نه وي شوی چې د دوستم شل زره کسیز یا دیرش زره کسیز ګروپ چاره ونشي کړای، داسې عبرت ناک سبق دې ور کړي چې د دوستم اود هغو دپلویانو راتلونکي نسلونه یې هم په یاد ولري چې بیا دهېواد دګټو او ولس په ضد دکوم جنایت کولو جسارت ونکړي

اوموږ، ډاډه یو که امریکا او یانور و دا تیروتنه وکړه چې دوستم او ګیلجمي ملیشه یې دافغان وژنې لپاره وګومارله، په مقابل کې به یې ولس ې تفاوته پاتې نشي، دامریکایانو په ګدون ګیلجمانو ته به هغه غاښ ماتوونکی ځواب ورکړي چې دبادار او مزدور دواړو په تابوت به وروستی میخ وهل ثابت شي.

هم دا راز دوستم چې درزګونو طالبانو قاتل دی، دامریکا په مشرۍ۔ دیرغل وروسته زرګونه طالبان چې په شمال کې بند پاته شول، دوستم لخواهغوی سره د کلکې وعدې باوجود (چې ټول به خپلو سیمو ته په خوندي توګه رسو) دهغوی نه د وسلو ټولولو وروسته ټول بندیان کړل، نیم یې په قلعه جنګي کې شهیدان کړل او پاتې یې کانتینرونو ته پورته کړل، کانتینرونو کې دتنفس دنشتوالي اوحبس په وجه ټول شهیدان شول، حتماً که دوستم بیا ګیلمجمان رامنځته کوي، دهغوی په مقابل کې دطالبانو لخوا غبر ګون به هم زیات شدید اوسخت وي، هغوی به خامخا کوښښ وکړي بلکې دا به د هغوی لپاره دوستمیانو څخه د خپل غچ اخستلو یو ښه فرصت وي چې په اسانه لوی شمېر ګیلم جمو ته قوي ضربه ور رسوي.

بیا به دوستم او دهغه پلویان ددې په خای چې دشمال نه دافغانستان ترلوېدیځ پورې ولایتونو کې دطالبانو په ضد تصفیوي عملیات تر سره کړي، دیته اړ وي چې دخان لپاره کوم غار او سوړه وګوري، څکه دده بادرانو افغانستان کې جنګ بایللی دی او هغوی ګډې باروي، نن دی که سبا دا وطن دطالبانودی، هغوی جنګ ګټلی دی، هغوی به دده پشان دجنایتکارو ملیشو مشران خامخا دمحاسبې میز ته کینوي څو ورته د کړو ظلمونو او جنایتونو تراخه وڅکوي!

شاخص های اندازه گیری انفلاسیون

لیکوال: همایون غفورزی

مقدمه

انفلاسیون عبارت از افزایش مقدار پول زیادتر از نیاز آن در اقتصاد ویا هم انفلاسیون عبارت از افزایش متداوم قیمت ها و کاهش متداوم ارزش پول است. انفلاسیون ازجمله مشکل های عمده اقتصاد ماکرو بوده که درچوکات کاری کوتاه مدت مورد مطالعه قرار میگیرد.

انفلاسیون در پهلوی ایجادنمودن سایر مشکلات دو مشکل عمده را در اقتصاد ببار می آورد، ازیکطرف توزیع عادلانه عاید در اثر انفلاسیون صدمه دیده و ازجانب دیگر وظیفه قیمت به حیث حامل معلومات را متضرر می سازد. بنا اندازه نمودن انفلاسیون غرض اجرای اقدامات معقول از طرف سیاست گذاران حایز اهمیت بوده و برای اندازه نمودن آن شاخص ها متعدد وجود دارد، که ازجمله سه شاخص، شاخص قیمت مستهلکین CPI ، شاخص ضمنی GDP Deflator و شاخص قیمت مولدین PPI زیادتر معمول بوده و مورد استفاده قرار می گیرند.

GDP Deflatorبرای اندازه گیری تغیرات قیمت تولیدات ناخالص داخلی مورد استفاده قرار گرفته، درحالیکه CPI تغیرات قیمت مستهلکین و PPI شامل تغیرات قیمت مواد ایست که از طرف مولدین مورد استفاده قرار می گیرد.

شاخص های اندازه گیری انفلاسیون:

شاخص های اندازه گیری انفلاسیون به دو کتگوری عمده تقسیم میشوند:

1. شاخص های اندازه گیری انفلاسیون به سطح کشور: برای اندازه گیری تغیر در سطح عمومی قیمت ها به پیمانه وسیع شاخص های چون شاخص قیمت مستهلکین(CPI) ،شاخص قیمت GDP و Personal Consumption Expenditures Price Index (PCEPI) استفاده می گردد.

2. شاخص های اندازه گیری انفلاسیون به سطح یک سکتور اقتصادی: شاخص های که برای اندازه گیری تغیر در سطح قیمت ها به پیمانه محدود به سطح یک سکتور مشخص اقتصاد استفاده میگردد مانند انفلاسیون دارایی های مالی (اوراق سهم و اوراق قرضه) ، انفلاسیون خدمات (خدمات صحی و سرگرمی) ، انفلاسیون اجناس (غذا ، تیل و اهن) وغیره.

عموما از سه شاخص عمده برای اندازه گیری انفلاسیون مورد استفاده قرار میگیرد که ذیلا آنها را مورد مطالعه قرار میدهیم.

:شاخص قیمت مستهلکین Consumer Price Index:

شاخص قیمت مستهلکین سطح عمومی قیمت ها را اندازه گیری نموده و این شاخص معمولا توسط اداره مرکزی احصاییه به نشر می رسد CPI .شاخص قیمت یک سبد معین، یعنی سبد CPI می باشد. سبد CPIاساسا تمام اجناس و خدمات ایکه در یک مملکت به مصرف می رسد را شامل می شود- غذا، گاز، ادویه،

ترانسپورت، کرایه و غیره . ترکیب سبد CPI توسط اینکه دریک مملکت چه به مصرف می رسد صورت می گیرد- با افزایش مصرف مجموعی یک جنس وخدمت وزن آن در سبد نیز افزایش می یابد. طور مثال اگر از سیب دوچند ناک استفاده صورت گیرد، وزن سیب درسبد دوچند می گردد. جزییات دقیق ترکیب سبد واینکه چگونه CPI سنجش می شود ازیک کشور تا کشور دیگر متفاوت می باشد.

شاخص قیمت مستهلکین تغییر قیمت ها در سبد ثابت اجناس و خدمات سال جاری که توسط یک مستهلک نمونه خریداری می گردد به مقایسه سبد ثابت سال اساس محاسبه می گردد.

به گونه مثال هزینه سبد یک مستهلک نمونه در سال ۲۰۰۰ بالغ به ۱۸ دالر و هزینه سبد مستهلک در سال ۲۰۰۷ بالغ به ۲۰،۳۰ دالر میشود.



برای محاسبه شاخص قیمت مستهلکین از فارمول ذیل استفاده می نماییم:

شاخص قیمت مستهلکین=

شاخص قیمت مستهلکین = =۱،۱۲

شاخص قیمت مستهلکین بیان میدارد که قیمت اجناس و خدمات شامل سبد مستهلک در سال ۲۰۰۷ به مقایسه سال ۲۰۰ به اندازه ۱،۱۲ یا ۱۱۲ ٪ تغییر نموده است (سطح انفلاسیون ۱۲ ٪.(

مورداستفاده شاخص قیمت مستهلکین

- برای بررسی نمودن تغیرات نمونه ای درهزینه های زندگی
- تنظیم نمودن قرارداد ها بر اساس انفلاسیون
- مقایسه سال های مختلف

دلایل اینکه چرا CPI قیمت ها را بلند تر نشان میدهد

- تمایل تعویضی CPI : از اوزان ثابت استفاده می نماید. بنا توانایی مستهلک را برای امتعه تعویضی ایکه قیمت آن کاهش نموده است رانشان داده نمی تواند.
- معرفی امتعه جدید : معرفی امتعه جدید باعث بهتر شدن سطح زندگی گردیده، در واقع ارزش پول افزایش می یابد اما CPI کاهش نمی یابد، بخاطریکه CPI از اوزان ثابت استفاده می نماید.
- عدم اندازه نمودن تغیرات درکیفیت : بهتر شدن کیفیت باعث افزایش ارزش پول گردیده، اما اکثرا اندازه گیری نمی گردد.

شاخص قیمت مستهلکین CPI و شاخص ضمنیGDP

معمولا برای ساختن GDP حقیقی از CPI استفاده صورت نمی گیرد. دلیل آن اینست که CPI تغیرات قیمت اجناس مصرفی را اندازه گیری نموده درحالیکه GDPاجناس مصرفی و سرمایه وی را در بر دارد. بنا ساده است تا در عوض از GDP Deflator منحیث شاخص قیمت استفاده نمود GDP Deflator .تغیرات سطح قیمت یک سبد را مطالعه می نماید که ترکیب آن نزدیک به ترکیب GDP است.

قیمت اجناس سرمایه وی

- در شاخص ضمنی GDP شامل می گردد (اگردر داخل تولید شده باشد(
- در CPI شامل نمی گردد.

قیمت اجناس مصرفی وارد شده

- در CPI شامل می شود.
- در شاخص ضمنی تولیدات ناخالص داخلی شامل نمی گردد.

سبد اجناس

- شاخص قیمت مستهلکین ثابت.
- شاخص ضمنی GDP هر سال تغیر می نماید.

:شاخص قیمت مولدین:Producer Price Index

در شاخص قیمت مولدین تغییر قیمت ها در سبد ثابت اجناس و خدمات سال جاری که یک مولد نمونه آنرا به هدف تولید امتعه مورد استفاده قرار میدهد به مقایسه سبد ثابت سال اساس محاسبه می گردد.

در ایالات متحده امریکا و هندوستان نسخه اولیه قیمت مولدین را Whole Price Index می نامیدند.

به گونه مثال هزینه سبد یک مولد نمونه در سال جاری ۲۰۰۷ بالغ به ۵۷۹۰ دالر امریکایی و هزینه سبد در سال اساس ۲۰۰۰ بالغ به ۵۰۰۰ دالر امریکایی میشود.

برای محاسبه شاخص قیمت مولدین از فارمول ذیل استفاده می نماییم:

شاخص قیمت مولدین=

شاخص قیمت مولدین = =۱،۱۵۸

شاخص قیمت مولد بیان میدارد که قیمت اجناس و خدمات شامل سبد مولد نمونه در سال ۲۰۰۷ به مقایسه سال اساس ۲۰۰۰ به اندازه ۱،۱۵۸ ویا ۱۱۵،۸ ٪ تغییر نموده است (سطح انفلاسیون ۱۵،۸ ٪.)

:شاخص قیمت:GDP

تغییر در قیمت های تمام اجناس و خدمات که شامل GDP می گردد را اندازه گیری می نماید . ویا به عباره دیگر شاخص قیمت GDP عبارت از تغییرسال جاری در ارزش از سبدی اجناس و خدمات تولیدات تکمیل شده به مقایسه سال پایه که در داخل یک کشور تولید میگردد. شاخص قیمت GDP از حاصل تقسیم تولید ناخالص داخلی اسمی بر تولیدات ناخالص داخلی حقیقی به دست می آید.

تولیدات ناخالص داخلی داخلی اسمی ارزش تولیدات جاری به قیمت جاری و تولیدات ناخالص داخلی حقیقی ارزش تولیدات جاری به قیمت های سال اساس است. شاخص قیمت GDP نشان دهنده سطح قیمت های جاری به مقایسه سطح قیمت های سال اساس است.

برای محاسبه شاخص قیمت GDP از فارمول ذیل استفاده می نماییم:

شاخص قیمت= GDP

به گونه مثال تولیدات ناخالص داخلی اسمی در سال جاری ۲۰۰۷ بالغ به ۱۲۰۰ دالر امریکایی ، و تولیدات ناخالص داخلی حقیقی در سال جاری ۲۰۰۷ که نظر به سال اساس (۲۰۰۰) محاسبه گردیده بالغ به ۵۰۰ دالر امریکایی میشود. شاخص قیمت GDP را چنین محاسبه می نماییم:

شاخص قیمت= = GDP ۲،۴

شاخص قیمت GDP بیان میدارد که قیمت اجناس وخدمات تولید شده که شامل GDP میشود درسال ۲۰۰۷ به مقایسه سال ۲۰۰۰ به اندازه ۲،۴ ویا۲۴۰ ٪ تغییر نموده است.(سطح انفلاسیون ۱۴۰ ٪.)

در بعضی از کشورها شاخص های دیگری برای اندازه گیری انفلاسیون استفاده میگردد مانند The retail Price Indexکه در انگلستان برای اندازه گیری انفلاسیون از آن استفاده می گردد. در سبد این شاخص به مقایسه سبد شاخص قیمت مستهلکین اجناس و خدمات زیادتر شامل می گردد ، همچنان به علت اینکه قیمت های مواد غذایی و تیل به اثر تغییر در عرضه و تقاضای مارکیت های مواد غذایی و تیل به

سرعت تغییر می نماید، به همین دلیل معلوم نمودن میلان سطح قیمت ها در دراز مدت هنگامیکه در سبد مواد غذایی و تیل موجود باشد مشکل می گردد. بنا بر این زیادتر از سازمان های احصایوی Core Inflation را اندازه گیری ونشر می نماید. که در سبد Core price indexامتعه چون تیل و مواد غذایی شامل نبوده و Core Inflationتوسط عرضه و تقاضای کوتاه مدت کمتر در مارکیت های مشخص تحت تاثیر قرار می گیرد.

برای بانک های مرکزی این شاخص زیادتر قابل اعتماد بوده و با استفاده از همین شاخص تاثیر انفلاسیونی سیاست پولی موجود را به گونه بهتر اندازه گیری می نمایند.

مقایسه شاخص های اندازه گیری انفلاسیون:

- نخستین تفاوت در محتوای اجناس وخدمات که شاخص آنرا دربر میگیرد دیده میشود. به این معنی که شاخص قیمت GDP قیمت تمام اجناس وخدمات تولید شده که شامل GDP میشود را اندازه گیری مینماید، شاخص قیمت مستهلک صرف اجناس وخدمات را که از طرف یک مستهلک نمونه خریداری میشود را اندازه گیری مینماید و شاخص قیمت مولدین صرف اجناس وخدمات که از طرف یک مولد نمونه خریداری میشود را اندازه گیری مینماید.

- تفاوت دومی در رابطه به واردات است، به این معنی که آیا این شاخص های اندازه گیری انفلاسیون افزایش قیمت های وارداتی را منعکس میسازد ویا خیر؟ در جواب این سوال میتوان گفت که شاخص قیمت GDP صرف اجناس وخدمات که در داخل کشور تولید میگردد را دربر میگیرد و واردات شامل تولید ناخالص داخلی نمیشود،در سبد شاخص قیمت مستهلکین اجناس وخدمات وارداتی شامل میباشد و افزایش درقیمت های واردات را شاخص قیمت مستهلکین منعکس میسازد و در سبد شاخص قیمت مولدین اجناس و خدمات وارداتی نیز شامل میباشد و افزایش در قیمت های واردات را شاخص قیمت مولدین منعکس میسازد.

- تفاوت سومی، طریقه جمع بندی مقدار اجناس وخدمات در هر سه شاخص اندازه گیری متفاوت میباشد. در شاخص قیمت GDP مقدار اجناس و خدمات سال جاری نظر به سال اساس تغییر می نماید، در شاخص قیمت مستهلکین و مولدین مقدار اجناس و خدمات سال جاری نظر به سال اساس در سبد ثابت می ماند.

جدول مقایسه شاخص های اندازه گیری انفلاسیون

نکات مشابه و متفاوت	GDP Deflator	CPI	PPI
موضوع مورد مطالعه	تغییر قیمت ها	تغییر قیمت ها	تغییر قیمت ها
محتوای اجناس وخدمات شامل سبد	تمام اجناس وخدمات تولید شده که شامل GDP میشود	صرف اجناس وخدمات را که از طرف یک مستهلک نمونه خریداری میشود	صرف اجناس وخدمات که از طرف یک مولد نمونه خریداری میشود
تغییر قیمت واردات	را منعکس نمی سازد	منعکس می سازد	منعکس می سازد
طریقه جمع بندی مقدار اجناس وخدمات	مقدار اجناس و خدمات سال جاری نظر به سال اساس تغییر می نماید	مقدار اجناس و خدمات سال جاری نظر به سال اساس در سبد ثابت می ماند	مقدار اجناس و خدمات سال جاری نظر به سال اساس در سبد ثابت می ماند

نتیجه گیری

شاخص های اندازه گیری انفلاسیون به دو کتگوری عمده تقسیم گردیده که کتگوری اول قیمت ها را در سطح یک کشور اندازه گیری نموده حالانکه شاخص های کتگوری دوم قیمت ها را در سطح یک سکتور معین اندازه گیری مینماید. شاخص های معمول برای اندازه گیری انفلاسیون عبارت از شاخص قیمت مستهلکین، شاخص قیمت مولدین و شاخص قیمت ضمنی تولیدات ناخالص داخلی می باشد. شاخص قیمت مستهلکین تغیرات قیمت در یک سبد اجناس و خدمات که توسط مستهلکین به مصرف می رسد را اندازه گیری نموده در حالیکه شاخص قیمت مولدین تغیرات قیمت سبد ثابت اجناس که توسط مولد به هدف تولید استفاده می گردد وشاخص قیمت GDPتغییر در قیمت های تمام اجناس و خدمات که شامل GDP می گردد را اندازه گیری می نماید.

تفاوت ها میان این سه شاخص وجود دارد، نخستین تفاوت از لحاظ محتوای اجناس وخدمات که شاخص آنرا دربر میگیرد دیده میشود، شاخص قیمت GDPتغیرات قیمت تمام اجناس وخدمات که شامل تولیدات ناخالص داخلی می شود را در بر می گیرد. شاخص قیمت مستهلیکن تغیرات قیمت یک سبد ایکه توسط مستهلک به مصرف می رسد را دربر داشته و شاخص قیمت مولدین تغیرات قیمت سبد اجناس ایکه توسط مولد به مصرف می رسد احتوا می نماید. دومین تفاوت بین شاخص های اندازه گیری تورم از نگاه واردات بوده که شاخص قیمت GDP قیمت اجناس تولید شده در داخل یک کشور را منعکس می سازد وقیمت اجناس وارداتی را دربر ندارد، اما شاخص قیمت مستهلکین وشاخص قیمت مولدین اجناس وارداتی را در بر داشته وتغیرات قیمت اجناس وارداتی را نیز منعکس می سازد. تفاوت سومی میان شاخص ها از نگاه طریقه جمع بندی مقدار اجناس وخدمات در هر سه شاخص بوده،.در شاخص قیمت GDPمقدار اجناس و خدمات سال جاری نظر به سال اساس تغییر می نماید، در شاخص قیمت مستهلکین و مولدین مقدار اجناس و خدمات سال جاری نظر به سال اساس در سبد ثابت باقی می ماند.

منابع وماخذ:

١. Mankiw, N.Gregory, (٢٠٠٩).Macroeconomics, Seventh edition.

٢. Nasir, M.Saeed, (٢٠٠٨). Macro Economics& Development of Pakistan, Ilmi Kitab Khana, Lahore.

٣. Shahid, Hamid, (٢٠١٢). Macroeconomics, Ilmi Kitab Khana, Lahore.

٤. The Economist,(٢٠٠٦). Guide to Economics Indicators, ٦th Ed, Free E-Book.

٥. Peter,(٢٠١٠).Essential of Macroeconomics,Peter Jochumzen & Ventus Publishing ApS.

٦. Macroeconomics ECO ٤٠٣. © Copyright Virtual University of Pakistan.

٧. مصطفی ، شریف، (١٣٩١). اقتصاد کلان،انتشارات اطلاعات ، تهران.

٨. منکیو، گریگوری ، (١٣٨٨). مبانی علم اقتصاد، ترجمه حمید رضا ارباب ، نشرنی ، تهران.

٩. منکیو، گریگوری، (١٣٨٩). نظریه اقتصاد کلان،ترجمه حمید رضا ارباب،نشرنی ،تهران.

١٠. نورعباد ، حمیدالله ، (١٣٩١). لکچرنوت سنجش عاید ملی، پوهنتون کابل.

دپاچا عبد الله مړینه!

او سعودي. واکمن....

رحیمي

دروان زیږدیز کال په ۲۳مه نیټه د اسلامي نړۍ دستر اسلامي او عربي هېواد پاچا عبد الله(بن عبدلعزیز بن عبد الرحمان بن فیصل، بن ترکي، بن عبد الله، بن محمد بن سعود) له نړۍ څخه رحلت وکړ.

شهزاده عبد الله نیږدې نیمه پیړۍ دسعودي عربستان په دولت، سیاست او حکومتي چارو کې دمحوري رول خاوندو ، چې د خپل میرني ورور شاه فهد دمړینې وروسته یې دسعودي عربستان دپاچا په حیث لوره کړې وه.

دسعودي عربستان په واکمنه کورنۍ کې شهزاده عبد الله دمسلمانانو او په خاصه توګه ددیني حلقود یو ملاتړکونکي په نوم شهرت درلود.

په سعودي عربستان باندې نیږدې پیړۍ پوره کېږي چې د سعود کورنۍ حکومت کوي، هغه مهال چې دعثماني خلافت رنګ شو، اسلامي نړۍ او په خاصه توګه جزیرة العرب په جغرا فیوي حدبندیو او پولو وویشل شو،دسعود کورنۍ په ډېره هوښیارۍ او تدبر دحجاز او نجد شا وخوا سیمو په یوځای کولو سره جلا حکومت جوړ کړ، دهند د نیمې وچې اکابرو علماوو چې په سر کې یې دهندوستان ستر مفتي اوفقیه مولانا مفتي کفایت الله دهلوي(رحمه الله) و،دسعودي عربستان دحکومت دبنسټ ایښودونکي پا چا عبد العزیز څخه وغوښتل چې نوموړی باید دعثماني خلافت دبدیل په حیث اسلامي خلافت اعلان کړي دهند نیمې وچې په ګډون دنړۍ مسلمانان به د هغه سره بیعت وکړي،خو داچې غربیانو ته دخلافت لفظ اوریدل داتوم بم له ګذاره دروند تاثیر لري او ورته دزغم وړندی، هغوی جبراً مسلمانان دیته اړ یستل چې دنړیوال خلافت له مفکورې تیر او دهغه په ځای محلي او دمعلومو جغرافیوي حدودو او پولو دننه حکومتونه جوړ کړي او دخلافت قایمولو نظریه باید ترک کړي.

دهمدې لپاره جزیرة العرب په جغرافیوي پولو او جلا حکومتونو یې وویشه، پا چا عبد العزیز دبرصغیر علماوو دغوښتنې منلو څخه په ډډه کولو دخلافت په ځای دحجاز، نجد او دشاوخوا سیمو په ګډون دحرمینو شریفینو څخه ګرد چاپیر دال الشیخ(شیخ محمد بن عبد الوهاب نجدي) دعلمي کورنۍ په ملتیا د"المملکة العربیة السعودیة" په نوم دیو خورا مستحکم سلطنت اساس کیښود.

له هغه مهال وروسته په المملکة العربیة السعودیة باندې د دال الشیخ دعلمي او معنوي ملاتړ په بدرګه دپاچا عبد العزیز ځامن بې له شریک نه حکومت لري.

له شک پرته په اسلامي نړۍ کې دسعود شاهي کورنۍ په اړه دوه دوله نظرونه شتون لري، یوه ډله خلک دنظام او حکومت، شریعت ته د درناوي لرلو په صفت کې له زیاتې مبالغې کار اخلي او بله ډله بیا مطلقاً دهغوی له ټولو ښو کړو وړو څخه یوم انکاري ده، ښکاره ده دغه دواړه نظرونه پرځای نه دي، نه دسعودي پاچایان یومخ نیکان، دمسلمانانو غمخوار او همدرد او ټوله معنی د اسلام او شریعت دحکمونو ته پابند دي او نه یومخ ددین، شریعت نه یومخ بیزار او دمسلمانانو له ستونزو بې پروا دي، څنګه چې دځینو خلکو نظر دی

بلکې که څېر شو په نسبي دول سعودي سلاطینو دنورو اسلامي هېوادو د چارواکو په نسبت یوشمیر داسې کارونه ترسره کړیدي چې

دهغو له امله واقعاً دشابسې وړدي، په خاصه توګه دال شیخ کورنۍ په مرسته چې د حکومت دننه یې څه ناڅه دیني پاتې دی، دپاچا عبد العزیز دځامنو هریو شاه سعود، شاه فیصل، شاه خالد، شاه فهد او شاه عبد الله دواک دورې که په مجموع کې وارزول شي نود دنیوکو او شکایتونو باوجود داحقیقت دی چې په ځینو برخو کې هغوی ارزښتمن ګامونه پورته کړیدي

له دې پلوه چې په دغه هېواد کې داسلام دوه لوی مرکزونه "حرمین شریفین" هم راځي، ددغو یادو سلاطینو په ټولو دورو کې یې دترقۍ او پراختیا چارې پرته له څند په خورا زیاته جذبه او محبت ترسره شوي دي او په باب غفلت او کوتاهي نده شوي

تر ځایه چې شرعي قوانین یې هم نافذ کړیدي، دهغو دله منځه وړلو په لړ کې د بهرنیو لخوا فشارونو ته غاړه نده ایښې او دقرآن او سنت په عملي کولو کې په نسبي توګه ګامونه اخیستي.

دحج او عمره کونکو لپاره یې ګڼ شمېر اسانۍ راوستي دي، او دیو ډېر منظم او محکم نظام لاندې هر کال په ملیونونو خلک هلته ور ځي، بېرته راځي، دهغوی ټولو لپاره یې منظم پلانونه جوړ کړیدي، دو دول اسانتیاوې یې ورته په پام کې نیولې که نننۍ حالت دیوې پېړۍ وړاندیني حالت سره مقایسه شي نو ترمنځ ډېر زیات توپیر او بدلونون لیدل کېږي.

دنړۍ په مختلفو هېوادو کې دافتونو او حادثو راتلو پرمهال یا دمسلمانانو دستونزو کمولو دمرستو رسولو لړ کې دسعودیانو مرستندویه کردار دهریل اسلامي او غیر اسلامي هېواد په مقابل کې مثالي بڼه لري.

په ځانګړې دول کله چې شوروي په افغانستان یرغل وکړ، په هغو ورځو شپو کې دسعودي لخوا دافغانانو لاس نیوی، او دمجاهدینو داکمال په برخه کې مرستې دتاریخ په یاد کې شته

هم دا رازیې خپل هېواد سعودي عربستا ن کې غښتلی او مثالي امنیت راوستی، او د خپلو هېوادوالو لپاره یې دژوند په ټولو برخو کې ګرانبیه خدمتونه او دول دول اسانۍ رامنځته کول له شک پرته دښې حکومتدارۍ زېرنده کېدای شي، بیا په خاصه توګه دحرمینو شریفینو په حدودو کې مثالي امنیت نیول، مقرارت جوړول، دنړۍ څخه دورتلونکو ملینونو خلک امنیت نیول اسانه خبره نده، بلکې ډېر پیچلی او له ستونزو دک مسئو لیت دی، چې پکې سعودي واکمن بریالي پاتې دي په وروستیو کلونو کې دټولو فقهي مذهبونو سره یوشان چلند غوره کول هم ارزښتمن ګام دی چې له امله یې دنړۍ په علمي حلقو کې هغه تشویش څه نه څه رفع شوي چې یومهال هلته دځیني فقهي مسایلو په اړه ډېر افراطیت کیده، په دې لړ کې دسعودي واکمنو لپاره نوره توجه هم پکارده.

داسمه ده چې ددغو یادو پاچایانو په دورو کې یوشمېر داسې کارونه هم ترسره شوي دي چې هغوته هیڅکله پرځای نشي ویل کېدای، او په اړه یې نړۍ کې مسلمانان نیوکې او ملاحظات لري، او هم په ځینو مواردو کې دسعودي واکمنو کړه وړه قناعت بښونکي ندي، خو که دنورو اسلامي هېوادو دچارواکو لکه دمصر حسن مبارک او دتونس زین العابدین او نور.... شول دهغوی په نسبت دسعودي پاچایان ځیني خوبۍ لري او هغوی وجود دمسلمانانو لپاره غنیمت دی.

اوس چې دشاه عبد الله وروسته دهغه میرنې ورور شاه سلمان دپاچا په توګه لوړه کړیده، مسلمانان دهغه نه دښو کارونو توقع کوي خدای دې وکړي چې هغه دمسلمانانو دمصالح لپاره خیرخواه پاچا ثابت شي او مسلمانانو ته په وړپېښو ستونزو کې څنګه چې حق او اړتیا ده هغسې ګامونه واخلي او هم ترمنځونو یې دوحدت او یوالي په لړ کې خپل ټول فرصتونه او صلاحیتونه وکاروي!

لیکوال: محمود احمد نوید

اشرف غنی به دنبال فریب افکار جهانی

اشرف غنی که حکومت نیمه و ناقص خود را مدیون باداران خارجی اش است یکبار دیگر با حیله گری و ترفند، در طی سخنانی به مناسبت پنجاه و یکمین کنفراس (به اصطلاح) امنیتی بین المللی در شهر مونشن جرمنی افکار جهان را به سوی تداوم اشغال و جنایت صلیبی ها در افغانستان سوق داد و از آنها خواستار توجه جدی تر نسبت به افغانستان شد تا به قول خودش دیگر بار افغانستان مرکز تجمیع افراط گرایان اسلامی نشود و جهان از خطر افغانستان مصئون بماند.

شکی نیست اشرف غنی و باداران خارجی حالا پس از شکست قاطع شان در افغانستان به دنبال توجیه شکست خود هستند و تجاوز غیر قانونی خود در افغانستان را بر بنیاد تحلیل های غیر صحیح و غیر موجه استوار می سازند؛ آنها خوب می دانند که پس از حدود چهارده سال حضور شوم در افغانستان، به هیچ دست آورد مطلوبی دست نیافته اند و برای ماندن بیشترشان نیز هیچ توجیه دیگری برای شان باقی نمانده است؛ اما مشکل شان اینجاست که برای شکست خود چه نامی انتخاب کنند در حالیکه از اوائل تهاجم شان مدام مقصد جنگ در افغانستان را به اسم ها و عناوین مختلف تعویض و تبدیل کردند که خوشبختانه تمام مکاید دشمنان خنثی شد و مردم شریف افغانستان و جامعهٔ آزاد و آگاه بین المللی بالاخره به این نتیجه رسیده که امریکا و ائتلاف شوم بین المللی (کشورهای فریب خورده) هر کدام از خود نیات و اهدافی داشتند که هیچکدام شان به خاطر طولانی شدن جنگ افغانستان بدانها نرسیده و اکنون هر کدام به نوعی از جنگ افغانستان دلسرد و نومید گشته اند و با این وجود بازهم بخاطر کم عقلی و عدم درایت سیاسی شان هرگاه که به سخنان اجیران حلقه به گوش خود امثال اشرف غنی گوش فرا می دهند وسوسه می شوند که بیشتر در افغانستان بمانند و بیشتر در این کشور جنگ زده سرمایه گذاری های هنگفت مالی و نظامی بنمایند تا بلکه به گمان غلط شان از خطر پیشروی حرکت های آزادیخواه اسلامی در سطح جهان مصئون مانده و به اصطلاح کشورهای شان از خطرات احتمالی گروه های اسلامی در امان بمانند.

یکی از مشکلات اصلی غرب و اروپا اینجاست که نمی دانند و یا به خود نمی آورند که چوب این همه بلا و مصیبت که خواب را از چشم سران آنها ربوده، آرامش را از وجودشان سلب کرده و امنیت را از شهر و کشورهای شان گرفته از کجا می خورند، آنها نه در عملکرد ضد بشری شان توجه دارند که

چگونه سرزمین های اسلامی را به بهانه های مختلف به خاک و خون کشیده و هزاران انسان بی گناه را هدف بمب و خمپاره های آتشین و فاجعه آور خود قرار داده اند؛ و نه هم به نوع ادبیات زشت سیاسی و اتخاذ مواضع کینه توزانه و مشمئز کنندۀ خود توجه می کنند؛ در واقع غرب و اروپا با متهم نمودن خاورمیانه و کشورهای اسلامی به اسم ها و عناوین مختلف که مسلمانان را تحریک و خشمگین می سازند و با بکار گرفتن از زبان زور و استفاده از ابزار نظامی به بسیاری از نا امنی ها در سطح جهان دامن می زنند؛ آنها وقتی می دانند در جریان سیزده سال گذشته جنگ افغانستان و دیگر ممالک اسلامی بر اساس سیاست های مغرضانه، یکجانبه و بسیار غلط یکسری انسان های روانی و مشکل دار شکل گرفته و باید هر چه سریع تر دست از تداوم خشونت و تجاوز به اراضی مسلمین بکشند؛ بیشتر به سخنان چاپلوسانۀ غلامان حلقه به گوش و یک مشت انسان های وطن فروش گوش می دهند و بجای آنکه از فکر و اندیشۀ سیاسی خود کار گرفته و به دنبال راه و چارۀ اساسی باشند؛ با اتخاذ یکسری تصمیمات احساساتی بر آتش جنگ و تداوم آن می افزایند و خود قصدا مقصر، تمام جریاناتی اند که در جهان معاصر رقم می خورند.

اشرف غنی که تا هنوز نتواسته خود را منحیث یک رئیس قابل اطمینان برای شرکت سهامی در افغانستان و یک شریک قابل اعتماد برای باداران خارجی اش ثابت بسازد و تا اکنون در تشیکل کابینه اش با شریک قدرتش عبدالله در چانه زنی های سیاسی و معامله گری های فضیحت بار به سر می برد یکبار پیشتر نیز از امریکا و جامعۀ جهانی با اصرار فراوان خواسته بود که در کشیدن نیروهای محاربوی شان از افغانستان تجدید نظر کنند و شرایط افغانستان را مد نظر داشته باشند و در نزد خارجی ها طوری وانمود می کند که گویا دلسوزشان است و هدفش اینست که با رفتن خارجی ها به اصطلاح افغانستان دیگر بار مکانی برای تهدید امنیت جهانی بدل نشود؛ ولی حقیقت اینست که این سخنان وی کاملا دروغ بوده و او بیشتر به فکر حفظ حکومت نیمه و ناقص خودش است و خوب می داند که اگر همین فردا کل نیروهای خارجی از افغانستان بروند و تمام همکاری های شان را با حکومت وی قطع نمایند؛ او باید از میان دولتمردان ادارۀ اجیر نخستین کسی باشد که از افغانستان فرار را بر قرار ترجیح داده و در جای دیگر برای خود سراغ زندگی می گیرد؛ از اینرو، حالا که تبلیغات رسانه ای دشمنان بالا گرفته و دوباره افغانستان را در ذهن جهانیان به تبدیل شدن به مکانی خطرناک تر از ۲۰۰۱ م تبلیغ می کنند اشرف غنی نیز از فرصت استفاده کرده و از سر دلسوزی به باداران خود توصیه به ماندن بیشتر در افغانستان می کند و علیه مجاهدین قهرمان وطن به لب گشایی های بی مورد می پردازد؛ اما واقعیت این است که اشرف غنی در حال جان کندن است و با این دست و پازدن های مظلوم نمایانه می خواهد یکبار دیگر دل ظالمین زمان را به رحم بیاورد تا بلکه بیشتر در افغانستان بمانند و بیشتر از گذشته به جرم و جنایت های ضد بشری شان ادامه بدهند در حالیکه خارجی ها خود بر منافع شان غور می کنند که چه تصمیمی بیشترین مفاد و کمترین هزینه را در جهت تحقق اهداف شوم و پلان های ضد اسلامی و ضد انسانی درازمدت شان در افغانستان و خاورمیانه دارد و بلافاصله همان تصمیم را اتخاذ می نمایند.

یمن کې دحوثي یاغیانو بری!
او دیمن راتلونکې!

اتل

په یمن کې دتیر (۲۰۱۴) زکال ستمبر میاشتې راهیسي دوامداره روان دحوثي یاغیانو پاڅون با لاخر ددغه هېواد په واک قبضه ترلاسه کړ، حوثي یاغیانو دیمن پخوانی پارلمان منحل کړی اودهغه په ځای یې دعبوري پارلمان رامنځته کولو اعلان کړی دی.

دغه باغي پاڅون په دسمبر میاشت کې دیمن پلازمېنه "صنعاء" او په جنوري کې دولسمشرۍ ماڼۍ ونیوله، دالعربیه خبري سرچینې دخبر په اساس: دجمعې په ورځ حوثي یاغیانو دیمن دتلویزون څخه اعلاوکړ، چې ددوئ د۵۵۱غړي به دولسمشرۍ چارو کمیسیون ټاکلو لپاره پنځه غړي غوره کوي! چې هغوی به تر دوه کلنې مودې پورې دهېواد حکومتي چارې پرمخ بیایي.

حوثي یاغیان چې دایران ملاتړ له ځانو سره لري، سخت دریځه شیعه ګان دي، ددغې ډلې دانقلابي کمیټې مشر "محمد علي الحوثي" دیمن دعبورې دورې دحکومت مشر ټاکل شوی ، دالعربیه له قوله: محمد علي الحوثي، دحوثي قبیلې دمشر "عبدالمالک الحوثي" ته د نژدې کسانو څخه دی.

کله چې په ستمبر کې دحوثیانو لخوا دیمن حکومتي دفترونه او ودانۍ ونیول شوي، هغه(محمد علي) دانقلابي کمیټې دمشر په حیث ونومول شو، دالعربیه په وینا: حوثیانو دیمن ټول جګ پوړي چارواکې او ماورین له رسمي دندو څخه ګوښه کړیدي او هم یې دیو شمېر چارواکو پرضد دفساد او خیانت په تور د دوسیو جوړولو ترڅنګ دځپلو ځینو سیاسي مخالفینو په وژلو او دهغوی په ځپلو لاس پورې کړی دی، چې له دې امله دیمن څخه زیات شمېر مخور شخصیتونه او مشران سعودي عربستان او نورو هېوادو نوته مها جر شوي دي. او دځینو په غیاب کې حوثیانو دهغوی پرضد دوسیې محکمو ته لیږلي او هغوی یې دهېواد سره دخیانت کولو په تور یې تورن کړیدي.

دالعربیه په قول: د حوثیانو لخوا دانقلابي کمیټې مشر غوره شوی محمد علی الحوثي دایران سره خاص اونیږدې اړیکې لري، دهمدې اړیکو درلودو په وجه ورته د انقلابي کمیټې دمشرتابه دنده ورکړل شوې، څوک چې په یمن کې دحوثي یاغیانو لخوا دوسلوال جنګ شروع کولو څخه وړاندې د ایران په ملي ګارډ کې لوړ رتبه صاحب پاته دی، کله چې په ۲۰۰۴ زکې یمن کې وسله وال جنګ پیل شو په ترځ کې یې هغه ونیول شو،او محبس ته ولیږل شو، له محبس نه دخلاصون وروسته په ۲۰۱۰ ز کې بیا ونیول شو، دبند مودې تیرولووروسته ازاد شو.

دالعربیه په راپور:په قدرت دمنګلو خښولو لپاره حوثیانو دټرلو دروازو ترشاه یوه غونده جوړه کړیوه،

کومې ته يې چې ديمن دپخواني معزول پاچا علي عبد الله صالح ته وفادار سياسي او پوځي چارواکې هم وربللي وو، او پخوانی معزول ددفاع وزير يې هم، ليکن وروسته پخواني دفاع وزير وويل چې هغه تـه دحوثيـانو بغـاوت دمنلو ورنډی، بلکې حوثيانو هغه په زور اوجبر لـه کـوره يادې غونډې ته ددې لپاره بيولی و ځو په لالچ او پـه ډار ولو سره هغه دحوثي بغاوت منلو ته قانع کړي،خوبريـالي نشول

ښکاره ده چې ديمن ولسمشر هادی منصور عبد ربه او صدراعظم خالد بحاح په ستمبر کې مستعفي شوي وو کله چې دصنعاء ښار ټولې مهمې ودانۍ او دفترونـه حوثيان و ونيول اوبيا يې وروسته دولسمشرۍ مانۍ هم ونيوه او ولسمشر يې پخپل کور کې کلابند کړ،بيـا حـوثي باغيانو ديمن ټولو ګوندوته تر يوې اوونۍ پورې دواک دچـارو جوړولـو پـه اړه يـو ضرب الاجـل تـاکلی و ، خـو داچې ديمن سياسي ګوندو نـو تـه دحوثيانو لخوا شوی بغاوت دمنلو ورنډی نو دحکومت په جوړولو ځوک سلا نشول، وروسته حوثي ياغيـانو لـه خپلـه اړخـه دا اعـلان وکړ، چې ديمن پارلمان منحل دی، او د راتلونکو دوه کلو لپاره دوئ د واک لپاره يوه عبوري شورئ تشکيلوي.

دالشرق الاوسـط ورځپـانې پـه وينـا: ددې وروسـته دحوثي ياغيانو بل ګـام بـه داوي چـې هغـوی غـواړي پـه يمن کې لکه دايران پشان دشيعه عقيدې پخوانی نظام اماميـه زيديـه راولي، کـوم اماميـه زيديـه چې پـه ۱۹۱۸ زکې دعثماني خلافت دسقوط وروسته رامنځته شوی و، چې زيـات کمـزوری اوبې وسـه حکومـت و، چې بيـا پـه ۱۹٦۲ زکې دستمبر پـه ۲٦ مـه نيتـه وپرځـول شو. او پـه ځای يې دخلکـو عـوامي انقلاب واک ترلاسـه کـړ، دشرق الاوسط ورځپانې له قولـه:پخواني معـزول ولسمشرـ علی عبد الله صـالح هـم دحوثيـانو سره همکـارو، داچې هغـه ديرش کاله واکمن پاتې دی،نوپه پـوځ او دحکومـت پـه کليدي ځوکيو کې ډير نفوذ لري، ټول مهم چارواکې يـې دحوثيانو سره همکاری ته بللي وو، خو کله چې حوثيـانو په واک باندې دمنګلو خښولو ته وروسته هغه علی عبد الله صالح ځنډې تـه کـړ، او پـه ټولـو مهمـو پوسـتونو يې خپل خلک وګومارل،نوله امله يې علي عبـد الله صـالح نـه خپل ملاتړې دومره خوابدي شول چې علنـي ورتـه بـدې ردې وايي، په دې وجه علي عبد الله سخت ټکان وخوړو، دخبرې راپورونو له مخې حـوثي شيعه ګـان چې ځانونـه داماميـه زيديـه وارثـان بـولي، دهغـوی قـوي مـر کـز پـه "صـعده" کـې دی، يمـن کـې دنـوييمې لسيزې راهيسيـ شيعه ګان هغه مهال ډېر پيـاوړي شـول، چـې کلـه يـې "الشباب المومن" په نوم په تعليمي، ادارو کـې دعـوتي چارې پيـل کـړی، اولـه دې لارې يـې لـوی شـمېر ځوانـان سره مله کړل، بيا په ۲۰۰۴زکال کې يې دحکومت پرضـد وسله وال جنګ پيـل کـړ، د۲۰۰۴ څخـه تـر ۲۰۱۱ پـورې يـې دعـلي عبـد الله صـالح دحکومـت پـه ضـد خـونړي جنګونه وکړل، په ۲۰۰۹زکې دسعودي عربستان له وسله والوځواکونو سره هم جګړه وکړه هم دا راز دالقاعـده سره يې هم څو ځله جنګونه پيښ شوي دي، خو هرځل يې له ځان دفاع کړيده، دايران دملاتړ پرتـه دلبنـان دحـزب الله لخوا يې هم کلک ملاتړ کېږي، دالجزيـره پـه وينـا: ددې وروسته ديمن په مختلفو ولايتونو کې دحوثيانو دبغـاوت په ضـد لاريونونـه وشـول او خلکـو دحوثيـانو دواک منلـو څخه انکار کـړی دی او هـم دهغـووی سره دجنـګ لپـاره دوسلوالو ځواکونو په راتـولو لـو بوخـت دي، ښـکاري پـه دې سره به يمن يوځل بيا دلويو جنګونو تود ډګر شي.

Shahamat

د هډې د مولانا نجم الدين اخندزاده ـ مسجد